میاشتني

حریت

داسلامي انقلاب د اهدافو خپروونکي



نظام شورایی بهترین نظام
برای جوامع است .
حسن ترابی ،

«خالص» صاحب
ولي د شعر په
ژبه غږیږي ؟





نامه سر گشاده به محضر
استاد «رباني»

حکمتیار ولي
وارخطا ندي ؟

د استاد سیاف په دریځ کي
وزن دي خو ...

په آزاد خوست کي دمجاهدینو
د اداري جوړيدل

ما له قاهرشاه سره تر اوږده ملاقات
وروسته پیر گیلاني ته وویل ...






د ژنیو ترون څنگه لاسلیک شو ؟

الهي ارشاد

اواي نبي ! موږ تاته دا کتاب درلیږلي چي په حقه راغلي دي او له کتاب څخه چي څه دده په وړاندي موجود دي د هغو رښتیني کوونکي او د هغو ساتونکي او محافظ دي . نو له دي امله ته د خلکو ترمنځ د خداي له نازل کړي قانون سره سمي فیصله کړي ، او کوم حق چي تا ته راغلي دي له هغه نه په مخ اړولو سره د هغو د غوښتنو پیروي مه کوه .

موږ له تاسي نه د هر یوه لپاره یو شریعت او یوه عملي تګلاره ټاکلي ده؛که څه هم ستاسي خداي غوښتي واي نو تاسي ټول یي یو امت هم جوړولاي شواي ، خو هغه دا ددي لپاره وکړل چي څه شي یي چي تاسي ته درکړي دي په هغه کي مو وازمایي . نو په غوره چارو کي یو له بل نه د وړاندي کیدو هڅه وکړي په پاي کي ستاسي ټولو د خداي لوري ته ورګرځیدل دي ، بیا به هغه تاسي ته اصلي حقیقت چي تاسي پکي اختلاف کوي دروښیي .

نو اي محمده ! ته د الله له نازل کړي قانون سره سم د دي خلکو د چارو فیصله وکړه او د هغو د خواهشاتو پیروي مه کوه؛پام کوه چي دا خلك تا په فتنه کي ونه اچوي ، یوه ذره قدري دي هم له هغه هدایت نه اوښتي ونه مومي چي تا ته خداي درلیږلي دي . نو که دوي در څخه مخ واړوي؛ الله د دوي د ځینو ګناهونو د مجازات په توګه په غم کي د دوي د لتاړولو اراده کړي ده . او دا حقیقت دي چي له دي خلکو نه زیاتره فاسقان دي (که دوي د خداي له قانون څخه مخ اړوي) نو آیا بیا د جاهلیت فیصله غواړي ؟ پداسي حال کي کوم خلك چي پر الله باور لري د هغو په نزد له الله نه بل غوره فیصله کوونکي هیڅ نشته .

المائده – ۴۸-۵۰ آیتونه

ديزاين و کمپوز :
غازي ليزر کمپوز
محمد کريم «جليلي»

بسم الله الرحمن الرحيم

میاشتنی

حریت

داسلامي انقلاب داهدافو خپروونکی

دليکوالو دشورى ترنظر لاندى
سر محرر: محــمد نذير« بشارت »

لومړي کال - نهمه گنه - د ۱۳۷۰ هـ.ش دکب میاشت

د دي گنې مطالب

۱- سرمقاله .... « ۲ »
۲- دموکراسي در عمل .... « ۵ »
۳- د پاکستان سیاست ولي واوښت؟...... « ۹ »
٤- نظام شورایی بهترین نظام .... « ١٤ »
٥- د استاد سیاف په دریځ کي .... « ١٨ »
٦- نامه سر کشاده عنواني .... « ۲۱ »
۷- په څوشنناکي .... « ۲۸ »
۸- برژنیف چگونه .... « ۳۱ »
۹- یو سفرنی .... « ۳٥ »
۱۰- تدوین قانون اساسي .... « ٤٠ »
۱۱- د ژنیو تړون څنگه .... « ٤٢ »
۱۲- دوي غازیان - .... « ٥٦ »
۱۳- لینن و ستالین دو دزد .... « ٥٧ »
١٤- ژور گړنگونه .... « ٦١ »
١٥- چاقي چیست .... « ٦٥ »
١٦- سور سهار تور .... « ٦٨ »
۱۷- ستراتیژي و تکتیک .... « ۷۱ »
۱۸- خالص صاحب .... « ۷۲ »

بانکی پته

اکاونټ نومره (۷۰١٤)

عمان بانك لمیتد پشاور پاکستان

مؤقت پستي آدرس :

میاشتني حریت، پوست بکس - ۷۰٦

یونیورستي ټاون، پیښور .

دگڼون بیه :

کلني په پاکستان کي (۸٥) کلداري

په اروپا اوامریکا کـي (۳۰) ډالره

په عربي هیوادونوکي (۷٥) رياله

دیوي گڼي بیه په پاکستان کي (۷) روپي یادهغه معادل

دمحصلینو اومتعلمینو له پاره نیمه بیه

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

د شکرانې او حقیقي انقلاب ورځې

روژه یوازې د عبادت او تقوي میاشت نه ده بلکي د الله «ج» د یوه ستر او عظیم نعمت په وړاندې د شکراني په ځانګړي میاشت هم ده،د هغه هدایت د نعمت چي الله «ج» د قرآن په بڼه موږ ته رالیږلي دي . د دې عظیم نعمت د شکراني دا ادا کولو او د هغه احسان د اعتراف تر ټولو غوره شکل فقط داکیداي شي چي مسلمان د هغه دهغو اهدافو د پوره کولو لپاره ځان ښه جوړ او چمتو کړي د کومو لپاره چي دا نعمت ور په برخه شوي دي .

الله «ج» ، عظیم الشان قرآن موږ ته د دې لپاره رالیږلي چي د هغه د رضا او خوښي لارو پیژنو، پر هغې ولاړ شو ،نوري نړۍ ته یي وروپیژنو او پر هغه یي دروانولو مبارزه وکړو.

دې ستر کارته زموږ د چمتو کیدو بهتر ینه لار روژه ده ، د پیغمبر صلي الله علیه و سلم له مبارك قول سره سم د روژې لومړی لسیزه د رحمت او دوهمه یي د بښني او دریمه یي د جهنم له عذابه د نجات وسیله ده٠دا به ډیره افسوسناکه اود دردونکي وي چي له هغه ټول جلال او عظمت سره چي پدې وسیله کي پروت دي، او له هغه شاندار بري سره چي داوسیله یي را په برخه کوي، هغه ضایع کړو.نن چي مسلمانان له کومو پریشانیو او کړاوونو سره لاس ګریوان دي د هغوي یو اساسي عامل د اسلام له روح څخه پردي کیدل دي .

نن چي زموږ جهاد له کومو بحرانونو او جنجالونو سره مخامخ دي ، څوك انكار كولاي شي چي د نورو عواملو ترڅنګ یي یو بنیادي علت په موږ کي تر ډیره بده حده د تقوي کمزوري هم ده .

لوي خداي «ج» دې موږ ته همت او توفیق راکړي چي دتقوي ، تزکیي ، تربیي، احتساب ، او په خپل نفس کي د حقیقي انقلاب راوستو پدې بختوره میاشت کي د الله «ج» له رحمتونو او مغفرتونو څخه خپلي لمني ډکي کړو او له یوه مومنانه عزم سره د داسي ژوند په لوري او د هغه انقلاب خوا ته پیشقدم شو چي اسلام یي حکم او غوښتنه کوي، هغه چي په ریښتیاني مفهوم ژوند ته معني او جهت وربښي او له هغه پرته د انسان د سعادت او فلاح تصور هم نشي کیداي .

د نجيب نوی اعلان

د حوت په ۲۸ مه د کابل د مزدور رژیم رئیس ډاکټر نجیب په خپله یوه اعلامیه کي اعلان کړه چي « په هغي افغاني جرگه کي به چي د ملگرو ملتو د سرمنشي بطروس غالي په میزباني جوړیږي، په خپل گډون ټینگارنه کوم او پدي غونډه کي چي کوم انتقالي حکوت جوړشي په هماغه لومړي ورځ به اجرایي قدرت ورته سپارم ».

نجیب خپله دا خبره د هغه تعهد نتیجه وبلله چي د بطروس غالي او د افغانستان د خلکو په وړاندي یي کړي !!

هغه داهم وویل چي" زه د خپلو خلکو گټي تر شخصي گټو لوړي گڼم او له نور و هم همدا توقع لرم !»،

بهر هم هغه حلقي چي د نجیب پلوي کوي او له مجاهدینو سره مخالفت لري ، د نجیب اعلان د هغه د هیواد پالني له روحیي څخه را ولاړ شوي اقدام تبلیغوي . خو موږ له نجیب او د هغه له بهرنیو پلویانو پوښتنه کوو چي هغه څوک چي په تیرو څوارلس کلونو کي پر له پسي او په ډیر شدت د خپل وطن په ضد ولاړو ، د روس د بي رحمو او خونریزو لښکرو سره اوږه په اوږه د خپل مظلوم ملت په وژلواو بي عزته کولو لگیا و ، د وطنفروش کمونیست گوند غړي و ، د «کي ، جي ، بي» د جهنمي دستگاه ډیر پلیت او بد نام جاسوس و ، د خاد د رسوا شبکي رئس و ،هغه شبکه چي د جنایت هیڅ داسي ډول نشته چي د روسانو د خوشحاله کولو لپاره یي زموږ د محروم ملت او گران وطن پر ضد نه وي کړي، نجیب مستقیماً او حتي په خپل لاس د زرگونو هغو افغاني شازلمو د بي رحمانه قتل مجرم دي . چي د خپل وطن د آزادي لپاره پورته شوي وو ، د زرگونو هغو مسلمانانو افغانانو دوحشتناکو شکنجو او روانسوزي بي عزتي د ډیر سخت جنایت باریي په اوږو . دي چي جرم یي دا و چي روس او کمونیزم یي نه مانه، څنگه کیداي شي د وطنفروشي، بي شرمانه مزدوري،فساد ، بي رحمي او پلیتي دا بدترینه څیره دي یو ناڅاپه وطندوست او ملت پال شي؟ آیا د داسي یوه څیري له خولي دا خبره راوتل چي هغه د خلکو په وړاندي تعهد لري او د خلکو گټي ترشخصي گټو لوړي گڼي په سالم عقل او ضمیر باندي د منلو وړ او هلو پرته بل څه کیداي شي؟ واقعیت دا دي چي نجیب ښه پوهیږي چي د سیوان ماموریت او د ملگرو ملتو دطرحي هدف د مجاهدینو دحکومت د جوړیدو مخنیوي دي اوخومره چي عملي او ممکنه وي د ده او د ده د گوند گټي خوندي کوي .

نجیب هم په سیوان اعتماد لري، هم یي پدي باور دي او عملاً یي محسوسوي چي دسیوان د طرحي او ماموریت تر شا پروت زوروور طاقت اوس په هیڅ توگه نه یواځي د ده بدخواه نه دي، بلکي حامي او موید یي دي .

هغه د سیوان په طرحه کي د ځان او خپل وطنفروش گوند لپاره پوره مصئونیتویني، هغه څه چي نجیب ته د ملگرو ملتو په طرحه کي ور په برخه کیږي ، فکر نه کوو چي نجیب دي دومره احمق وي چي تر هغه دي د زیات څه تر لاسه کولو توقع ولري .

په همدي وجه ده چي که نجیب د نوموړي طرحي په رابطه هر څه کوي،نه باید غیر منتظره وبلل شي او نه د کومي حیراتتیا وړ .

تر کومه چي د ملگرو ملتو د سرمنشي له خوا په دا پریدونکي افغاني جرگه کي د نجیب د گډون خبره ده نو داخو باید ټولو ته د پیشبیني وړ وي چي دجرگي تر جوړیدو د مخه به نجیب دا اعلان کوي چي په هغي کي به په برخه اخیستو ټینگار نه کوي ځکه سیوان پوهیږي چي که دا کار ونکړي حتماً به د"بن" د کنفرانس تجربه تکراریږي ، که

نجيب اعلان نه ولي كړي حتي هغو تنظيمونو ، خلقو او اوشخاصو هم چي اصلاً اوس له نجيب سره د روغي جوړي په باب هيڅ مشكل نه ګوري نشواي كولاي د ملت د ذهنيت په پام كي نيولو سره په جرګه كي ګډون ته زړه ښه كړي واي، نو دا خبره ځرګنده وه چي نجيب به په نوموړي جركه كي د خپل نه ګډون اعلان كوي او دا د پاكستاني مسؤلينو له ځرګندونو هم روښانه وه .

انتقالي حكومت ته د اجرائيوي قدرت د سپارلو له اعلان سره به په اوسني مرحله كي د دسيوان طبعاً دلچسپي وه ، پدي چي دا خبره په سياسي تبليغاتي لحاظ د ده ماموريت قوي كوي او د ده د پروسي مخالف ځواكونه تر فشار لاندي راولي خو نجيب كه مجبور شوي نه واي شايد په اوسني پړاو كي كي بي د دو اړو قدمونو اخيستو ته زړه نه واي ښه كړي ځكه نجيب د دي تر ځنګ چي د ملكرو ملتو د طرحي په تطبيق كي خپلي ګټيويني ، د دي هڅه يي هم كوله چي كه ممكنه وي د دي ماموريت تر خوا يي د خپل اقتدار موده هم لږه اوږده شي، خو په مزار شريف كي د مجاهدينو پوځي بر مختګونو ، د كابل د كلابندي لپاره د جهادي ا حزابو تحرك او په شمال كي د مليشي د قوتونو قيام او مخالفت دي تلوار ته مجبوركړ . د نجيب اعلان كه نور هر څومره اړخونه لري ، دا بعد يي مسلم دي چي تر يوه حده د مجاهدينو د موضع او سياست يو اخلاقي بري او د معقوليت بل دليل دي، د نجيب دي اقدام دا خبره ښه تقويه كړه چي مجاهدين برحقه وو چي د هغه لري كيدل يي د بحران د حل د هڅو حتمي شرط ګاڼه او له هغه سره يي خبرو اترو ته كيناستل غير عملي بلل. خو د دي ترځنګ د جهادي احزابو مشران په تيره حكمتيار، استاد سياف استاد رباني ، مولوي خالص او آيت الله محسني په يوه نوي ازمويښت كي اچوي .

پدي چي كه د نجيب دااقدام هرڅومره د دي وړندي چي د قضيي په حل كي د ي پري جدي حساب وشي او كه هر څومره د يوي معاملي برخه ده، اوس په ټوله نړي كي په ډير قوت د قضيي په حل كي د يوه مثبت انكشاف په توګه تبليغ شو او تبليغيږي او داسي ښه وركوله كيږي چي كه اوس هم مجاهدين سختګيري كوي نومسؤليت به د هغوي په غاړه وي .

ځيني خاص طاقتونه په ډير شدت تبليغات كوي چي ذهنيتونه داسي جوړ كړي چي كه مجاهدين بيا هم په پخواني ښه او مستوي د سياسي حل مخالفت كوي نو خبره د هغوي په سياسي اواخلاقي تجريد تمامه شي .

په همدي وجه ده چي موږ فكر كوودا په يو ډول زموږ دپاس ياد شويو رهبرانو لپاره يو ازمويست دي، هغوي ته په كار ده چي په ځانګړي حكمت او هوښياري له داسي خبري او موضوع سره راوراندي شي چي هم خپل اصول وساتي او هم دښمنان په سياسي او تبليغاتي لحاظ بي وسلي كړي .

غرب ظاهرشاه نه ددي لپاره غواړي چي واقعاً جګړه پاي ته ورسوي اونه ددي په خاطر چي زموږ دولس ستونزي حل شي بلكي غواړي له دي لاري مسلمان ملتونه مايوس كړي . دجهاد لار نيمګړي لاروښيي اوهغه رحجان چي داسلام اومجاهد روش ته دراګرزيدو لپاره په امت كي پيدا شوي وټكوي اوپرينږدي چي يو داسي حكومت جوړ شي چي دمبارزينو دوينو محصول وي اودهغوي دلاري اوهدف پالونكي . دادهغوي لپاره ډير ستر اهداف دي .

دموكراسي در عمل

حبيب الله

آنجا كه انسانيت مسخ شده وهيولاي سرمايه انسان رابه ابزاركارتبديل نموده فرهنگ انساني مفهوم عاطفه و احساس را از دست داده است آنهم در حديكه انقلابيون دموكرات اوليه خود نيز نميدانستند كه حكومت ايده ال شان در سيررشد خود انسان را تا اين سرحد بيگانه از خود خواهد ساخت . دموكراتهاي اوليه كه در برابر استبداد مشترك فئودال ها و كليسا بپاخاسته بودندتصور مينمودندكه آزادي انسان مظلوم از قيد فئوداليسم ممكن نيست مگر اينكه انسان خود رااز بندگي خدا نجات بدهد ، بدين ترتيب آنان به اميد ايجاد جامعه اخوت انساني در برابر فئوداليسم و پايگاه اعتقادي آن كليسا قيام نمودند و توانستند نه تنهاخود را از قيد فئوداليسم وكليسا نجات دهند بلكه رابطه خود را با خدا نيزقطع نمايند . با بغاوت از خداي واحد و لا شريك شرف انساني خود راباختند و هر روز تابع خدايان جديد ميشوند و هر چه درين راه پيش ميروند بيشتر در لجنزار بدبختي غرق مي گردند .

از معني لغوي و تعريف دموكراسي بر ميايد كه دموكراسي عبارت از حكومت مردم بر مردم است يعني اينكه هيئت دولتي بدست نمايندگانيكه به اراي مردم انتخاب ميشوند تعيين مي گردد و بدين ترتيب تصور ميشود كه همه مردم از مزاياي آزادي وعدالت اجتماعي برخوردار گرديده اند. در حاليكه حكومت دموكراسي عملاً مانند هر حكومت ديكر داراي دو جنبه عمل است اگر از يكطرف بر ازادي هاي مردم و حقوق بشري تكيه ميكند از سوي ديگر بمنظور حفظ بقاي خويش اعمال ديكتاتوري مينمايد . بناءً هر دولت دموكراسي را بپهلوي ديكتاتوري مشاهده ميكنيم .

سرمايه را بسته بود . سرمايه كه با شعار آزادي و دموكراسي توانسته بود مردم تحت ستم را بدور خويش جمع نمايد باانقلاب در قدرت سياسي حاكمه سهيم شد و بازرنگي و هوشياري استثمار علني وخشن را در پرده ازادي و دموكراسي بپيچاند تا غلام سرمايه خود را آزاد احساس كندو شب و روز بخاطر

> زمانيكه در خليج منافع سرمايه با خطر مواجه گرديد مطبوعات كشور هاي علمبردار ازادي تاكدام حدود از ازادي بيان بر خوردار بودند ؟! اين مطبوعات آزاد بودند ،آزاد از هر پابندي انساني تاهر آنچه ميتوانند بمنظور خدمت دموكراسي در رابطه با صدام وحكومتش تبليغ نمايند ولي هيچ ژور ناليست حق نداشت از قتلعام مردم غير نظامي عراق توسط بمباردمان قواي هوايي مدافعين دموكراسي سخن گويد

در حكومت هاي برده داران و فئودالها چون تنها برده دار و فئودال شامل مفهوم مردم ميشود لهذا اشراف در حكومت خود از هر گونه حقوقيكه درمفهوم دموكراتيك مي گنجد بر خوردار بودند . در حاليكه جهت ديكتاتوري دولت هر آن زندگي برده و دهقان را كه انسان شمرده نميشد تهديد مينمود . اكثريت نفوس جامعه زماني در شرايط سخت و رقت باري بسرميبردند كه طبقه دارا از هرگونه نعمتهاي مادي و آزادي هاي حيواني بر خوردار بودند . در چنين جامعه سرمايه نيز تحت ستم قرار داشت و قدرت سياسي حاكمه با شرايط سخت مالياتي و باج گيري دست و پاي

ازدياد سرمايه عرق بريزد و خود در حد برده مزد بردارد .

با تيغ عمل پرده مكر آزادي و دموكراسي از چهره كريه سرمايه دريده شد و آنگاه عوض دموكراسي جهت ديكتاتوري حكومت سرمايه نمودار گرديده . اعتصابهاي مردمي را در هم شكستند . تظاهرات بانوك سرنيزه به پراگنده شدن وادار گريدند و با ستيل ها باردیگر اعمار شدند . در همين نزديكي ها مردم جهان ناظر بودند زمانيكه در خليج منافع سرمايه با خطر مواجه گرديد مطبوعات كشور هاي علمبردار ازادي تاكدام حدود از ازادي بيان بر خوردار بودند ؟! اين

مطبوعات آزاد بودند ،آزاد از هر پابندي انساني تاهر آنچه ميتوانند بمنظور خدمت دموكراسي در رابطه با صدام وحكومتش تبليغ نمايند ولي هيچ ژور ناليست حق نداشت از قتلعام مردم غير نظامي عراق توسط بمباردمان قواي هوايي مدافعين دموكراسي سخن گويد هركه درين رابطه لب ميگوشود در برابر قهر دولتآزاد قرار ميرفت .

و يا اينكه اگر چه از بركت روابط آزاد جنسي در كشور هاي غربي مرض مهلك ايدز اهسته آهسته به تمام جهان در سرايت است و پيروان دموكراسي عوض اينكه روابط جنسي رامهار كنند و از بي گردند و جنرال نوريگا را بازور تفنگ بخاطر ضديت با امريكا جهت محاكمه به امريكا ببر ند ولي امام خميني حق ندارد رشدي ملحد را به مجازات مرگ محكوم نمايد . آنوقت كه ارتش امريكا داخل پا نامه ميشود دموكراسي در سكوت است تو گويي نه در پا نامه بشر وجود دارد و نه پا نامه كشوريست داراي حاكميت ملي مستقل !! در حاليكه در رابطه بارشدي با وجود اينكه سر نوشت يك فرد مطرح بود ولي طرفداران دموكراسي از شرق تا غرب در يك جبهه قرار گرفتند تا از دموكراسي حراست نمايند . بدين ترتيب مي بينيم زمانيكه به منافع مادي و يا

طبق منطق دموكراسي عساكر ريگان آزادانه حق دارند داخل كشور پا نامه گردند و جنرال نوريگا را بازور تفنگ بخاطر ضديت با امريكا جهت محاكمه به امريكا ببر ند ولي امام خميني حق ندارد رشدي ملحد را به مجازات مرگ محكوم نمايد

بندوباري در اين زمينه جلوگيري نمايند با تمام نيرو ي مادي و معنوي در صددپيدا نمودن تداوي مكر وب ايدز اند . در ين رابطه آنها ازاد اند تا آنجا كه ميتوانند نسل انساني را به نابودي بكشانند ولي زنان مسلمان فرانسوي نميتوانند با چادر داخل پوهنتون شوند . در اينجا كه سرحد آزادي هاي سرمايه خدشه دار ميگردد ميتران رئيس جمهور فرانسه شعار آزادي هاي دموكراتيك خود راناديده ميگيرد و در دفاع از حريم سرمايه بي شرمانه استين برميزند .

طبق منطق دموكراسي عساكر ريگان آزادانه حق دارند داخل كشور پا نامه مرز هاي فساد سرمايه صدمه ميرسد حوصله دموكراسي به پايان رسيده و قدرت ديكتاتوري جلوه گر ميشود . بنا بر اين دموكراسي و ديكتاتوري پشت و روي يك سكه اند دموكراسي بدون ديكتاتوري و ديكتاتوري بدون دموكراسي وجود ندارد . تا آنجا كه آزادي ميتواند حكومت دموكراسي را حفظ و از منافع سرمايه داران حراست نمايد اين نوع حكومت ها سخت طرفدار آزادي اند و در صورتيكه ازادي به منافع سرمايه ضرر ميرساند در آنصورت ديكتاتوري منطق اصلي دولت دموكراتيك را تشكيل ميدهد .

بخاطر درك بهتر دموكراسي در عمل حوادث اخر اتحاد شوروي سابق و الجزاير نمونه هاي برجسته و قابل دقت است اين حوادث درسهاي ارزنده و جامع بدست ما ميدهد . هنوز فراموش نشده كه غرب دموكرات و بشر دوست در دفاع از دموكراسي و حقوق بشر چگونه از گورباچوف زنداني و يلتسين محاصره شده و در حال مقاومت دفاع نمود . دموكراسي از هر طرف با يك صدا در برابر كودتا چيان بپا خاست و حكومت كودتا راباقدرت وحدت مقاومت مردم شوروي و كشورهاي سرمايه داري در ظرف سه روز به شكست مو اجه نمود وتا امروز موانع را از سر راه رشد دموكراسي در كشور هاي مشترك المنافع دور ميسازد .

ولي در الجزاير جبهه نجات اسلامي در برابر نيرو هاي دموكراتيك قد علم نمود و با بدست آوردن آراي اكثريت مردم نشان داد كه ديگر در كشور الجزاير دوران حكومت نظريات غير اسلامي سپري شده است .

در روز هايكه غرب دموكراتيك درتشويش سر نوشت دموكراسي در الجزاير بود نظاميان الجزايري بنام دفاع از دموكراسي و جمهوريت دست به كودتا زدند و بدين ترتيب در برابر انتخابات مردمي قرار گرفتند . كودتا چيان دراولين قدم نخستين اصل دموكراتيك يعني رجوع به اراي مردم را زير پا نمودند آنهم در حاليكه دموكراسي در غرب ساكت ماند . دموكراسي با تشكيلات دفاع از حقوق بشري اش در رابطه با سر كوب و زنداني شدن مردم الجزاير سكوت مرگبار نموده است . تا بحال هزاران نفر الجزايري به زندان رفته و شكنجه شده است ، نه تنها حق انتخاب آزاد بلكه آزادي بيان و تشكيلات زنده بگور گشته ،شكنجه و

اعدام فریاد میکشد ولي غرب آزاد و مشعل دار دموکراسي و حقوق انساني خاموشانه نظاره میگند و در انتظار در هم شکستن مقاومت مسلمانان آنکشور روز شماري مینماید .

عملکرد بیرق داران دموکراسي ذهن انساني رادر سوالات متعدد مي پیچاند :

چرا غرب در دفاع از حکومت مردم بر مردم در شوروي سابق پشتیباني کرد ؟

چراکشور هاي دموکرات غربي و در راس آن امریکا در تمام جهان پریشان وضع حقوق بشر است ولي در الجزایر نه ؟! مگر مردم مسلمان الجزایر نه بشراند و نه حقوق بشري دارند ؟! بین حکومت مردم بر مردم در شوروي سابق و الجزایر چه تفاوتي وجود دارد ؟

اصل مطلب اینجاست که در الجزایر با منتخب شدن نیرو آگاه ومسلمان قدرت سیاسي بدست مسلمین مي ا فتاد که معتقد به «ان الحکم الا لله » است . بنا بر این این نیرو در حاکمیت خود نه تنها از حدود الله تجاوز نمیکرد بلکه نمیتوانست در پا مال شدن این حدود بي تفاوت بماند ، درین صورت حاکمیت مردم مسلمان الجزایر تبلور حاکمیت قانون الهي بود واین نه تنهادر مقابل طرز لیبرالیستي تفکرغرب قرار دارد بلکه در مقابله با ان راه جدل فکري و عملي را در پیش گرفته است . از همین رو حکومت مردم بر مردم را که مردم الجزایر خواهان آنست با حکومت مردم بر مردم در شوروي سابق وغرب از ماهیت در تفاوت است .

براي درك ماهیت حکومت دموکراسي و اختلاف اسلام با ان باید موضوع از دو زاویه دیده شود :

۱- عملیه انتخابات .

۲- قدرت قانون سازي .

اگر به حکومت دموکراسي اززوایه انتخابات نظراندازیم درین صورت بین اسلام و دموکراسي تفاوت دیده نمي شود . اسلام نیز پیروان خویش را به انتخاب ارکان دولت و مشوره در امور پرورش میدهد بناءً دولت اسلامي راتا جائیکه به اخذراي اعتماد از مردم مربوط میشود میتوان دولت دموکراتیك خواند . ولي اگر به حاکمیت از زاویه قدرت قانون سازي ببینیم اینجاست که راه اسلام و دموکراسي از هم جدا میگردد . در زمینه قانون سازي ارشاد قراني است که مي فرماید «و من لم یحکم بما انزل الله اولئك هم الکافرون » بنا بر این حکومت اسلامي با حکومت دموکراسي در قانونسازي تفاوت اساسي دارد . حکومت اسلامي در زمینه قانون سازي داراي اختیارات محدود است یعني این حکومت درجایکه نص صریح وجود نداشته باشد باز هم مکلف است در روشني ایات قرآني و احادیث نبوي «ص» عمل کند . در اسلام افراد با هیچ تعداد نمیتوانند حکم الهي رانفي کنند

در حالیکه در حکومت دموکراسي اگرشراب فروشي با درك اضرار شراب غیر قانوني اعلام مي گردید باز روز دیگر تحت فشار کار خانجات تولید شراب ،دوبا ره فروش آن جوازقانوني پیدا میکند پارلمان در غرب به اساني میتواند به اکثریت آرا به هم جنس بازي مردان جواز بدهد و هم چنان فاحشه در غرب تحت تحفظ قانوني حکومت دموکراسي خود فروشي میکند و سر مایه با جبین باز از چنین کمایي ننکین مالیه اخذ مینماید .

بدین ترتیب دیده میشود که حکومت اسلامي بر خلاف حکومت دموکراتیك حکومت مشروطه مردم بر مردم است . در چنین حکومت مشروطه نیز جنبه دموکراسي و مطلقیت در پهلوي هم دیده میشود . با این تفاوت که در اسلام اگر مردم آزاد اند،ازاد از خدایان متعدد اند و اگر مجبور به تابعیت اند آن تابعیت خداي یگانه و رسول بر حق وي است . در چنین حکومت دیکتاتوري یك طبقه علیه طبقه دیکر اعمال نمیگردد و نه محدودیت بمنظور حفظ منافع کدام طبقه اعمال میگردد درینجا اگراز مطلقیت و دیکتانوري اثري دیده میشود بمنظور حفظ حدود الله است .

خصومت بي پایان دموکراسي در برابر حکومت اسلامي از همین جا نشأت میکند زیرا که توسط «لا »ئ کلمة الله این اله نیز نفي میگردد و مدافعین این بت نمیتوانند خاموشانه نظاره گر شکستن بت خود باشند . و اگر حاکمیت قانون الهي مد نظر نباشد بسیاري از کشور هاي اسلامي و دولت هاي به اصطلاح مردمي آن که غرب

> در الجزایر جبهه نجات اسلامي در برابر نیرو هاي دموکراتیك قد علم نمود و با بدست آوردن آراي اکثریت مردم نشان داد که دیگر در کشور الجزایر دوران حکومت نظریات غیر اسلامي سپري شده است . در روز هایکه غرب دموکراتیك درتشویش سر نوشت دموکراسي در الجزایر بود نظامیان الجزایري بنام دفاع از دموکراسي و جمهوریت دست به کودتا زدند و بدین ترتیب در برابر انتخابات مردمي قرار گرفتند . کودتا چیان دراولین قدم نخستین اصل دموکراتیك یعني رجوع به اراي مردم را زیر پا نمودند آنهم در حالیکه دموکراسي در غرب ساکت ماند

دموکرات نه تنها باايشان مخالفت ندارد . بلکه در حل مشکلات روز مره شان مطمئين ترين ياور شان بحساب ميرود .

در الجزاير جبهه نجات اسلامي خواهان حکومت اسلامي است و چون اين چنين حکومت از بنياد مخالف دموکراسي غرب است لذا نتوانست و نه ميتواند با استفاده از شرايط بوجود آمده توسط دموکراسي غربي بقدرت سياسي دست يابد .

تجربه الجزاير بخوبي نشان ميدهد که دشمنان اسلام در اخرين دقايق متوصل بزور ميشوند و اين اصيل ترين منطق زور گويان است . که تحريك اسلامي از شروع کار خود بايد اين خصوصيت نيروهاي شيطاني را ناديده نگيرد . سرمايه و دموکراسي آن تا زماني از انتخابات آزاد و حوق بشري صحبت ميکند که از اين ابزار در جهت حفظ منافع سرمايه دار انه استفاده کرده ميتوانند . زمانکيه در ميدان انتخابات ازاد عقب افتادند دست به اسلحه ميبرند وآنوقت چهره زشت علمبرداران حقوق بشر بر ملا ميگردد .

قران عظيم الشان شاهد راستين اين مدعا ا ست که ابراهيم «ع» زماني درآتش نمرود انداخته شد که نمرود در استدلال عاجز آمد و نتوانست در برابر ابراهيم «ع» حقانيت ادعاي خويش را ثابت سازد .هم چنان فرعون زماني در مقابل موسي به جنگ متوصل شد که منطق فرعون در برابر معجزات موسي «ع» تاب نياورد و بالاخره ابو جهل زماني در برابر حضرت محمد مصطفي «ص» راه مقابله نظامي را درپيش گرفت که ديگر منطق و استدلال ابو جهل از کار افتاد وروز بروز قدرت اشراف و بت هاي خيالي شان فرو ميريخت .

حالا که مسمانان در برابر بت سرمايه قرار دارند و از جانب سرمايه با منطق انتخابات آزاد و منصفانه و حکومت مردم برمردم استدلال ميشود بايد هوشياري خود را حفظ کنيم زيرا زمانکيه اين منطق در کشور هاي اسلامي عملاً به ضرر سرمايه نتيجه بدهد سرمايه راه اسلاف خود نمرود ، فرعون و ابوجهل را در پيش گرفته دست به اسلحه ميبرد .در چنين حالت امت اسلامي بايد اماده حرکت در راه پيغمبران باشد و جهاد في سبيل الله را پيشه گيرند و از قتال در راه خداوند «ج» تا آنزمان دست برندارند تا حاکميت سياسي بدست قانون الهي برسد .

گر چه در کشور ما دموکرات ها با استفاده از تجارب اخير براصل دموکراتيك انتخابات پيش از بيش خط بطلان کشيده زيرا به نتيجه رسيده اند که راه انتخابات در افغانستان راه پيروزي اسلام است بناءً رهبران دموکراسي از عمليه غير دموکراتيك تجمع افراد پشتيباني نموده تااگر بتوانند زير نظر ملل متحد بدور از نظارت مردم ما سر نوشت ملت ما را تعيين نمايند .

جهادمسلحانه که عالي ترين محك تميز پاك ازناپاك است چنانچه قبلاً توانسته راه سازش هاي بين المللي را سد و از تزلزل مذبذبين جلوکيري نمايد فعلاً هم داراي همان اثرات معجزه آساست که بود،امروز نيز بااين فريضه الهي و روش پيغمبرانه ميتوانيم اخرين سازش هاي دموکراسي را با خاك يکسان سازيم اگر ما در راه خدا «ج» جهاد کنيم بدون شك کيد شيطان ضعيف است و يقيناً پيروزي از آن ماست . »

> چرا غرب در دفاع از حکومت مردم بر مردم در شوروي سابق پشتيباني کرد ؟ چراکشور هاي دموکرات غربي و در راس آن امريکا در تمام جهان پريشان وضع حقوق بشر است ولي در الجزاير نه ؟! مگر مردم مسلمان الجزاير نه بشراند و نه حقوق بشري دارند ؟! بين حکومت مردم بر مردم در شوروي سابق و الجزاير چه تفاوتي وجود دارد ؟

> تجربه الجزاير بخوبي نشان ميدهد که دشمنان اسلام در اخرين دقايق متوصل بزور ميشوند و اين اصيل ترين منطق زور گويان است . که تحريك اسلامي از شروع کار خود بايد اين خصوصيت نيروهاي شيطاني را ناديده نگيرد .

د پاکستان سیاست ولې واوښت؟

حکمتیار ولې وارخطا ندی ؟

آیا دا بدلون مثبتي اغیزي همرا منځ ته کولای شي ...؟

تر تیر «میزان» مخکې د پاکستان د« انټر سرویس انتلجینس »(اي، ایس،اي) یوه لوړ رتبه مسوول په ژنیو کې د کابل رژیم د خاد له مشر جنرال یعقوبي سره ملاقات وکړ . د پاکستان مقاماتو هڅه کوله چې د جهادي تنظیمونو مشران پدې ملاقات خبر نشي .

د« اي ،ایس، اي» مامور چې له ژنیو څخه راستون شو د مجاهدینو یوه مشر ترې پوښتنه وکړه چې د خبرو اترو نتیجه څنګه وه .

هغه حیران شو ، هیڅ ګومان یې نه کاوه چې نوموړي مشر دې د دوي له کتنې خبر شوي وي، د ملاقات کیده یې په کلکه رد کړل او ورته وېې ویل چې که د داسې کوم ملاقات بندوبست واي ، حتماً یې دې خبر اوه ، د«اي، ایس، اي» د مامور پدې جواب جهادي مشر چوپ شو او څه ویل یې ونه غوښتل ، څو ورځې وروسته دې مشر بیا له نوموړي مسؤول سره ملاقات درلود. هغه له ځان سره موجود یوتن، پاکستاني مامور ته معرفي کړ او ورته وېې ویل چې دې ټینګار کوي چې له تاسره یې یو ځل مخکې هم کتلي دي.پدې وخت کې د تنظیم د مشر ملګري او د «اي، ایس، اي» مسؤول یو بل ته مخامخ وکتل او دا هغه موقع وه چې نور انکار مفهوم بایللې وړ،څکه د اکس د هغه هیأت غړي و چې

د یعقوبي په مشري . له دوي سره دخبرو اترو لپاره ژنیو ته تللي و او له

مجاهدینو سره یې ارتباط درلود .

دي کار ځیني موثر جهادي قوتونه د پاکستان د نوموړي اداري په چال چلن یوڅه بدګومانه کړل او هغه یې د پاکستان د بعضي حلقو په روش کې د بدلون نبنه وبلله .

تر ذي پیښې څه وخت وروسته یو بل انکشاف هم وشو،هغه دا و چې یوه مهم پاکستاني مسؤل د حزب اسلامي له امیر محترم حکمتیار سره د یوه ملاقات په ترځ کې پدې خبره ټینګار وکړ چې پکار ده د یوي انتقالي دوري لپاره د ظاهر شاه زعامت ومني،هغه یو زوړ سړي دي او ته ځوان، ته بنه او له چانسونو ډک مستقبل لري . موږ په راتلونکي پړاو کې ستا د اقتدار بشپړ ملا تړ کوو . خو حکمتیار ډیر په ځغرده دا ځواب ورکړ چې «زه د یوي دقیقي لپاره هم د ظاهر شاه د

زعامت منلو ته تیار نه یم ».

که څه هم حکمتیار پوه شوي و . چې دا سطحي خبره نه ده او درک کړي یې وه چې هغه د افغان قضیې په باب د پاکستان پوځ د نوي مشر تابه د نوي میلان او بدل ذهنیت له نتیجې پرته بل څه نشي کیداي ،خو د جهاني وضعې او سیمه ایز و حالاتو او د هغوي په رابطه دپاکستان د ستراتیژیکي ګټو او اهدافو، د جمهور رئیس او صدر اعظم د ځرګندونو په پام کې نیولوسره یې د یوه جدي بدلون فکر نه کاوه.پدې نظر و چې ګرانه ده پاکستان دي په اساني سره د خپلو اوږدو قربانیو او زیار ضایع کولو ته تن ورکړي.

د جنوري په اوایلو کې د پاکستان د پوځ قوماندان جنرال اصف نواز امریکا ته تر رسیدو مخکې په روم کې تم شو او د ظاهر شاه له زوم سره یې وکتل دا د پاکستان د بدلون ستر مظهر و، پدې پسې د جنوري په ۲۷ مه ددې هیوادد بهرنیو چارو دوهم وزیر صدیق کانجو په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې د پاکستان د اوسني سیاست مشخصات اوکربښې په ډاګه کړي.البته د دې خبري له کولو یې ډډه وکړه چې ګني د دوي افغان سیاست بدل شوي دي ، او دا دډیري حیرانتیا وړ هم ده چې پاکستاني واکمن د جمهور رئیس او صدر اعظم په شمول تر اوسه هم د دې خبري له منلو انکار کوي چې

> څو ورځې وروسته دې مشر بیا له نوموړي مسؤول سره ملاقات
> درلود هغه له ځان سره موجود یوتن، پاکستاني مامور ته
> معرفي کړ او ورته ویې ویل چې دې ټینګار کوي چې له تاسره
> یې یو ځل مخکې هم کتلې دي پدې وخت کې د تنظیم د مشر
> ملګري او د «اي، ایس، اي» مسؤول یو بل ته مخامخ وکتل
> او دا هغه موقع وه چې نور انکار مفهوم بایللی وو

سیاست یې اوښتي دي .
صدیق کانجو په هغه کنفرانس کې وویل : «پاکستان غواړي چې افغان مجاهدین د ملګرو ملتو په پیشنهادي جرګه کې ګډون وکړي، پاکستان د دې جرګې نتایجو ته درناوي کوي او هغه دا جرګه په پاکستان کې هم رابللای شي» .
یوه خبریال چې دا غیر متوقع خبره واوریده پوښتنه یې وکړه چې آیا اوس پاکستان مجاهدینو ته وایي چې د کابل رژیم له نمایندګانو سره مخامخ کیني ؟ کانجویي په ځواب کې څرګنده کړه : «جرګه کې» یواځې د کابل حکومت هغه نمایندګان استقبالیږي چې دمنلو وړ وي.»

پوښتنه تري وشوه چې د« قابل قبولتوب» پریکړه به څوک کوي ؟ ځواب یې ورکړ چې" ملګري ملتونه" چې له ټولو خوا وو سره په تماس کې دي دا فیصله کولای شي .چې څوک د «منلو » دي ."
د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې یې وویل :چې" د جرګې جوړښت اصول او ضوابط هم ملګري ملتونه ښه ترتیبولای شي ځکه هغوي له بېلا بېلو اطرافو سره رابطه لري . »
له صدیق کانجونه بله پوښتنه وشوه چې هغه مجاهدین چې دا طرحه یې رده کړي ، پاکستان څه وړکولای شي هغوي په جرګه کې ګډون ته چمتو کړي؟ ځواب یې ور کړ چې" پاکستان د بېلا بېلو لوریو تر منځ د هم نظرۍ د پیدا کو لپاره همیشه کار کړي دي اوس موږ زیات انتظار نشو کولای ، موږ د خبرو اترو په پیلولو کې مرسته کوو او دې خبرې ته به دا طرافو د تیارولو پوره هڅه کوو له هغوي سره به خبري کوو او دا به ورته تفهیموو چې د اطرحه ومني چې کله شروع وشوه او هغوي ته دا پیغام په ښه توګه ورسید چې موږ د حل په غوښتو کې جدي یو نو هغوي به هم په بشپړ جدیت سره پدې خبره غور پیل کړي .»
پوښتنه تري وشوه چې ایا د کابل حکومت «صدر اعظم» د قبول وړ دي؟ ځواب یې ورکړ چې پدې باب څه ویل له وخته مخکې دي، همدا پوښتنه چې د پخواني پاچا په برخه کې تري وشوه ویې ویل چې که ملګري ملتونه ورسره مشوره وکړي او یا یې راوبولي نوبیا داپریکړه په پاچا پورې اړه لري چې څه وکړي . کله چې کانجو وپوښتل شو چې ایا پاکستان مجاهدین د اتفاق کولو له وروستي شیبې خبر کړي دي؟ نو ځواب یې ورکړچې خبره واضح ده موږ د مخکې تلو پریکړه کړې ده موږ له هغوي سره د مقاطعې تصمیم ندې نیولی ، موږ تر وروستي وخته له هغوي سره د خبرو اترو کوشش کوو . »
کرڅوک د صدیق کانجو دې څرګند ونو او لهجې ته پام وکړي او بیا اوري چې پاکستاني مسؤلین د خپل افغان سیاست د نه بدلیدو خبره کوي واقعاً دحیرانتیا خبره ده .
خو پاکستاني مسولین په خپلو کې دا خبره کوي چې د دې بدلون علت دا و چې مجاهدینو روتسکوي ته د دریو روسي اسیرانو په نه سپارلو پاکستانیان درواغجن او تحقیر کړل دا کیسه داسې وه چې پاکستان ته د روتسکوي تر وروستي سفر د مخه د پاکستان دخارجه وزارت یو هیأت روسیې ته تللې و ، له روتسکوي اونورو روسي مسؤلینو سره یې ژمنه کړې وه چې پاکستان ته به د دوی د سفر پر وخت د ښه نیت ، د څرګندولو په دود درې تنه روسي اسیران ورته سپاري .
د مجاهدینو مشران له دې خبرې څخه نه وو خبر کړای شوي د پاکستان د خارجه وزارت مامورینو په داسې وخت کې د مجاهدینو له مشرانو د بندیانو غوښتنه کړې وه چې روتسکوي په روانیدوو هغوي د حزب اسلامي له امیر حکمتیار نه وغوښتل چې درې تنه بندیان ورته وسپاري . ویل کیږي چې دجنګي بندیانو زیاته برخه او غالباً د اصلي روسانو ټول شمیر له حزب اسلامي سره دي.
حکمتیار د دې خبرې له منلو ټینګار کړې او ویلي یې دي چې یو څو زما دریځ دا ذي چې تر څو افغاني بندیان نه وي خوشي شوي ، روسي اسیران نشو پریښوداي ، بل دا چې له موږ سره روسي بندیان د افغانستان د ننه دي .
مخکې له موږ سره پدې باب هیڅ خبري نه دي شوي ، د دې کار له کولو معذرت غواړو، پاکستاني مسؤلینو په وروستي

وخت کي یو په بل پړه اچوله. په حکمتیار یي ډیر ټینګار وکړ آن تر دي چي ورته ویلي یي و چي" ته یو پښتون یي داسي فکر و کړه چي مونږ دي کور ته راغلي یو او عذر درته کوو » د پاکستان د ډیرو لوړ رتبه مقاماتو(ځیني کسان وایي چي د جمهوررئیس هم پکي شامل دي) حکمتیار ومنله چي زه یو تن روسي اسیر در کوم. کله یي چي هغه را ووست د روتسکوي او پاکستانیانو له اصرار اوزاریو سره سره هم د روسیي تګ ته چمتو نه شو. په اخیري وخت کي د جبهه نجات ملي یوه قوماندان محترم مجددي ته خبر ورکړ چي دي یو روسي اسیر لري که د ده د خوښي اندازه مبلغ ورکړل شي چمتو دي ورته یي وسپاري .

مجددي صاحب ته دا شاید د کال له مهمو خبرو نو ځخه و ، دا پدي چي یوځو هغه د روسي جنګي بندي د درلودونکو په کتار کي دریده او بل یي پداسي وخت کي پاکستاني دوستانو ته ځه وړاندي کولای شواي چي هغوي له حکمتیار نه دهغه د نه وړاندي کولو په وجه خپه شوي وو ، محترم مجددي پاکستانیان خبر کړل ، که ځه هم اسیر یوو خو هغوي بیا هم تر نشت ډیر ښه وګاڼه او پري خوشحاله شول . روتسکوي یي له هوایي ډګره راستون کړاو له دي امله چي د دولتي میلمستون ځاي نیول شوي و ، هو ټل ته یي بوت .

اسیر روتسکوي ته تسلیم کړاي شو ، خو کابل ته په رسیدو یي اعلان وکړ چي هغه افغان دي ، په غلطه د روسي عسکر په نامه ورته تسلیم کړاي شوي دي ، روتسکوي داکار "مسخري" وبللي او خپل ناراضیت یي په ډاګه کړ ، دي جریان پاکستاني واکمن په غوسه کړل . پاکستانیانو ویل چي پدي ځانګړیو جهاني حالاتو کي پاکستان کلکه اړتیا لري چي د روسیي په شان هیواد سره نږدي اړیکي ولري . او دمجاهدینو د مشرانو په تیره حکمتیارلخوا چي مهم روسي بندیان ورسره دي د دوي د غوښتني نه منلو، علاوه پدي چي دوني کم راوستل د بنو اړیکو د ټینګولو یوه موقع یي هم تري ضایع کړه .

اوس ځیني پاکستاني حلقي دا خبره کوي ، چي وروسته پاکستاني مقاماتو اطلاع تر لاسه کړه چي محترم حکمتیار د روتسکوي د سفر په ورځو کي ملتان ته تللي وو او هلته یي له جنرال حمید ګل سره ملاقات کړي و . جنرال حمید ګل د حکمتیار ډیر نږدي او صمیمي دوست دي ، دوي دواړه په خپلو کي ډیر تاوده شخصي تعلقات لري .

حمید ګل د قوي اسلامي احساساتو خاوند جنرال بلل کیږي ، هغه نه یواځي دا چي په پاکستاني پوځ کي د استعداد ، ذهانت او پرستیژله مخي منفرد مقام لري ، بلکي له جهاني شهرت نه هم بر خمن دي

هغه غواړي چي په سیاست کي د علامه اقبال «رح» نظریاتو ته عملي بڼه ورکړي د یوه اسلامي قوت او اسلامي بلاك جوړول خپل هدف عنوانوي ، لکه په خپله چي وایي د امریکا په وړاندي بیدار دي . امریکایان د هغه په وړاندي خپله کرکه نه پټوي .

شاید دغه ټکي د ده اوحکمتیار د نږدي دوستي بنیاد وي ، حکمتیار په هیڅ توګه دجنرال حمیدګل له دوستي انکار نه کوي . په ۱۹۸۹ کال چي بي نظیربوټو د «اي ایس اي» له ریاسته لري کړ حکمتیار پداسي حال کي چي بنه پوهیده د پاکستان واکمن ګوند له حمید ګل سره ژور حساسیت لري ، خو په اسلام اباد کي یي په یوه مطبوعاتي کنفرانس کي په ډیر و قوي الفاظو د هغه ستاینه وکړه او ویي ویل چي" حمید ګل یو متدین ، زړور او با شهامته جنرال دي ، چیري هم چي وي مونږ ورته دعا کوو خداي «ج» دي بریالي لري . "

همداراز دا خو ورځي د مخه سره له دي چي جنرال حمید ګل اوس په کورکینول شوي او د پاکستاني پوځ د قیادت معتوب دي ، حکمتیار له یوي معتبري پاکستاني خپروني سره په مرکه کي ویلي چي" د جنرال حمید ګل تبدیلي د پوځ د روش د بدلون یوه نښه ده ، هغه یو دیانتدار ، زړور او د زړه له کومي له اسلام سره مینه درلودونکي شخصیت دي او قلباً غواړي چي په افغانستان کي د زمونږ د مسلمان ملت دخوښي حکومت

پوښتنه تري وشوه چي ایا د کابل حکومت «صدر اعظم» د قبول وړ دي ؟ ځواب یي ورکړ چي پدي باب ځه ویل له وخته مخکي دي ، همدا پوښتنه چي د پخواني پاچا په برخه کي تري وشوه ویي ویل چي که ملګري ملتونه ورسره مشوره وکړي او بیا یي راوبولي نو بیا دابریکړه په پاچا پوري اړه لري چي ځه وکړي

جوړشي .»

اوس به راشو خپلې اصلي خبرې ته هغه دا چې ځینې پاکستاني حلقې وایي چې د ملتان په کتنه کې جنرال حمید ګل حکمتیار ته مشوره ورکړې وه چې په داسې حالت کې د جنګي بندیانو خوشې کول چې روسان تاسې ته هیڅ امتیاز نه درکوي ، بې له دې چې ستاسې لاس کمزوري کړي بله هیڅ ګټه هم درته نلري.

نوموړې حلقې په دې نظر دي چې کله جمهور رئیس غلام اسحق خان او د پوځ قوماندان جنرال آصف نواز په دې خبر شول ډیر په غوسه شول او د حمید ګل د فوري تبدیلي اقدام یې وکړ. هغه د تطبیقاتو په میدان کې ...و چې خبر ورکړل شو چې باید په دوو ورځو کې د قول اردو قومانداني نوي ټاکل شوي کس ته وسپاري، هغه نه یوازې د ده له پرستیژه په ډیرې ټیټې دندې وټاکل شو بلکې د تبدیلي او ورپسې تقاعد روش یې هم مطلقاً توهین آمیز و.

خو موږ په دې باور یو چې نه د حمید ګل تبدیلي او بیا تقاعد یوازې د پورتني مشورې (که واقعیت وي)نتیجه کیداې شي ، او نه د پاکستان سیاست له دې امله واوښت چې مجاهدینو روتسکوي ته جنګي بندیان ونه سپارل ، دجنرال حمید ګل د تقاعد اصلي علت د امریکا فشار او د پوځ او حکومت له نوي سیاست سره د هغه مخالفت بلل کیږي که حکمتیار ته د مشورې خبره واقعیت وي کیداې شي هغه هم د یوې پلمې په توګه عنوان شوې وي .

تر کومه چې دا پوښتنه مطرح ده چې د پاکستان افغان سیاست ولې واوښت ؟ پدې برخه کې چې د مرکزي آسیا له هیوادو سره د پاکستان د اقتصادي اجتماعي اړیکو د ټینګولو لپاره د لارې د پرانیستو لپاره د پاکستان د اړتیا پوره کولو کومه خبره عنوانیږي ، ډیر دلایل شته چې ثابته کړي چې اساسي علت داندي.

مخکې چې چا دا فکر کاوه چې پاکستان به په اساني دې ته تن ور نکړي چې د افغانستان په باب خپل دریځ بدل کړي .

تحلیل یې دا و چې یو خو په نړۍ او منطقه کې د پاکستان او سني موقعیت داسې دی چې تر پخوا هم یوه دوست اسلامي افغانستان ته زیاته اړتیا لري، بل دا چې امریکا له پاکستان نه یوازې په افغان قضیه کې په تنازل کولو نه راضي کیږي بلکې د اتومي بم، کشمیر او پوځ په جوړښت کې به یې هم خبرې ته غوږ نیسي ، او تر ډیره حده به د خپلې خوښې عمل ترې غواړي او دا داسې مسایل دي چې پاکستان به په هغو باندې په سازش کولو اصلاً د انتحار روش انتخابوي .

خو اوس ډیر واقعیتونه د دې شاهد دي چې پاکستان پدې ټولو مواردو کې له امریکا سره د «کمپرومایز»(سازش)لارنیولې ده.داسې فکر کیږي چې یو څه امریکایان هم د خپلو خاصو ګټو لپاره تاکتیکاً را ټیټ شوي دي،داتومي بم ، کشمیر او پوځ په رابطه شاید عجالتاً په تدریجي اونسبي تنازل قانع شي خو په افغان بحران ترې د یو مخیز او ښتون غوښتنه کوي .

اوس به راشو دې ته چې د پاکستان د سیاست بدلون به څه اغیزې را منځ ته کړای شي ؟

دا دوه حالته لري ، یو دا چې پاکستان نه یوازې له مجاهدینو .سره خپله پوځي اقتصادي او سیاسي مرسته بنده کړي ، بلکې طرف واقع شي ، او په هغه قوتونو باندې چې د سازش مخالفت کوي فشار راوړي اوخبره د دښمنۍ پولې ته ورسیږي دا حالت خونړۍ ناوړه پیښې زیږولای شي او ډیر خوفناك اور بلولاې شي.پدې صورت کې خو بیا د ډیرو زیاتو او ډیرو بدو تحولاتو امکان شته البته د دې حالت د وقوع امکان کم دی،د پاکستان ګټې ددې حالت د رامنځ ته کیدو اجازه نه ورکوي .

دوهم دا چې پاکستان یوازې خپلې مرستې بندې کړي او نور په چا باندې د څه منلو لپاره طرف واقع نشي او د مجاهدینو له څواکونو سره اختلاف ددښمنۍ په پوله ونه دروي . •

د دې حالت منفي اثرات خوټولو ته واضح دي خو موږ فکر کوو چې ځینې مثبت اړخونه هم لري چې موږ په لاندې ډول ورته اشاره کوو : زموږ ځینو موثر و جهادي احزابو اوس سیاسي تجربه ،جهاني تعلقات او پرستیژ پیدا کړي ، کولاې شي د خپلو اهدافو د تحقق لپاره مرستې تر

> د پاکستان د خارجه وزارت مامورینو په داسې وخت کې د مجاهدینو له مشرانو د بندیانو غوښتنه کړې وه چې روتسکوي په روانیدو هغوې د حزب اسلامي له امیر حکمتیار نه وغوښتل چې درې تنه بندیان ورته وسپاري . وبل کیږي چې جنګي بندیانو زیاته برخه او غالباً د اصلي روسانو ټول شمیر له حزب اسلامي سره دي.

لاسه کړي د خپلي قضيي په برخه کي له سياسي جرياناتو نه خبر شي او له پيښو او جرياناتو سره برخورد وکړاي شي .

همدا راز د خپل ولس او نړي په وړاندي خپل ښه استقلاليت وښودلاي شي .

اوس د افغانستان حالات داسي دي چي

شايد همدا پاس عوامل وي چي حكمتيار چي د لوي جهادي حزب رهبري ورپه غاړه ده او د امريكا د مخالفت ډير مهم هدف دي د پاكستان د سياست بدلون نه دي وارخطا كړي او له پاكستانيانو سره په ملاقاتونو كي داخبره ډيره كوي چي كه پاكستان د ځانگړيو شرايطو او فشارونو له امله دي ته مجبوريږي چي خپل سياست واړوي ، داكار دي وكړي . موږ تري گيله نلرو خو زموږ غوښتنه تري داده چي زموږ پر خلاف دي په توطيو كي طرف نه واقع كيږي ، او زموږ د جهاد په ضد روان سازش په عملي كيدو كي دي مرسته نه كوي

نه له مجاهدينو سره دومره مرسته کيږي چي فيصله کنه نتيجه ولري او نه حالات داسي دي چي له بهرنيو زياتو مرستو پرته دي د رژيم نسکورول ممکن نه وي که غښتلي او فعال تنظيمونه د يوي مشخصي ستراتيژي له مخي خپل قوتونه سوق کړي د نجيب د حکومت له منځه وړل ډير ممکن دي .

هغه قوتونه ، اشخاص او گروپونه چي موجوديت اوتشکيلات يي په کوم مشخص نظرياتي او تنظيمي سياسي جوړښت ولاړ نه دي او زياتره د پاکستان د يوه ځانگړي چاينل له خوا په مرستو ورکولو مبني دي او يا پاکستان د خپلو يو لړ ځانگړيو مصالحو لپاره د لويو احزابو په کتار کي مطرح کړي دي؛ شايد خپل موقعيت او موجوديت تر ډير ه حده له لاسه ورکړي او پدي توګه د سياسي انتشار او افتراق تاو راکم کړاي شي .

بله دا چي زموږ د قضيي جريانات به داخل ته منتقل شي ، د دي اصل د پياده کيدو په خوا به يو څه پر مختگ وشي چي جهادي قوت او ولسي نفوذ دي دا- حزابو او شخصيتونو د نقش اوسهم بنسټ وي .

زموږ په جهادي موثر و قوتونو کي په ځان د اعتماد او اتکا روحيه ټينگوي ، او په قضيه کي يي موجود نقش او اغيز ټول دوي ته منسوبيږي .

په جهادي لويو تنظيمونو کي جد يت د خطر احساس او د مسووليت لادرك را پيدا کوي، ابتکار او عمل ته يي مجبور وي ،بالاخره دوي به وي چي د خپل نظرياتي تشخص ، نظامي قوت، ولسي نفوذ ، تشکيلاتي نفوذ ،جهادي پرستيژ ، سياسي تجربي او پراخو بين المللي اړيکو د نسبي بر تري له امله د جهاد د نمايندگي ميدان ته را ووځي او د انتشار او متعدد دحالت شدت راکم شي .

پدي کي شك نشته چي زموږ ډير محدود تنظيمونه دي چي په پورتني کچه تريوه حده پوره ختلاي شي او يواځي د پاکستان په ملا تړ متکي نه دي .شايد همدا پاس عوامل وي چي حکمتيار چي د لوي جهادي حزب رهبري ورپه غاړه ده او د امريکا ،دمخالفت ډير مهم هدف دي د پاکستان د سياست بدلون نه دي وارخطا کړي او له پاکستانيانو سره په ملاقاتونو کي داخبره ډيره کوي چي که پاکستان د ځانگړيو شرايطو او فشارونو له امله دي ته مجبوريږي چي خپل سياست واړوي ، داکار دي وکړي . موږ تري گيله نلرو خو زموږ غوښتنه تري داده چي زموږ پر خلاف دي په توطيو کي طرف نه واقع کيږي ، او زموږ د جهاد په ضد روان سازش په عملي کيدو کي دي مرسته نه کوي . والله اعلم

اوس څيني پاکستاني حلقي دا خبره کوي ، چي وروسته پاکستاني مقاماتو اطلاع تر لاسه کړه چي محترم حکمتيار د روتسکوي د سفر په ورځو کي ملتان ته تللي وو او هلته يي له جنرال حميد گل سره ملاقات کړي وو.

نظام شورایی بهترین نظام از دیدگاه دین مبین اسلام برای جوامع است!

امروز در کشور مهدی سودانی جهادی نوینی جریان دارد ، همان شور و شغف و ولوله هست که یکصده قبل بود و با استفاده از آن مهدی سودانی و پیروانش بانیروی مسلط استعماری عصر (انگلستان) تصادم کردند و به جهانیان نشان دادند که اسلام بعداز سیزده صد سال نیز این ظرفیت را دارد که در تاریکستان ظلم ، جور واستبداد قندیلهای عدل را به مشعلهای تابان برخاسته از خون دل روشن نگهدارند .
مردم انسان دوست و مصمم سودان در دهه اخیر قرن بیستم مصروف قیام انقلاب اسلا می هستند ، این جهاد ضد استعماری نه مورد پسند ابر قدرتهای نظا می جهان است و نه کشورهای همجوار سودان به آن به دیده محبت می بینند از همین رو امروز سودانی ها در دو جبهه می جنگند جبهه فکری و سیاسی و جبهه اقتصادی ولی مردم سودان تصمیم دارندکه در شرایط دشوارتر نظا می واقتصادی ، نه به کسی دست سوال دراز خواهندکرد و نه سرتسلیم فرو خواهند برد .
امروز ملت مبارزوانقلابی سودان فقط با اتکاء برذات ایزدی بسوی منزل مقصود خود کفایي در تک و دوهستند، تائید خداوندی با ایشان است . فکر علمای عامل ، ثابت قد می رهبران مو من ملی ، صبر واستقا مت مردم و کمک کشورهای دوست با هم یکجا به یک آواز دست داده میتوانند با استفاده از منابع سر شار طبیعیي سودان و استعمال آب نیل در زمین های زرخیز آن، سرزمین سودان را رهبر جهان اسلام ثابت کنند .... این مصاحبه هنگام سفر مدیر مسؤول مجله تکبیر برادر صلاح الدین و یکتن از خبر نگاران آزاد هفته نامه تکبیر به سودان صورت گرفته است که چنین آغاز می شود :

ترجمه و تخلیص محمد معروف
« فروغگر »

س : شما در این جاقیادت یك حزب سیاسی را به عهده دارید ، ولی درنظم نوین جهانی احزاب سیاسی رامنحل اعلام داشته اند ، آیا شما از این نظام غیر حزبی پیشتبانی می کنید ؟

ج : بلی ! زیرا در اسلام گنجایش نظام حزبی اساساً وجود ندارد ، قرآن بر این امر ترکیز میکند که شما به احزاب وگروه ها تقسیم نشوید ، این نظریه که در اسلام گنجایش نظام قبایلی وجود دارد ، لذا گنجایش احزاب سیاسی نیز هست، اساساً غلط است ، زیرا خاندان یا قبیله و قبایل فقط بخاطر اظهار شناخت و معرفت افراد و قبایل است، خط مشی سیاسی ندارد ... احزاب سیاسی از جمله پیداوار ممالك اروپایي است ، اکنون دراروپا و امریکا نیز ارتقای سیاسی بحدی رسیده است که در اکثر کشورهادو حزب سیاسی باقی مانده است ، در آن کشور های غربی نیز اگر ببینید ، بعد از انتقال قدرت در سیاست تغیر قابل ملاحظه يي بوجود نمی آید ،گویا اساساً در بین آن دو حزب فرق اساسی دیده نمی شود ، در آن کشور های در حقیقت حزب مخالف بحیث گروپ فشار عمل می کند تاحزب مقتدر رابه سوی توجیه کند که هدف هر دو حزب

است ، اگرامریکا باشد یاانگلستان ، فرانسه باشد و یا کشور دیگر اروپا ی هر کشوری که از این جمله باشد ، در صورت تبدیلی حکومت تغیر خاصی در سیاست آنها رخ نمیدهد ، در آن جا دو حزب اقتدار واختلاف نقش مهم توازن قدرت را بر قرار نگهمیدارند ، اساساً نهضت اسلامی دارای روح جمهوری می باشد .در آن مشاورت و آزادی رای و نظر هر دو عنصر حکمفرما میباشد . علاوه بر ان عنصر اجماع نیز در آن دخیل میباشد . که از آن امت اسلامی نیز نیرو میگیرد ، اسلام نه تنها فرد را حق اظهار رای میدهد ، بلکه به او امر می کند که او فکر اجتماعی رااز فکر ازاد وانفرادی اش محروم نکند هم چنان اسلام مردم را متحد و هم آهنگ می کند اسلام حتما یك اساس و بنیاد سیاسی راتبارز میدهد ولی گنجایش احزاب سیاسی در ان اساساً وجود ندارد ، تصوراحزاب سیاسی ، خواه حکومت آن کشور بر اساس نظام یکحزبی استوار باشد و یا چند حزبی تصوری است غربی ، در غرب زمین حکومت ویا نظام یك حزبی به شکل نازی ایزم ، فاشیزم و کمونیزم جلب توجه میکند که اساس آن برانکار آزادی رای فردی کذاشته شده است

. در سودان عملاً اساس نظام جمهوری یي گذاشته شده است که در ان مردم، متعلمین ، محصلین ، زنان ، علما ودانشمندان همه و همه رافایند گی مناسب داده اند .

س : جنرال محمد ضیاء الحق شهید به ریاست مولانا ظفر احمد انصاری مرحوم کمیسیونی را تشکیل داده بود که در پاکستان نظام غیر حزبی را صواب دانسته و سفارش نموده بود ، غالباً شما نیز رکن آن کمیسیون بودید ؟

ج : بلي! درآن کمیسیون همه علما و فضلا بر این امر اتفاق داشتند که در اسلام احزاب سیاسی رسمیت ندارد واین از جمله بدیهیات است . برخی از دانشمندان زیر تاثیر کمونیزم رفته و دو چار این لغزش و غلطی شده اند که بین اسلام و کمونیم تا اندازه یي مماثلث وجود دارد و به نظر بعضی جمهوریت و دیموکراسی غرب با اسلام وجود مشترك دارد ولی حقیقت امر این است که غرب با پخش این اندیشه در بین مسلمانان به هدفی دست یافته است که مسلمانان جهان به عوض وحدت گرفتار پنجه های نفرت انگیز اختلاف شده اندویکی در تضعیف دیگری مصروف کار و پیکار اند و به این ترتیب زمینه یي رامساعد ساخته اند که دشمن دربین شان رخنه کند و چای پای بازنماید ، جمهوریت غربی باشد و یا سوسیالیزم یکی هم به نفع ما نیست اگر نظامی میتواند که قابل قبول ما باشد ، نظام شورایي است که نه مزاج آمرانه دارد و نه مشاجرات ذات البینی را دامن میزند ،برای این نظام اصطلاحی بهتر از شوری دیده نمیشود ، در سودان نیز نظام شورایي رانافذ میکنند .

س : آیا ضروری است که در مبارزات انتخاباتی معیار هایي در نظر گرفته شود که نامزدو یا کاندید از عهده آن بر آید(در صورت داشتن آن معیار هابتواند کاندید شود و در صورت نداشتن آن مستر د شود)؟

ج : هنوز در این رابطه کار میشود تا اکنون نظامی که حاکم بود ، زیر نظارت

> این نظریه که در اسلام گنجایش نظام قبایلي وجود دارد ، لذا گنجایش احزاب سیاسي نیز هست، اساساً غلط است ، زیرا خاندان یا قبیله و قبایل فقط بخاطر اظهار شناخت و معرفت افراد و قبایل است، خط مشي سیاسي ندارد

آن همان طرز جمهوری غربی رواج داشت و بر اساس همان ارزشهای غربی انتخابات صورت میگرفت .

در این گونه انتخابات طبق اوضاع محیطی به عصبیت های جاهلی قومی ، قبیلوی و لسانی ، نیرو هایي پروپاگند و سرمایه گذاری دامن زده میشد اینکه کاندید خود کاندید شود، اسلام این نظر را رد میکند در اسلام ذهنیت تاجرانه انتخاباتي غرب وجود ندارد، حالا در این جا (سودان) طبق اصول اسلام ضوابط و قواعد ترتیب میشود و ومطابق خواسته های اوضاع نظام بهتر تری پی ریزی میشود .

س : در سودان قانون سازی ملی در کدام مرحله اش قرار دارد ؟

ج در حقیقت اجزای مختلف قانون در مراحل مختلف ترتیب و تنظیمش قرار دارد ، نقشه نظام حکومتی طرح شده است به همین ترتیب در ساحه های دیگر این ترتیب میشود و توام با تجربه، اصلاحاتی در آن می آید عمل نفاذ اسلام که جزء لا ینفك قانون ما است قبلاً نافذ گردیده است به این ترتیب آهسته آهسته ، درمدت دوسال قانون ملی ما ترتیب و در معرض تطبیق گذاشته خواهد شد خاصیت این قانون ما که تنها نتیجه فکر و اندیشه قانون دانان نبوده طوری خواهد بود که بر ساحات ها نظامي، سیاسی ، اجتماعی ، اقتصادی و تمام گوشه های زندگی محیط خواهد بود ، او تلاین و خاکه این قانون طی کانفرانس منظور شده اکنون کمیسیونی بر جزئیات آن کارمیکند ...

س : منظوری این قانون راکه خواهد داد ، کدام اداره معین ؟

ج : چون قانون تصویب شود سپس بعد از تحقیق و معلومات اداره معین ارزیابی قانون که قبلاً از طرف دولت تعین گردیده است و رای گیری عامه ریفرندم گذاشته میشود ....

س : در قانون فعلی نفاذ اسلام کدام اولویات درنظرگرفته شده (به کدام معاملات حق ارجحیت داده شده است)؟

ج : با احساس این امر که جهت نفاذ عملی اسلام به ترجیحاتی ضرورت هست ، ما این کار را لازم می دانیم که در هر شعبه زندگی ایدیالوژی جهانی اسلام محیط باشد ، این کار غیرممکن است که در نفاذ اسلام استثناءتی وجود داشته باشد به این معنی که در یك شعبه زندگی اسلام حاکم و نافذ باشد و در گوشه دیگران نباشد این کار مشکلات را ببار می اورد ؛ زیراتقاضای اسلام در برابر زندگی همه گیر است در هر جا باید حاکم باشد ، اسلام دین وحدانیت است ، تعلیمات و نفاذ آن بر یك کلیه بزرگ محیط میباشد ، لذا ممکن نیست که به شکل مجزا و پارچه پارچه تطبیق شود ، ترجیح و اولویت اولین مااین است که اناتومی واسکلیت قانون را صبغه اسلام بدهیم ... توام با این تعلیم عامه رانیز طبق تقاضای اسلام شکل داده عیار میسازیم ، نصاب تعلیمی جدید طوری ساخته می شود که متعلمین و محصلین نه تنها تربیه اسلامی بگیرند بلکه در نفاذ عملی اسلام نیز نقش بسزای داشته باشند،

اساساً نهضت اسلامي داراي روح جمهوري مي باشد .در آن مشاورت و آزادي راي و نظر هر دو عنصر حکمفرما میباشد . علاوه بر ان عنصر اجماع نیز در آن دخیل میباشد . که از آن امت اسلامي نیز نیرو میگیرد

در نظام اقتصادی نیز عمل نفاذ اسلام جریان دارد در تلاش آن هستیم که در اداره های شخصی و دولتی عنصر سود (ربا) هیچ دخلی نداشته باشد این کار شده است وتمام آثار ومرتبات سود از اداره های شخصی و دولتی کشور ما زدوده شده است ، بانکها ، اداره های بیمه ،اداره های تجارتی همه و همه تحت نظام بدون ربا کار میکنند . ما همه جانبه میکوشیم که تمام نظام اقتصادی را باعقیده و ایمان مربوط سازیم و از خود کفالتی غذایي گرفته تا صحت عامه تمام مسایل مان را در روشنی همین اصل حل و فصل نماییم .

ما تصمیم گرفته ایم که در سایر ادارات دولتی ما عمل تطبیق اسلام و نفاذ آن شکل عملی را بخود بگیرد به این ترتیب تمام مامورین دولت جهت فراگیری تعلمیات عالی اسلام به کمپ های دفاع ملی فرستاده میشوند و در دوران سه ماه کورس علاوه بر تربیت نظامی ، تربیت فکری وایدیولوژیك اسلامی رانیز فرا میگیرند و بعداز بازگشت در زندگی ایشان تغییر رونما می گردد که یکسره در قالب اسلام افتاده میباشند و بنام غدر و خیانت اثری درحرکات و سکنات زندگی شان بمشاهده نمی رسد ... اردوی ما تا حال یك اردوی بی دین واز خدا بی خبر بودو از شریعت او تعالی هیچ چیزی رانمیدانست ،ولی اکنون دربین آن نیز تغیرات چشم گیری آمدنی است .

س : ایا اردو دررابطه بانفاذ اسلام در راه شما موانعی ایجاد میکند . ؟

ج: نه ! بالکل نه ،فکر بی دینی فوج به سرعت تبدیل میشو د ، افواج دفاع ملی کاملاً یك اداره اسلامی است ، آن را برای اردو و شعبه های دیگری زندگی قسم نمونه تشکیل داده اند و این مقصد بطریقه احسن آن بر آورده میشود ، افواج مسلح ما نیز از آن به عقب نمانده است .

س : در این رابطه رای عامه چه میگوید ، طبق وسایل ارتباط جمعی و بنگاه های خبری غرب آنها منتظر مداخله ارتش اند ؟!

ج : قطعاً چنین نیست ! این بر نامه و پروگرام حکومت در بین مردم از مقبولیت زیادی بر خوردار است ، مردم سودان مسلمانان راسخ العقیده اند و آنان این تلاشهای حکومت رابه دیده تحسین مینگرند .... مردم در این رابطه با دولت همکاری دارند . طور مثال زمانی که قانون زکات نافذ شده است پول جمع شده ان نسبت به بیش ۳ صد برابر اضافه شده است .... شما خواهید دید که ملت جهت حصول تشخص اسلامی شان به دادن هرگونه قربانی اماده است .... ملت سودان بسوی خود کفالتی و خود کفایي به سرعت گام برمیدارد ، شبکه های اقتصادی از قبیل زراعت و تفحصات پترول و گاز به شکل بهتر آن در حالت فعال شدن است ....

س : در باره عروسی های دسته جمعی خبری از نظرم گذشت ، آیا این نیز از بر نامه های اصلاحی حکومت بحساب می آید ؟

یك واقعه رامن بخوبی بیاد دارم ، سالگرد انقلاب شوروی تجلیل می شد . در این روز رئیس جمهور و اعضای بیروی سیاسی حزب درمیدان سرخ ماسکو رژه نظامی عساکر شورروی را تماشا می کردند ،اعضای بیروی سیاسی حزب و وزرا مطابق به رتبه هایشان در پهلوی رئیس

دختری که دسته گل را به برژنیف داده بود ترسنده و لرزنده در مقابل برژنیف ایستاده بود ، دختر ك گلدسته را به برژنیف داده بود ولی رئیس جمهور بسته شیرینی را دردست خود گرفته ایستاده بود دخترك پریشان بو د، زیرا به او هدایت داده شده بودکه در مقابل دسته گل بسته شیرینی را از رئیس جمهور اخذ نماید . در حالیکه بسته شیريني دردست بریژنیف بود و او کاملاً از یاد برده بودکه چه باید انجام دهد ، و به همین دلیل فراموشی او بود که در آغاز رژه نظامی نیز تاخیری وارد آمد .

کسی جرات نداشت تا به برژنیف بگوید که چه باید بکند بالاخره بعداز چند لحظه جنرال که همیشه در چنین مواقعی درعقب برژنیف ایستاده می بود ، پیش آمد ، نزدیك برژنیف رفته و آهسته چیزی برایش گفت ، برژنیف نگاهی به وی کرد ، و بعداً با دستان لرزنده بسته شیرینی را به دخترك منتظر سپرد . و به این ترتیب مراسم رژه نظامی آغاز یافت .

وظیفه جنرال تنها این نبود تا از نظام حفاظت برژنیف نگرانی کند ، بلکه این کار نیز ازجمله مسؤلیت های او بود تا رئیس جمهورمخبوط الحواس ،مریض و بی کاره رادر موقعش متوجه مسؤلیت ها و کوتاهی هایش نماید . ما که از جمله محافظین شخصی برژنیف بودیم ، کار ما انجام وظایف مطابق اوامر و انتظار نمودن بود. ما باید هر لحظه اماده می بودیم . هر لحظه و هر لمحه تیار بودن برای هر گونه خطری وظیفه ما بود . اصل کار ما انتظار بود ، و انتظار خطر که خیلی ها خسته کن بود .

ما ظاهراً دیده نمی شدیم ، ولی در همه جا ، و در عقب همه چیز موجود می بودیم ،ما در بین هجوم مردم خود را گم می کردیم و در تاریکی ها ایستاده می بودیم . ماهمیشه خود را از انظار رئیس جمهور دور نگه می داشتیم ، زیرا برای ما همانگونه امر شده بود ، و اگر گاهی در پیشر وی برژنیف هم می بودیم ، برژنیف سوی ما نگاه نمی کرد .

اگر برژنیف درهنگام راه رفتن می جنبید ، یا قدم هایش را ست و کج می شد ، و خطر افتادن او نزدیك می بود ، با وجود این همه ما اجازه نداشتیم تابه برژنیف نزدیك شویم ، این کار را تنها جنرال یا کدام تن از اعضای بلند رتبه بیروی سیاسی می توانست انجام دهد .

هنگامیکه برژنیف به قریه ابایي خویش می رفت ، فرایض و وظایف مادوچندان می گردید .
همه راه های آمده بسوی قصر برژنیف مسدود می گردیدو محافظین وی در سنگرهای مخفی خود جابجا می شدند هر شخصی که بسوی قصر می آمد دوبار تلاشی خیلی دقیق از او صورت می گرفت ، حتی اعضای بیروی سیاسی که می خواستند با گورباچف در منزل دهاتی وی ملاقات نمایند خیلی به دقت تلاشی می گردیدند . دختران ، پسران و خویش و اقارب خیلی نزدیك وی هم اگر می آمدند ، آنها هم تلاشی می گردیدند ، باری من دیدم که برژنیف در صحن حویلی خود نشسته با چشمان پژمرده و غمگین تماشا می کند که ما چند تن خویشاوندان نزدیك او را تلاشی می کنیم ، او با دستان بزرگ و نیم مرده خود ، دوستان خود را خوش آمدید گفت ولی ما را امر نکرد تا از تلاشی خویشاوندان وی دست برداریم .
در بین محافظین برژنیف من این افتخار را داشتم که با برژنیف از نزدیك صحبت نموده ام ، اینکه ملاقات من با برژنیف به چه قیمتی برایم تمام شد ذکر آن در محل خود خواهد آمد .
به خاطر خرابی صحت ، برژنیف را به منطقه ساحلی کنار بحر برده بودند مدت زیادی از آمدن وی به مطنقه ساحلی می گذشت نمی دانم پروگرام بردن رئیس جمهور مریض و بی کاره را به مناطق ساحلی چه کسی ترتیب داده بود ، یا خود برژنیف خواهش آنرا داشت ، بهر صورت باترتیبات خیلی دقیق و مطمئین امنیتی برژنیف را به منطقه ساحلی آوردند . هوا خیلی گرم بود ، در مقابل ما بحر بود ، و وظیفه من در محلی تعین شده بود که خیلی گرم وتکلیف ده بود ، من باید در عقب بته های نیم قد پنهان می بودم ، در اینجا شدت گرمی و حبس هوا آنقدر تکلیف ده بود که برای من پنها ن بودن در آنجا ناممکن گردید . به همین دلیل من همه قوانین رازیر پا گذاشته از عقب بته ها بیرون بر آمدم و روی یك گرسی سنگی نشستم . من متوجه امواج بحر بودم و

ما ظاهراً دیده نمی شدیم ، ولی در همه جا ، و در عقب همه چیز موجود می بودیم ،ما در بین هجوم مردم خود را گم می کردیم و در تاریکی ها ایستاده می بودیم . ماهمیشه خود را از انظار ریس جمهور دور نگه می داشتیم ، زیرا برای ما همانگونه امر شده بود ، و اگر گاهی در پیشر وی برژنیف هم می بودیم ، برژنیف سوی ما نگاه نمی کرد

ارزو داشتم که با یك دوش خود را با امواج بحر هماغوش سازم تا احساس گرمی در وجودم اندکی کمتر شود . در همین افکار بودم که آوازی را شنیدم که مرا مخاطب ساخته بود : شما کی هستید ! وقتی نگاه کردم دیدم برژنیف بالای سرم ایستاده بود ، چند لمحه جابجا نشسته ماندم ، ولی بعداً برخاستم ، سلام دادم و خودرا برایش معرفی نموده گفتم که من محافظ هستم .
برژنیف گفت : بنشین ! در لهجه تکلم وی نارضایتی به خوبی هویدا بود ، ولی من ایستاده ماندم ، به حیثیت محافظ برژنیف در حالیکه خودش ایستاده بود ، من نمی توانستم بنشینم ، برژنیف به جسم خود حرکت داد ،و من احساس کردم که او بخاطر این حرکت عادی تکلیف بزرگی را متحمل شد ، او در حالیکه ایستاده بود ، تاو و پیچ می خورد ، ضعف وکمزوری در چهرهٔ وی نمایان بود .
با یك قدم غیر متوازن روی کرسی سنگی نشست در حالیکه می لرزید بارد یگر برایم حکم داد تا بنشینم و من هم در کنجی از گرسی نشستم برژنیف گرفته گرفته و با تنفسهای عمیق برایم گفت : من برای چند لحظه اینجا در هوای تازه می نشینم ، از معالجین خود پنهان به این سو آمده ام .
برژنیف با نگاه های دقیق سویم نگاه کرد و با لهجه گرفته گفت : شناخت نامه شما را دیده می توانم ؟ من فوراً شناخت نامه خود را بیرون آورده برایش دادم ، دیدم که انگشتان ضعیف وی در باز نمودن صفحات شناخت نامه دو صفحه ای با مشکل روبرو ست ، چند دقیقه شناخت نامه راد ر انگشتان خویش گرفته بدقت انراملاحظه کرد بعداً انرا سوی من پیش آورده پرسید : آیامسلح هستید ؟جواب دادم : «بلی رفیق رئیس جمهور من مسلح هستم ».
وتفنگچه ایرا که در زیر واسکت جابجا بود برایش نشان دادم ، گفت : واسکتی خیلی خوبی است ، ظاهراً معلوم نمی شود که اسلحه زیر آن وجود دار ، ایا ساخت روسیه است امن جواب مثبت دادم بعداً

برژنیف خودش اغاز کرد ، گاهی سخن می گفت و گاهی توقف می کرد :" رزوها ی خوبی گذشت ، .... زمانه جنگ ... هنگامیکه من جوان بودم ، ....." و بعد هم ذکری از یك نرس سرخ موی به میان آمد ولی این بحث رانامکمل گذاشت ، و سوال کرد : "می دانی اقتدار چه چیزی را می گویند ؟ اقتدار چیزی تعجب انگیزی است ، کسی که یکبار مزه آنرا چشیده ، بعد.مزه دیگری را نمی پسندد ».

در حالیکه خیلی مریض ، ضعیف وناتوان معلوم می شد سوال کرد .

صاحب فرزند و اولاد هستی !

من برایش گفتم که پدر یك طفل هشت ساله هستم بعد خودش حرف را آغاز کرد : «دختر ان ، پسران و نواسه های من .... حالا ان دور قدیم باقی نمانده همه شان عاشق موسیقی امریکایي اند ، هنگامیکه برای ملاقات می آیند ، فرمایشات گوناگونی می دهند ، ... برای من موتر بده ...برای من فلان چیز بیاور ... من از آنها به تنگ امده ام ، ازهمه آنها به تنگ آمده ام . من آزاد نیستم، زندانی هستم ... بلی ، من زندانی هستم ».

در همین لحظه صدای پایي از فاصله دور بگوش رسید ، برژنیف سوی من نگاه کرد : «آنها در تلاش من به اینسو امده اند، من برای یك لحظه هم تنفس آزاد گرفته نمی توانم » روبه من نمودہ گفت : «برو و در عقب بته ها پنهان شو ، اگر آنها دیدند که با من صحبت داری برایت جزا خواهند داد » .

بازحمت زیاد دستش را طرف من دراز کرد ، دست سنگین و وزنی وی سردومرده بود ، من با عجله طبق امروی در عقب بته ها پنهان شدم ، از عقب بته ها دیدم که جنرال ، دوعضو بیروی سیاسی و یك داکتر معالج برژنیف را گرفته و انتقال می دهند .

چند روز بعد ما در مسکو بودیم از بعضی حرکات و سکنات جنرال فهمیدم که اشتباه دارد که بین من و برژنیف گفتگویي صورت گرفته . به هر صورت او از این شبه خود با من چیزی نگفت .

بعد از بازگشت از مناطق ساحلی من برژنیف را ندیدم ، ولی باز هم می دانستم که رفیق برژنیف خیلی مریض است، چندی بعدیك شب جنرال ما رانزد خود خواست ودر مقابل همه محافظین گفت :

«امروز دو تن از اعضای بیروی سیاسی ساعت ۱۱ شب برای ملاقات رئیس جمهور برژنیف می آیند ، هیچ یکی از شما نه آنها را تلاشی می کنید ونه آنها را توقف داده می توانید . آنها مستقیماً به خوابگاه رئیس جمهور می روند» .

نمی دانم در من این جرأت چگونه پیدا شد که بی اختیار گفتم :

رفیق جنرال : این کار خلاف اصول و قوانین است ! خلاف ورزی از قواعد است.

.جنرال با لهجه درشت گفت :این امر من است ! واگر از تعمیل اوامر من انکار نمایي همین لحظه از وظیفه اخراجت خواهم کرد ، من از رویه خودت به مسولین امرر شکایت خواهم کرد .

در آن وقت من از آنجا رفتم ،موضوع عجیب این بود که جنرال نه شناخت نامه مرا از من خواست و نه اسلحه ام را . بهر صورت فهمیدم که بعد از این وظیفه من خاتمه یافته است .

روز اینده روز رخصتی من بود و روز بعد تر بخاطر راپور دادن تمرینات خود رفتم در آنجا دانستم ، که امروز همه مصروفیات تعطیل گردیده رئیس جمهور برژنیف به اثر حمله قلبی جان داده است .

ولی تا هنوز مرگ وی بصورت رسمی اعلان نگردیده است . در دل من یك شبه پیدا شده بود ، که بعداً به یقین مبدل گشت .

مرگ رئیس جمهور برژنیف یقیناً بواسطه آن دو عضو پر اسرار بیروی سیاسی صورت گرفته بو د، کسانی که بدون هر گونه تلاشی مستقیماً به خوابگاه برژنیف رفته بودند . اینکه در این سازش چه کسانی شریك بودند ، من نمی دانم .

یوری اندروپوف رئیس جمهور جدید کشور بود ، جنرال مرا نزد خود خواست و بدون هرگونه اطلاع و مقدمه مرا به دفتر رئیس جمهور جدید برده با او روبروساخت و خودش از دفترخارج گردید .

اندروپوف پرسید : با رئیس جمهور مرحوم برژنیف چه گفتگو يي داشته ای !

من در الفاظ کوتاه به اندروپوف شرح دادم که با برژنیف چگونه ملاقا ت کردم ، و اندروبوف رااز تاثرات خود آگاه کردم که برژنیف مریض بود ، و خیلی غمگین و اندوهگین می نمود .

اندروپوف با لهجه درشت و قاطع برایم گفت :

« چون از اوامر افسر مسؤل خود سر پیچی نموده ای لهذا از وظیفه شبکدوش گردیدی ، از ملاقات خود با برژنیف نباید باهیچ کسی چیزی بگویي . »

اندروپوف با اشاره دست برایم امر خروج داد ، و من هم بیرون امدم در نزدیکی دروازه جنرال ایستاده بود و تبسمی بر لب داشت . و چند روز بعد جنرال هم ازوظیفه اش سبکدوش گردید .

@ @ @ @

@ @

@

ما له ظاهر شاه سره تر يوه ملاقات وروسته خپلو ځينی دوستانو لکه پير گيلانی ته ويلی و چی هغه ورځ لری نه ده چی پاچا روم ته وتښتی او کمونيستان په واټونو او کوڅو کی زموږ په عزتونو او بدنونو لوبی وکړی

فاتح الملك ننگ يو سفزی .

محترم فاتح الملك «ننگ يوسفزی » د افغانستان د مطبوعاتو او سياست يو مشهور نوم دي. هغه د دی دواړو ډگرونو نږدی ۳۸ کلنه سابقه لری .دی په ځلوېښتمه لسيزه کی د دوهمی دوری د پارلمان غړی و.يوسفزی صاحب په سياست او ادب کی ليکنی کوی ، ډرامه،فيچراو تبصره يي د ذوق ځانگړی صنفونه دی .
د پراخی مطالعی خاوند دی ، په شعر ويلو کی هم ښه لاس لری .محترم يوسفزی ته خدای «ج» د ښه قلم تر څنگ جادويي ژبه هم ورکړی ده . د سياست ويج او ځيږه مطالب او د خپلی سياسی مدعا او داعيي دلايل هم د شعر او افسانی د ژبی په مرسته داسی خوايه او جذاب بيانوی چی مقابل لوری ته يواځی قناعت نه بلکی [illegible] او خونګ وربه نصيبوی .
محترم «يوسفزی »څه موده مخکی دپاکستان له مشهوری اونيزي« تکبير » سره يوه په زړه پوری مرکه کړی چی داده پښتوژباړه ئی دحريت گرانولوستونکوته وړاندی کوو.«اداره»

تکبير : که د لويي جرگی پر پس منظر څه رڼا واچوی ؟

يوسفزی : پخوا د افغانستان حکومتونه شاهي وو ، کله چی په نړی کی دجمهوريت هوا ولگيده ، نو دی واکمنو د دی لپاره چی دنيا ته وښيي چی موږ هم دخلکو رايي ته درناوی کوو ، د خپلی خوښی د خو ملکانو ،سردارانو ،خانانو او ځينی پوهانو په رابللو جرگه جوړوله او هغی ته يي د لويي جرگی نوم ورکاوه دا به تل د حکومت او سلطنت پرپريکړو باندی د تاييد د ټاپې د لگولو لپاره رابلله کيده ، له هغی به نظر نه اخيستل کيده ، يواځی به يي نوم استعماليده .

تکبير : لويه جرگه له کومه وخته پيل شوه ؟

يوسفزی : جرگه د قبايلی نظام برخه پاتی شوی ده په افغانستان کی قبايلی سيستم و د کلی سيمی او قبيلی په مستوی به دوړی اولويي سطحی جرگی دايريدی د احمدشاه ابدالی له دوری څخه د هيواد په سطحه پيل شوی خو دا جرگه تل سلطنتونواو حکومتونو د خپلواهدافو لپاره استعمال کړی ده.

تکبير :اوس د هغو جرگو څه مفهوم او حيثيت پاتی دی ؟

يوسفزی : اوس هغه جرگی مفهوم او حيثيت نه لری ، جهاد زموږ ځوانونه کی د يوستر ځوانيزسياسي شعور را پيدا کړی افغان ولس په سياسی او نظرياتی توگه په ډلو کی تنظيم شوی دی اوس د قبيلو پر بنسټ پريکړو خپل افاديت او حيثيت بايللی دی او د هغود فيصلو اعتبار ندی پاتی .

په افغانستان کی تر کمونيزم په تيره روسی جارحيت وروسته معيار واوښت له کورنيو اوحتی وروڼو څخه يو يا څو تنه د کمونيزم خوا ته ودريدل د کورنی قبيلی نژاد او قوم نورو افرادو د اسلام په پلوی د کمونيز په مقابل کی مورچی ونيوی داسی هم وشول چی ورور د ورور اوزوی د پلار په مقابل کی راغی ان د وينی رشتی پکی خپل اهميت له لاسه ورکړ، د وينی د پيوند ځای د عقيدی او فکر پيوند ونيو ، کټ مټ داسی لکه چی د بدر په جگړه کی حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه اود هغه زوی د يو بل په مقابل کی راغلی وو،اوس افغان ولس دومره سياسی شعور تر لاسه کړی دی چی په خپله ښه پوهيږی چی د خپل دين ، وطن او ملت د خير او گټی لپاره څه وکړی او څه ډول يي وکړی افغانان پوهيږی چی ظاهر شاه

په تیره څلویښت کلنه دوره کی افغانان دومره وروسته پاتی وساتل چی د اتوم په دی دور کی د افغانستان په ډیرو سیمو کی اوس خلک دفقر په وجه د پسونو پوستکی اغوندی او د پسونو او وزوپوټکی په خوړوکی استعمالوی.

جوار او نوراوړه د دی لپاره ترخوی چی زیات خوراک ته ئی زړه ونشی ، او په کمه ډوډۍ ګوزاره وکړای شی .

په ۱۹۶۹ چی کله د بدخشان او چغچران په علاقو کی قحطی راغله ، نو خلکو خپل ورکوټی ، ورکوټی بچیان په دری زره افغانیو خرڅول چی له دی لاری د څه خوراك څښاك چاره وکړی مګرپدی حالت کی هم ظاهر شاه او د هغه کورنی افراد و دارو پا چکرونه وهل او عیش اوعشرت یي کاوه .

ما د نور محمد تره کی تر کودتا نهه کاله د مخه له ظاهر شاه سره یو ساعت او اته دقیقی اوږد ملاقات وکړ . ظاهر شاه ته می اوضاع تحلیل کړه ،مشوره می ورکړه چی پوځی افسران د روزنی لپاره روسیي ته مه لیږه ځکه چی هلته لومړی هغوی په نظریاتی توګه کمونیستان کوی ،با استعداده افرادتری چڼ کوی ، د کی ، جی ، بی ایجنټان ځنی جوړوی او تر هغه وروسته بیا د خپل مسلك تعلیم ورکوی په دی ډول چی په مستقبل کی د افغانستان کوم پوځ تیاربزی او په مهمو چوکیو چی کوم کسان راځی هغه به د کمونیستانو او کی ، جی ، بی ایجنټان وی بیا به د افغانستان دسلطنت ، ملی خپلواکی او اسلام دساتنی څه ضمانت وی ؟

تر هغی اوږدی کتنی وروسته زه دی نتیجی ته ورسیدم او ما په هغو ورځو کی خپلو ځینو دوستانو لکه پیر سید احمد ګیلانی ته هم دایاده کړه چی پاچا په ذهنی لحاظ فلج شوی دی هغه د کمونیزم په وړاندی تسلیم دی او هغه ورځ لری نه ده چی دی روم ته وتښتی او کمونیستان په واټونو او کوڅو کی زموږ پر عزتونو اوبد نونو لوبی وکړی او که د پاچا په برخه کی دا خبره رښتیا وه چی د چرسونشه، کوله ، نو بیا په طبیعی توګه د هغه له شخصیته داسی توقع کیده .

تکبیر : یعنی تاسی فکر کوی چی په هم وانه خیست حتی خلکو په سبا د ده تخت اړوونکی ټانکونه د ګلانو په امیلونو پوښل او له ده یي د نجات جشن لمانځه او س به هماغه ظاهر شاه چی د بی چاره عمر هم ۸۰ کلونو ته نږدی دی او په ذهنی لحاظ فلج شوی دی او د خلکو په قول خوب د نشه یي څیزونو په مرسته کوی یو داسی انقلابی افغانستان څنګه کنترول کړای شی چی دوینو په سمندر

> اوس هغه جرګی مفهوم او حیثیت نه لری ، جهاد زموږ پرټولنه کی د یوستر ټولنیز تیاری شعور را پیدا کړی افغان ولس په سیاسی او نظریاتی توګه په ډلو کی تنظیم شوی دی اوس د قبیلو پر بنسټ پریکړو خپل افادیت او حیثیت بایللی دی او د هغود فیصلو اعتبار ندی پاتی .

افغان قضیه کړد پخوانی پاچا هیڅ نقش نشته ؟

یوسفزی : پاچا له سره مطرح نه دی . د افغانستان خلکو د اسلام لپاره قربانی ورکړی ، زما په فکر که مارکس ، انګلز ، لینن او ستالین څلور واړه سره یو ځای شوی، وای هم په افغانستان کی بی کمونیزم او روسی جارحیت ته دومره لار نشوای او رولای لکه دظاهر شاه دحکومت نیمګړی سیستم او سیاست چی اواره کړه . زه له عقله هغو بی برخی خلکو ته حیران یم چی اوس هم داوایي او شرمیږی نه چی یواځی ظاهر شاه د افغانی قضیی حل دی . هغه ظاهر شاه چی څلویښتو ګمنامو کمونیسستانو د څلویښتو ګلو پاچاهی فقط په څلویښتو دقیقو کی تری ونیوه ، هغه ظاهر شاه چی په هغه وخت کی یي په ملا ټپ کی څلویښتو کسانویو پل کی یي غوټی وهلی دی .

پر دی بر سیره د افغانانو دا تریخ واقعیت هم په ټول قوت په یاد دی چی د افغانستان د ازادی جګړی په دی اوږده خونړی دوره کی نه یواځی دا چی ظاهر شاه یاد هغه کورنی د افغان ولس ملګرتیا ونکړه بلکی چیری او څومره چی کیدای شوای مجاهدینو کی د درز اچولو لپاره د روس ، اوداسلام او افغانانو د ټولو دښمنو قوتونو د پټهواو ښکاره حربو همکارو، ګه لویدیځ په ظاهر شاه زور اچوی او وایي چی د پخوانی پاچاهی وارثان دی راوستل شی نو بیا د اعلیحضرت غازی امان الله خان د زوی شهزاده رحمت الله خبره ولی نه کوی ، هغه چی په روم کی استاذ دی او د تاج او تخت اصلی وارث هم دی .

د هغه پلار غازی امان الله خان د

افغانستان د خپلواکۍ لپاره خپل تاج پرېښود حال دا چې نادر خان د پردیو په رحم او کرم د افغانستان پا چا شو او زوی یې ظاهر شاه افغانستان د روسانو لاسوته وسپاره

تکبیر : که دلویې جرګې د انعقاد په باب د ملګرو ملتو پر طرحه څه تبصره وکړئ ؟

یوسفزي : تاسې د ملګر و ملتو د طرحې په باب وپوښتلم ، پدې برخه کې ما ځینې بیا نونه هم ورکړي زما په فکر ملګري ملتونه له سره خپله کومه فارموله او طرحه لري نه ،کوم پلان چې د کوئیار یا ملګرو ملتو د طرحې په نامه د دنیاپرژبو دی ، هغه اصلاً د ډاکتر نجیب د څو کاله مخکې ملي پخلاتوب د پلان یو موهوم او مبهم لنډیز دی زه نه پوهیږم چې ځینې خلك په تیره بعضې افغان مشران یا نه پوهیږي او یا ځان نه پوهوي چې هغوی د نجیب دا طرحه چې اوس د ملګرو ملتو د طرحې نوم ورکړل شوی د ملګرو ملتو طرحه بولي او هغه د ملګرو ملتو د طرحې په نامه ر دوي یایې قبلوي د ډاکټر نجیب مرستیال اسحاق توخي په خپله له بي بي سي سره په مرکه کې ویلي چې ملګرو ملتوته دا طرحه اصلاً موږ ورکړې ده ،که اسحاق توخي دا اعتراف و هم نکړي ، بیا هم هر د نظر خاوند شخص محسوسو لای شي چې دا دواړه طرحې بېلې بېلې نه بلکې یوه ده .

> په ۱۹۶۹ چې کله د بدخشان او چغچران په علاقو کې قحطي راغله ، نو خلکو خپل ورکوټي ، ورکوټي بچیان په دري زره افغانیو خرڅول چې له دې لارې د څه خوراك څښاك چاره وکړي مګرپدې حالت کې هم ظاهر شاه او د هغه دکورنۍ افراد و دارو پا چکرونه وهل او عیش اوعشرت یې کاوه

تکبیر : ښاغلي بینن سیوان چې د کوم ماموریت منډې ترړې کوي ، د هغه په برخه کې ستاسې څه نظر دی ؟

یوسفزي :زه فکر کوم ستاسې پوښتنه دوه اړخه لري یو د افغان قضیې په باب دا طرحه چې سیوان راوړې ده او منډې ترړې ورته کوي او بل د بنین سیوان خپل کړه وړه او نقش تر کومه چې د طرحې خبره ده ، مخکې مې عرض وکړ چې ملګري ملتونه خپله هیڅ طرحه نلري دا د نجیب د پلان لنډیز دی ،پاتې شو د سیوان شخصي کړه وړه سیوان مطلقاً یو طرفه اقدامات کوي د افغانانو په رابطه یې ژبه اولهجه ډیره زیاته ګستاخانه او حاکمانه ده.هغه هڅه کوي چې یوه داسې لار وباسي (که څه هم د عدل ، انصاف اوشرافت خون ورته واخیستل شي) چې په هره بیه وي افغانستان ځغورونکي حقیقي ، اوځواکمن جهادي قیادتونه له اقتداره لرې وساتل شي او د هغوی پر ځای د تش په نامه لویې جرګې په عنوان او یا کومې بلې حیلې او پلمې ، تطمیع او هڅونې له لارې له ذهني لحاظه ځینې مفلوج او غیر موثر افراد او فراریان اقتدار ته ورسول شي د کوموپه وسیله به چې بالاخره ظاهر شاه ته د واك سپارل آسانه وي .

تاسې د هغه مخکېنۍ څرګندونې راټولې کړې او یو نظر پرې واچوئ ، تاسې ته به معلومه شي چې هغه له یوې خوا دافغانانو تر منځ درز اچوي او له بل لوري په نژادي اوژبنیو بنسټونو د افغانستان بیلا بیلې ډلې هڅوي چې افغانستان ټوټه ټوټه شي،په کابل کې د هغه وروستي اظهارات د هغه د نورو څرګندونو تر څنګ زما د خبرې ښه ثبوت دی اوس تاسې ووایاست چې له یوه دغسې شخص څخه څه وړ د اتوقع کیدای شي چې هغه دی د ملګرومِلتو په څېر دیوې نړیوالې اداري د یوه بې طرف نماینده نقش ولوبوي؟زه فکر کوم چې بنین سیوان تنخواه له ملګرو ملتو اخلي او فکر له بل کوم اسلام او افغان دښمنه مرکز څخه ، که د سیوان په څېر کسان د ملګرو ملتو نمایندګي کوي ، نو هغه ورځ لرې نه ده چې د دې اداري یو څه پاتې عزت او حیثیت که وي ، هم ختم شي.مو- ر. هیله کوو چې ښاغلی بطروس غالي چې یو پوخ سیاست پوه دی د خپل ضمیر او نړیوالې اداري د مقام او موقعیت په پام کې نیولو سره له زیات تاواني کیدو څخه د دې نړیوالې اداري دوقار د بچیدو لپاره مدبرانه او جرات مندانه تګلار غوره کړي.

تکبیر : پدې لړ کې تاسې د امریکا نقش څه ورڅېړئ ؟

یوسفزي : پدې کې شك نشته چې امریکا یولوې جمهوري هیواد دی او د روس تر ټوټه کیدو وروسته یې موقعیت او زور ډیر غښتلی دی مګر پدې حالت باندې امریکا ته مغرور یدل نه دي پکار بلکې ورته بنایي چې خپلو اخلاقي قدرونو ته

پام وکړی او دوړ کوټو هیوادو په وړاندی
تر پخوا زیاته د لوړ ظرفیت مظاهره وکړی
نن سبا امریکا د تل ابیب د ریموټ کنټرول
حیثیت غوره کړی، دی کار د امریکا وقار
د نړیوالو په وړاندی په ډیره بده بڼه وزا
پریستی دی.ما ته خو داسی معلومیږی
چی صهیونی حلقی په امریکا باندی د
خپل مقصد د ډولو کارونو ترکولو
وروسته امریکا په یوه داسی څه بدلوی
چی هیڅ ورپاتی نشی .

تکبیر : د پاکستان د حکومت د بهرنی
سیاست بدلون او یا یې د افغان قضیې په
باب اوسنی دریځ څه ډول تحلیلوی ؟

یوسفزی : ترکومه چی د پاکستان د
حکومت د فعلی دریځ خبره ده په هغه
کی ماته له دی پرته بل کوم خاص بدلون
په نظر نه راځی چی د پاکستان حکومت
دملګرو ملتو طرحه کټ مټ منلی ده ،
ترکومه چی د ملګرو ملتو په طرحی
پوری اړه لری ما مخکی وویل چی
دداکتر نجیب دملی پخلا توب د پیشنهاد
مبهمه خلاصه ده که پاکستان د اسلامی
معیار له محور او مداره د افغان قضیې د
حل د خارجولو هڅه وکړه نو بیا به خبره
ځی په قومیت او ناسیونالیزم به دریږی.
اوس داد پاکستانی مسؤلینوکاردی چی
په ساړه دماغ سوچ وکړی چی دقومیت په
کچه پاکستان ترکومه اوښومره تلای شی
دپاکستان یوه ځانګړی صنعت کاره طبقه
داغواړی چی دافغانستان دقضیې په حل
کولوسره پاکستانی مالونو ته د
افغانستان له لاری د مرکزی اسیا
مارکیټونوته رسیدل ممکن شی خو دا
هوښیاران پدی فکر نه کوی چی مرکزی
اسیاَ ته به رسیدل هغه وخت ممکن وی چی
په افغانستان کی سوله او امنیت تامین
شی او داقتدار واګی د یوه مضبوط او
ټینګ حکومت په لاس کی پریوځی په
افغانستان کی که د مجاهدینو اسلامی
جمهوری حکومت نه وی نه امــن نشی
ټینګیدای نو پدی حالت کی به د
پاکستانی وورو مال څه وړ او له کومی
لاری مرکزی آسیا ته ورسیدلای شی ؟

تکبیر : لویدیز څواکونه په افغانستان
کی د بنسټ پالو یامذهبی افراطیونو
حکومت نه غواړی نو د هغه اندیښنی
څنګه لری کیدای شی ؟

یوسفزی : کوم افغان مجاهد قیادتونه چی
افراطیون بلل کیږی هغوی خو یواځی په
خپلو سرونو باندی په لویو سره د روس
مقابله وکړه او هغه ته یې شکست ورکړ
او دبی حده قربانیو په بیه یې خپل دین
،مذهب ، تاریخ ، تهذیب او د ثقافت او
وطن د آزادی حفاظت ساتنه وکړه که دا
افراطیون وی نو دنړی ټول آزادی
خوښوونکی او د خپلواکی لپاره قربانی
ورکوونکی ملتونه افراطیون دی . ددی
خلکو په باب داهم ویل کیږی چی مذهبی
جنون لری حال دا چی هغوی نهایتاً
معقول او معتدل مزاجه مسلما نان دی .
مګر دمخالفینو په زړونو کی چی کومه
خبره څرخیږی هغه داده چی د دوی له بر
سراقتدار کیدو سره په افغانستان کی په
انصاف ولاړ مضبوط اسلامی حکومت
جوړیږی . له کوم نه چی د ګــــوډاکی
حکومت کارنشی اخیستل کیدای .

تکبیر :د افغان قضیې حل څه دی د
مجاهدینو مضبوط حکومت څه ډول
جوړیدای شی ...؟

یوسفزی : ترهغه چی د ولس دروازی
ورونه ټکول شی او د وینو له سمندر نه
په راتیریدو سره یوه لوی طاقت ته له
ماتی ورکوونکی ملت څخه پوښتنه ونشی
د هغه هیلو او رائیو ته د رناوی ونکړای
شی د ولس د منتخبو نمایندګانو په مرسته
عبوری حکومت جوړ نشی او تنظیمونوته
د برابری پر ځای د هغوی د حیثیت سره
سم برخه ورنکړای شی تر هغه وخته د
قضیې پایدار او مستحکم حل نه یواځی
مشکل بلکی نا ممکن دی .

تکبیر : ستاسی په نظر ددی لپاره کوم
صورت یا صورتونه کیدای شی ؟

یوسفزی : زما په نظر اوس ددی صورتونه
داسی دی چی د قضیې پایدار حل
کیدای شی .
لومړی دا چی په پاکستان او ایران کی
دمهاجرو په کمپونو کی کوم شپیته لکه

**تر هغی اوزدی کتنی وروسته زه دی نتیجی ته ورسیدم او ما
په هغو ورځو کی خپلو ځینو دوستانو لکه پیر سید احمد
ګیلانی ته هم دایاده کړه چی پاچا په ذهنی لحاظ فلج شوی
دی هغه د کمونیزم په وړاندی تسلیم دی او هغه ورځ لری نه
ده چی دی روم نه وتښتی او کمونیستان په واټونو او کوڅو
کی زموږه پر عزتونو اوبد نونو لوبی وکړی او که د پاچا په
برخه کی دا خبره رښتیا وه چی د چرسونشهء کوله ، نو بیا په
طبیعی توګه د هغه له شخصیته داسی توقع کیده**

او په اروپا او امریکا کی کوم یونیم لك افغانی وګړی دی پدغو د هجرت په کمپو کی او د افغانستان په ټولو آزادو سیمو کی چی د ټول افغانستان په سلو کی ۸۹ فیصده ده د ټولو تنظیمونو ترمنځ د مناسبی نمایندګی پر بنسټ عمومی انتخابات وکړای شی . او د دی په نتیجه کی چی کومه شوری را منځ ته کیږی هغه یو عبوری حکومت جوړکړی بیا پاکستان داسلامی نړی هیوادونه او د نړی خپلواکی خوښونکی ملکونه هغه په رسمیت وپیژنی ، دا عبوری حکومت به د یو کال لپاره وي، ټول جهادی ځواکونه چی ګډه قوماندہ یې حکومت ته سپارله کیږی د کابل له ګوډاګی حکومت څخه اقتدار واخلی بیا د شپږ و یا یوه کال په موده کی د تنظیم پر بنسټ په ټول هیواد کی د مناسبی نماینده ګی آزاد اوعادلانه عمومی انتخابات دایر شی او د هغوی په نتیجه کی قانونی حکومت جوړ شی .

داسی کول مشکل نه دی ، ممکن دی او کیدای شی . که ځینی ښاغلی له دی ویریږی : چی په انتخاباتو کی به د هغوی سر او پودینه فاش شی او دا لاره او زده ګټی نو بیا دوهم صورت دا

> زما په فکر که مارکس ، انګلز ، لینن او ستالین خلور واړه سره یوځای شوی وای هم په افغانستان کی یې کمونیزم او روسی جارحیت ته دومره لار نشوای او رولای لکه دظاهر شاه دحکومت نیمګړی سیستم او سیاست چی اواره کړه

کیدای شی چی ټولو جهادی تنظیمونو ته دهغوی د ځواك په تناسب نمایندګی ورکړه شی له دی نماینده ګانو نخه دی یوه شوری جوړه شی . دا شوری دی یو عبوری حکومت جوړکړی کوم چی پاکستان اسلامی نړی او دوست هیوادونه په رسمیت وپیژنی اودا حکومت د له نجیب څخه د اقتدار را اخیستو سره د

> ترهغه چی د ولس دروازی وررونه ټکول شی او د وینو له سمندر نه په راتیریدو سره یوه لوی طاقت ته له ماتی ورکوونکی ملت څخه پوښتنه ونشی د هغه هیلو او رائیو ته د رناوی ونکړای شی د ولس د منتخبو نمایندګانو په مرسته عبوری حکومت جوړ نشی او تنظیمونوته د برابری پر ځای د هغوی د حیثیت سره سم برخه ورنکړای شی تر هغه وخته د قضیي پایدار او مستحکم حل نه یواځی مشکل بلکی نا ممکن دی .

راتلونکی عمومی ازادو انتخاباتو لار آواره کړی هغه دی تر سره کړی او کوم تنظیم یا تنظیمونه چی اکثریت وګټی هغه دی حکومت جوړکړی او پدی ډول دی په افغانستان کی د یوه خپلواك خپل اختیاره اسلامی جمهوری حکومت بنسټ کیښودل شی .

دریم صورت دا کیدای شی چی په ازدو سیمو او د مهاجرو په کمپو کی چی د متناسبی نماینده ګی پر بنسټ کوم انتخابات وشی اود هغه په نتیجه کی چی په شوری کی د چا څومره نماینده ګی په برخه شوی هغه نماینده ګی اوغړیتوب دی په خپل ځای وی مګر په عبوری حکومت کی دی دلیږ والی او ډیروالی له معیاره پرته ټو لو تنظیمونو ته نماینده ګی ورکړه شي ترڅو ملی اتحاد قایم شی او چا ته د تبیتنی پلمه پاته نشی خو د انتخاباتو کول لومړنی لازمی شرط دی .

تکبیر :. ستاسی په نظر اوس د افغانانو د قیادت لپا ره تر ټولو موزون شخصیت څوك دی ؟

یوسفزی : کله چی په قومونو کی ټولنیز ، سیاسی شعور راپیدا کیږی نو بیا یواځی د انفرادی او شخصی قیادت پوښتنه نه مطرح کیږی ، پر ډله ایز قیادت هم خبری کیدای شی له دی سره سره محترم انجنیر ګلبدین حکمتیار ، محترم استاد برهان الدین ربانی ،محترم عبدالرب الرسول سیاف ، محترم مولوی محمد یونس خالص ، او محترم مولوی محمد نبی محمدی چی په افغان جهاد کی کوم مهم نقش تر سره کړ هغه یقیناً د قدر وړ او د هیریدونه دی البته تر کومه چی په انجنیر ګلبدین حکمتیار پوری اړه لری نو د هغه خبره خو یوڅه بله ده ، د علامه اقبلال «رح» په قول:

هزار سال نر گس اپنی بی نوری په رو تی هي
بڑی مشکل سی هوتا هی چمن می دیده ور پیدا .

نرګس په زرګونو کاله خپله بې نوری ژاړی ،په ډیره سختی سره پیدا کیږی په چمن کی سترګور .

تدوين قانون اساسي دولت اسلامي افغانستان

انجمن تحقيقات علمي و مشورتي كه داراي بخش هاي متعدد در رشته هاي مختلف علمي بوده اخيرا طرح مسوده قانون اساسي دولت اسلامي افغانستان را توسط شعبه تحقيقات اسلامي تكميل و در معرفي نظر خواهي دانشمندان واهل خبره قرار دادده است .

نماينده مجله حريت درين مورد با برادر محترم محمد اسحاق مجددي عضو بخش تحقيقات اسلامي كه طرح قانون توسط ايشان تدوين و از طرف يك كميسون متشكل از يكعده دانشمندان وخبرا تدقيق گرديده مصاحبه اي به عمل آورده كه اينكه تقديم خوانندگان ميگردد (اداره)

سوال : اگرتوضيح دهيد كه چه انگيزه اي سبب شد تا به تدوين قانون اساسي اقدام نمائيد؟

جواب : بسم الله الرحمن الرحيم

انقلاب اسلامي ما بتوفيق خداي توانا و مهربان «ج» بعد از گذشتاندن يك دوره طولاني مبارزه و دادن قربانيهاي بيشمار در استانه پيروزي قرار دارد وانشاء الله درايندە نزديك شاهد نتايج و ثمرات آن منجمله تاسيس حكومت اسلامي در افغانستان خواهيم بود . ، اين حكومت طبيعتا تابع اصول و قواعد شريعت اسلامي خواهد بود زيرا ما وقتي حكومتي را اسلامي گفته ميتوانيم كه بر اجرات آن قانون اسلامي حاكم باشد بنا بر ملاحظات فوق بخش تحقيقات اسلامي انجمن تحقيقات علمي مشورتي افغانستان تصميم گرفت تا در كنار خدمات تحقيقاتي خود به تدوين مسوده قانون اساسي براي حكومت اينده افغانستان نيز بپردازدكه هم اكنون نخستين مرحله اين طرح بياري خداوند «ج» به پايه اكمال رسيده براي نظر خواهي آماده گرديده است.

سوال : به نظر شما تدوين قانون اساسي قبل از تشكيل حكومت اسلامي در افغانستان يك اقدام قبل از موقع نخواهد بود ؟

جواب : در حال حاضر ما در يك مرحله اساسي از مراحل انقلاب قرار داريم بايد براي انجام كار هائيكه در پيشرو داريم از هر فرصت مناسبي استفاده نمائيم ، جنانچه نميخواهيم بعد از سقوط رژيم مزدوردر كابل در خلاي قدرت قرار گيريم، لازم است كه در خلاي قانون نيز قرار نگيريم از نيرو بايد نمونه و يا مسوده اي از قانون اساسي اسلامي دراختيار حكومت اسلامي قرار داشته باشد و بجاي انكه آنگاه كميسيوني بدين منظور توظيف گردد واين كميسيون بعداز ماهها سعي و تلاش مسوده قانون اساسي را تهيه نمايد بهتر است مسوده از قبل آماده بوده در اندك زماني مراحل تدقيق و تصويب آن طي گرديده در معرض اجراء قرار گيرد .

علاوتا درين اواخر كه قوتهاي كفري از گسترش روز افزون دامنه فعاليت جنبشهاي اسلامي احساس خطر ميكند جهت جلوكيري از اوج كيري تحركات مسلمين و تشكل بيشتر آنها و بالاخره جلوگيري از تشكيل حكومت اسلامي از هر حربه ووسيله اي استفاده مينمايند ، منجمله تبليغات و سيعي را بر ضد قوانين اسلامي براه انداخته چنين وانمود ميكنند كه گويا قانون اسلامي حاوي دساتير وحشتناكي است كه با كرامت انساني و موازين حقوق بشرمغايرت دارد . و هر گونه ظلم و بي عدالتي را در حق افراد غير مسلمان مجاز ميشمرد و ديگر اتهاماتي ازين قبيل . لذا با نشر واشاعه مسوده قانون اساسي اسلامي مردم دنيا بالخصوص مسلمانان فريب خورده به بي بنياد بودن

چنین اتهامات متوجه شده تا حدي از اثرات چنین شایعات مي کاهد .

سوال : درتدوین مسوده قانون اساسي چه شیوه اي بکار گرفته شده؟

جواب : در تدوین مسوده قانون اساسي از کتب معتبر اسلامي ، متون قوانین اسلامي و قوانین معاصر تا جائیکه با احکام شرعي مطابقت داشته استفاده بعمل آمده و بعد روي تمام موادقانون از طریق مراجعه بمراجع عمده ومتعمد شرعي تحقیق صورت گرفته است

در تدوین مسوده قانون اساسي از کتب معتبر اسلامي ، متون قوانین اسلامي و قوانین معاصر تا جائیکه با احکام شرعي مطابقت داشته استفاده بعمل آمده و بعد روي تمام موادقانون از طریق مراجعه بمراجع عمده ومتعمد شرعي تحقیق صورت گرفته است .

سوال : این مسوده حاوي کدام مطالب میباشد ؟

جواب : مسوده قانون اساسي حاوي مطالبي از قبیل :اهداف اساسي ، اصول کلي حقوق وجایب مردم ، بخش دولت ، شوري ، ارکان اداري ، ولایات ، قضاء ، سپاه ، نظام تعلیمي ، نظام اقتصادي ، نظام اجتماعي و سیاست خارجي میباد .

سوال : مسوده قانون اساسي داراي کدام خصوصیاتي میباشد ؟

جواب : در تدوین این مسوده سعي بعمل آمده که مبتني براساسات و موازین مسلم شرعي بوده از اندیشه هاي شخص و مفکوره هاي فریبنده غیر اسلامي متاثر نگردیده و قانوني باشد کاملا اسلامي .

همچنان درتدوین این قانون جهاني بودن آن نیز ملحوظ میباشد تا بخواست پروردکار «ج» بعداز تامین وحدت امت مسلمه که علي الرغم تلاشهاي خصمانه دشمنان اسلام براي جلوگیري از آن علایم و شواهد آن روزز بروز در گوشه و کنار جهان اشکار مي گردد این قانون با حذف مشخصات محیطي آن که از دو سه تا تجاوز نمیکند قانوني خواهد بودهمگاني و مورد قبول براي تمام مسلمین جهان و جوابگوي نیاز هاي حکومت بزرگ اسلامي .

همچنان درتدوین این قانون جهاني بودن آن نیز ملحوظ میباشد تا بخواست پروردکار «ج» بعداز تامین وحدت امت مسلمه که علي الرغم تلاشهاي خصمانه دشمنان اسلام براي جلوگیري از آن علایم و شواهد آن روزز بروز در گوشه و کنار جهان اشکار مي گردد این قانون با حذف مشخصات محیطي آن که از دو سه تا تجاوز نمیکند قانوني خواهد بودهمگاني و مورد قبول براي تمام مسلمین جهان و جوابگوي نیاز هاي حکومت بزرگ اسلامي .

سوال : حالا که نخستین مرحله طرح قانون اساسي بپا یه اکمال رسیده بعد ازین چه مراحلي را خواهد پیمود ؟

جواب : مسوده قانون اساسي هم اکنون براي نظر خواهي آماده گردیده و نسخه هایي از آن دراختیار علماء و دانشمندان مسلمان قرار داده میشود تا ازنظریات و پیشنهادات ایشان در زمینه اکمال خلا هاو نواقص آن استفاده بعمل آید و در قدم بعدي مسوده قانون اساسي بعداز اصلاحات ضروري در پرتو این نظریات از نظر کمیسون عالي مرکب از علماء و دانشمندان آگاه بمسایل متعلق بقوانین اسلامي گزارش مي یابد . بعد از تائید و تصویب این کمیسیون به نشر و طبع آن به صفت مسوده قانون اساسي حکومت اسلامي افغانستان اقدام خواهدشد

و من الله التوفیق

د ژنیو تړون څنګه لاسلیك شو؟

کله چې د ضیاء الحق جنازه پورته شوه ....!

د « فاتح » کتاب د وروستي باب ژباړه

د مې په ۲۹مه د صدر اعظم جونیجو او دملي او ایالتي شوراګانو برطرفي او انحلال نه یوازې د پاکستان ولس بلکې ټولې نړۍ ته یو لړزوونکې خبر ؤ ، جمهور رئیس له دې نه څو شپې وړاندې د پارلمان غړو ته په یوه وینا کې صدر اعظم ته اشاره وکړې وه چې په خپلو کړو وړو کې تغیر راولي ،دا وجړې کیمپ د پیښې په رابطه د پروپاګنډ ونو لړۍ رواني وې ، هر هوښیار سړی په دې پوهیده چې دجمهور رئیس او صدر اعظم ترمنځ روابط څو پر دې خوړول په دې هم پوهیدل چې جمهور رئیس غیر معمولي حوصله او زغم لري نو ځکه خو لږ کسانو د دومره ستر ګام پورته کولو امید کولای شو جمهور رئیس ورو ورو د هیواد د ننیو چار و ټول واك صدر اعظم ته وسپاره .

کله چې په ۱۹۸۷ کال صدر اعظم د پوځ د عمومي قوماندانې د مرستیالي پوست ته په خپله را یه زور اچاوه او د ملتان د قول اردو عمومي قوماندان تورن جنرال راجه سروپ یې پر دې منصب ټاکه نو جمهور رئیس د خپلې خوښې له امیدوارنه لاس پر سر شو ترڅو بیا د دې معاملې د حل لپاره جمهور رئیس د مرکزي قول اردود قوماندان جنرال اسلم بیګ د مقرري پر یکړه وکړه . د پر ځله صدر اعظم د هغه د خبرې له منلو نه سرغړاوی وکړ خو جمهور رئیس سر بیره په نارضایتي خاموش پاتې شوی . د مثال په توګه کله چې په شارجه کې جاوید میا داد په وروستي توپ له هند نه لوبه وګټله او هغه ته په سوغات کې یو موټر ورکړل شو، دجاوید میانداد په



شهید ضیاء الحق

غوښتنه هغه ته د سوغات په ډول دورکړل شوی موټر د ګمرك د محصول معافي امر ورکړ شو ،ټول ولس دغه لوبغاړی ته شاباسی ووایه او هیڅ یو پاکستاني هم د جمهور رئیس له لورې هغه ته د ورکړل شوي سوغات او رعایت مخالفت نه کاوه خو جونیجو داسې وکړل او د جمهور رئیس پردی امر یې اعتراض وکړ هغه به برالا د جمهور رئیس سپکاوی کاوه ، په اپریل کې چې کله جمهور رئیس پارلمان ته خپله کلنۍ وینا اوروله نو د صدر اعظم له دفتر نه هغه ته لیکلی بیانیه ورواستول شوه هغه سړی چې یوازې د ملي شورې په یوه حلقه کې یې انتخابات ګټلي وو اود صدارت چوکۍ وربخښل شوې وه ، د هند او بریتانې د صدر اعظم د اختیار او صلاحیتونو غوښتنه کوله، او هغه هم د قوت په ښودلو سره ،د هغه قوت چیرته ؤ ؟

که چیرې جمهور رئیس د هغه پر خلاف د بې باورۍ تحریك چلولی وای نو هغه به د خپل منصب دفاع کړې وای ؟ دا سمه ده چې صدر اعظم د جمهور رئیس له مجبور یتونو څخه ناوړه ګټه واخسته او له انتخاباتو نه بهر ګوند ونو سره یې رابطه ونیوله خو په شورې کې د ننه د جمهور رئیس ملګرې زیات وو او جونیجو په هیڅ ډول هم له جمهور رئیس څخه ښه ستراتیژیست نه ؤ ، هغه د شخصي رابطې ټینګولو صلاحیت او اهلیت نه درلود او بیا د هغه سرو کار له داسې شخصیت سره ؤ چې په حلم او بردبارۍ کې یې پر دښمنې راوتلي اشخاص هم تسلیمولای شول ، ایا بې جرئته صدر اعظم د پوځي واکمنې پر خلاف سسیاستمدارانو ژورنالستانو ، پوهانو او نورو مختلفو ناراضو ځواکونو نفرت او کرکه دجمهور رئیس پر خلا ف یوه وسیله ګرځوله ؟ او

که ښایي د جینواد خبرو اترو لپاره د امریکا،روسیې اولویدیځې اروپا له تاکید او اصرار نه ښه خبر ؤ ، هغه د شریعت بل د پاس کیدو مخه ونیوله او لویدیځو الوکرکه نه ورتخخه درلوده .

هغه له افغانستان سره هیڅ ډول رابطه نه درلوده او په سیمه کی یې د هند د برلاسی ختمولو په هلو ځلو کی هیڅ رول نه درلود . جونیجو اصلاً یو لیډر نه ؤ هغه یو داسی څوك ؤ چی اوس امریکا ، لویدیځه اروپا او آن روس ورته ضرورت درلود ځکه ده د دغو ځلورو واړو د خوښی شخص ظاهر شاه له واکمنولو سره هیڅ ډول مخالفت نه کاوه .

اوس چی د ځنو لوړ رتبه امریکایانو د کلونو کلونو زیار او هلو ځلو په نتیجه کی د روسیې ، هند ، اسرائیلو او امریکا تر منځ اړیکی ټینګی شوی وی نو ځکه خو د پاکستان د اتومی ځواك حامی ، د کشمیر د آزادی د تحریك چوپ ملګری ، د افغانستان د بشپړی خپلواکی هیله من او له هند سره د ټکر او مخالفت غوښتونکی جمهور رئیس « شهید جنرال ضیاء الحق » د دښمنانو او د هغوی د سر پرستانو سترګو ازغی ؤ او د تعجب خبره دا ده چی نور نو په سیمه کی د دوی ټولی ګټی او اهداف سره شریك شوی وو ، هغوی ټول په سیمه کی د هند د برلاسی غوښتونکی وو ، دوی ټول د بنسټ پالو دښمنان وو او ټولو پر ظاهر شاه توافق کړی ؤ .

دجنیوا خبرو اترو په وروستیو پړاوونو کی جمهور رئیس یوازی پاتی شو.

جونیجو د خلکو د ګوند ملا تړ او تایید هم تر لاسه کړی ؤ کوم ګوند چی په ۱۹۸٤ کال کی یې له ببرك کارمل سره د نیغ په نیغه خبرو اترو غوښتنه کوله اومشران یې له افغانی مجاهدینوسره دومره مخالف وو لکه هند پال او روس پال عبدالولی خان کله چی د لاسلیك ټاکل شوی نیټه را نږدی شوه او جمهور رئیس به دا ویل چی په څو او نیو شاته غورځولو څه آسمان نه را لویږی او په دی ډول به یې غوښتل چی دتړون لاسلیك ځنډول شی همدغه وخت د امریکا جمهور رئیس ریګن پرتیلیفون له ده سره رابطه ونیوله تر دی چی بلاخره هغه له مجبوریته هوکی کړه، د تل په څیر یې دغه معامله یوځل بیا شاته غورځوله تر څو له سره څه نوی لازمه طرحه جوړه کړای شی ، جمهور رئیس کوم ګوند جوړ نه کړ ، هغه په افغانستان کی جګړه په چوپه خوله اویوازی په مخ بیوله هغه دغه راز پټ ساتلی و او اوس یې سمدستی له ټولی نړی سره د جـــګړی اعلان نه شو

> رابرت اوکلی چی د اګست په ۱۷ مه یې د دغه ټیم د پاکستان ته نه راتګ په لار کی مهم رول لوبولی ؤ سمدستی په پاکستان کی د امریکا سفیر مقرر شو . کله چی دکانګریس دجرایمو دتحقیقاتو د کمیټی له خواله هغه څخه پوښتنه وشوه چی دF.B.I تیم یې ولی پاکستان ته وانهستاوه ،هغه ځواب ورکړ« دی ته دچاپام هم نه وو»

کولی په داسی حال کی چی په پاکستان کی د افغانی مجاهدینو ملا تړی ډلی هم له ده څخه لری شوی وی .

آزرده ، خفه اویوازی جمهور رئیس چی تر ستر ګولاندی یې یوه عظیمه تاریخی معرکه له لاسه ورکوله پر خپلو اعصابو ځان قابو کړی ؤ ، د شپی د وروستی برخی په لمونځ او عبادت عادی او پر تقدیر باوری انسان دی ته بل کوم ځواب نه درلود، د نورو په وړاندی به په خندا ؤ ، خپل همیشنی عادی کړه وړه یې کول خو هیڅوك هم نه پوهیدل چی په زړه یې څه تیریږی .

هغه اقتدار عملاً نورو ته سپارلی ؤ او له حساسو بهرنیو معاملو پرته چی په هغو یې برالا څه ویل لازم نه بلل نور یې هر څه ته شا کړی وه او د یوه ښوونکی او فلسفی په څیر یې له هر څه سره ځان بی پروا غوندی ښکاره کاوه ، ایا هغه ته کنځلی کوونکو او د سیاست له ډګره ګوښه کوونکو د دی احساس نه کاوه چی اخر هغه هم د غوښو او هډوکو نه جوړ یو بنی آدم دی ، یوه ورځ یې اعصاب او حوصله ځواب هم ورکولی شی .

خو لکه چی سیاست کار او بارته ورته شی چی په هغه کی هر څوك یوازی خپلی ګټی سنجوی اوپه دی کی د طمعی خاوندان کله کله نوروته د زیان پر ځای ځانونه په تاوان کی اچوی .

؛صدر اعظم هغه وخت څو ساعته وړاندی د لری ختیځ له سفر څخه راستون شوی ؤ اویوه بل هیواد ته د تګ په تکل ؤ هغه د جینوا تړون خپل شخصی بری ګاڼه چی په نتیجه کی به یې مهاجر بیرته خپل هیواد ته ستنیدل ، د پاکستان سیاسی ګوند ونو او مطبوعاتو به د هغه د دی کار نامی ستاینه کوله او بالاخره ټوله نړی به وړیاندی مهربانه وی .

دی جمهور رئیس ته په ماته ورکولو ډیر خوښ و او اوس یې د جنرال اختر عبدالرحمن او ځنو نورو پر خلاف د اقدام طرحی جوړولی د ده باور ؤ چی له دی وروسته به د هیواد تر ټولو ستراو د سترو صلاحیتونو او اختیاراتو څښتن واکمن وی . هغه د صدارت د ماڼی په بڼ کی ؤ چی د برطرفی خبر ورکړل شو د هغه هیڅ

باور نه کیده چې داسې هم کیدای شي په وارواريې پوښتل چې ايا جنرال ضياء الحق او اختر عبدالرحمن ته دا نه ده معلومه چې په هیواد کې دننه او بهر به له څومره ستر مخالفت سره مخامخ کیږي چې دا اقدام يې کړی دی ؟

دا د څو میاشتو وړاندې خبره ده جنرال اختر عبدالرحمن د ګالف لوبه کوله ناڅاپه ودريد او خپل زوی هارون خان ته يې سمدستي وويل : « موږ چې څه باید کړي واي ومو کړل خو هغوی اوس موږ نه پريږدي »

له راز ونو نه ډکې د دې لنډې جملې له ویلو وروسته يې بیرته په څغاسته پیل وکړ ، دا يې د فکر ، او سپورت وخت ؤ چې په خبرو يې له لاسه نه ورکاوه ، هغه په ټول ژوند کې له ټاکل شوي پروګرام سره سم ګام پورته کاوه او هیڅکله يې له هغې نه تیری نه کاوه ، او اوس يې په دې حساس وخت کې هم خپل پروګرام نه بدلاوه تر یوې لسیزې پورې يې یوه ستره جګړه کړې وه ، د دښمن پوريې ادا کړې ؤ برياليتوبونه يې ګټلي وو او د راتلونکو سترو فتحو د تاداو ډبرې يې هم ایښې وې چې که يې وګټلې نو هغه پاکستان به چې د قاید اعظم له وخته تر ننه د بې ثباتۍ سره مخ ؤ د یوه ستر او ډاډه ځواك په حیث مطرح کیږي او اسلامي امت ته به د یوه نوي عهد او د روان بنیاد ایږدي ، بیا به نو ده خپله لاره ولې بدلوله دا ښکاره خبره وه چې ستونزې او خنډونه په دې لاره کې ډیر ووخو دې خو کوم تاجر نه ؤ چې د ګټې او تاوان په حساب يې چارې سنجولې هغه یو جنرال ؤ او په تاریخ کې يې ابدي نوم ګاټه ، هغه یو مسلمان ؤ چې د خپل پروردګار په لوري يې ورتګ ؤ ، د امید ډیوې د دې سړي په زړه کې تل بلې وې ، هغه به يې په خپله څه ورګل کولې ، د هغه لیهر ضیاء الحق ؤ . چې دمصیبت او ازموینت په سختو لحظو کې به يې ګوتې د اسمان لوري نه اوچتې کړې او ده ته به يې ویل :

« اختره ! غم مه کوه الله له موږ سره مل دی »جونیجو د خپلې بر طرفۍ په رابطه په لومړی ورځ هیڅ عکس العمل ونه ښود هغه حیران او ویریدلی ؤ ، په دوهمه ورځ د خپلو ملګرو په اصرار او تاکید له ژورنالستانو سره مرکې ته حاضر شو ، هغـه د دې اقدام تائید ونه کـړ خو

جنرال اختر عبدالرحمن

لهجه يې ډیره له تفاهم ډکه او محطاطانه وه هغه له دې اټکل نه عاجز ؤ چې څه پیښدونکې دي او دې باید څه وکړي . د مې د میاشتې وروستې ماښام په سخته تودوخه کې هغه جاکټ اغوستی ؤ او له جمهور رئیس سره يې وکتل ، جونیجو شکایت وکړ ، خو احتجاج يې ونه کړ ، هغه یو لیډر نه ؤ او دخطر منلوته تیار نه ؤ .

مطبوعاتو او سیاسي ګوندونو د دې اقدام پر خلاف د مخالفت یو ستر توپان په لاره واچاوه ، جمهور رئیس د جونیجو پر حکومت د نادره ګټې پورته کولو ، امن او سلامتي ګډوډول او د شرعي قوانینو د نافذولو له مسولیت څخه د انحراف تورونه ولګول ، هغه په توندۍ سره د بې وزلو د حالت د غوره والي او د اسلامي عدالتونو د قیام وعده وکړه خو په خپله وینا کې يې د اوجړي کیمپ او افغان مسئله په رابطه د پټوساز شونو په باب څه ونه ویل ، جمهور رئیس د جونیجو د ذاتي رويې ستاینه وکړه او زر تر زره يې د انتخاباتو د ترسره کولو اعلان هم وکړ .

جمهور رئیس د راتلونکې لپاره د بنیادي طرحو په جوړولو په توازن سره لاس په کار شو ، له خپلو دوستانو ، پوهانو ، سیاستمدارانو او جنرالانو سره يې اوږدې مشورې اومجلسونه وکړل ، هغه قوم ته وویل چې راتلونکې انتخابات به غیر ګوندي وي او په یوه بیانیه کې د بې وزلو د حالت د بیان په وخت کې د هغه غږ خپ شو کله چې خلکو پرده پورې ملنډې پیل کړې نو د لاهور یو فاضل چې فعلاً د خلکو ګوند غړی دی له لیکو ال « هارون رشید » سره د یوې اوږدې مرکې په ترڅ کې وویل چې هغه پخپله یو ژړغوني انسان دی او په دې هم پوهیږي چې د جمهور رئیس له زړه نه اوس وینې څاڅي ، هغه وویل دا څومره عجیبه خبره ده دغه سړی چې اوس د روس امریکا او هند مقابلې ته راوتلی نو قوم یوازې پریښی دی .

جمهور رئیس پلاتونه جوړول خو په هیڅ ډول نه ډاډ من کیده ، هغه د متناسبې نمایندګۍ په ډیرو صورتونو باندې مشوري وکړې ، د انتخاباتو طریقه يې اعلان کړه اود ضروري قوانینو د جوړولو په باب يې فکر کاوه ، هغه ښکاره غمجن او مایوس ؤ چې غیر ګوندي پارلمان ته يې د ګوندي شوری اجازه ولې ورکړې وه که څه هم هغه تل دا ویل چې خلك د ده مجبوریتونه نشي

درك کولی خو اوس یي د بې وزلو د ملاتړ او د اسلام د انقلابي قوانینو د تغیر خطر ته ملا تړلی وه هغه اوس هم ولس د خلکو ګوند له واکمنی نه د خلاصولو پوخ عزم کړی ؤ .

هغه به جنرال اختر عبدالرحمن د شوری لپاره په وارو وارورا غوښت او په دی خبره یي افسوس کاوه چی ملګری یي په طرحه کړی پلان کی همکاری نشی ورسره کولی او هغوی د حالاتو د چلنج په حساسیت نه پوهیږی . د جولای په وروستیو کی جمهور رئیس جنرال اختر په اشاره وپوهاوه چی د څه ګړبړ نخښی او اثار محسوسوم بیا یي د یوه سړی نوم ورته واخیست او ویي ویل چی د هغه چال چلند شکمن دی . یوه ورځ جنرال اختر جمهور رئیس د هغه سړی سره د ګالف په لوبه کی ولید له لوبی نه وروسته جمهور رئیس جنرال اختر یوی ګوښی ته بوت او ورته ویي ویل چی زه د دی سړی د ذهن لوستلو هڅه کوم .

بیا یي زیاته کړه چی زما شك دی چی څه پیښېدونکی دی تاسو هوښیار اوسی .

جنرال اختر د جولای دمیاشتی په یوه ورځ د ریاست ارکان حرب ته ولاړ او د خپل دفتر مشر تورن جنرال امتیاز ورائج یي را وغوښت او ورته ویي ویل چی که فرضاً کوم وخت پر دی دفتر داړه ماران حمله وکړی د مقابلی لپاره څه ترتیبات نیول شوی دی ، جنرال ورا یج پر دی مهم دفتر د حملی په مقابل کی د تیاری او لازمو ترتیباتو له نیولو نه اختر ته معلومات ورکړل خو هغه په دی ډاډمن نه شو د هغه خبره دا وه چی دا خو معمولی تیاری دی او که چیری کوم غیر معمولی حالت پیښیږی دا تیاری بیا کافی نه دی . تر دی چی له ډیر بحث څخه وروسته د دفتر د ساتنی انتظامات نور هم کلك شول .

جمهور رئیس له ډیرو ورځو را په دی خوا پردی ټینګار کاوه چی د افغانستان د ربړی په رابطه له «ای اس اي» څخه بیله او په رئیس ارکـان پـوری یي وتـړی او

> له پیښور نه په موټر کی جنرال فضل الحق غونډی ته ناوخته راورسید ، د هغه غوښتنه او ټینګار دا ؤ چی د راولپنډی د قول اردو قوماندان جنرال عمرالله خان باید د پوځ اعلی قوماندان او جنرال اسلم بیګ د رئیس ارکان په منصب باید وټاکل شی خو د هغه خبره چا وانه وریده ،هیواد او س په نویو لاسونو کی لیدلی ؤ ، وروسته یي بیا ژړل او ویل یي :« کاشکی اختر خوپاتی شوی وای ».

جنرال اختر یو ځل بیا دغه پروګرام په لاس کی واخلی ، که څه هم جمهور رئیس جنرال حمید ګل یو وطن دوسته ، د اعتماد وړ او ذهین شخصیت ګاڼه خو هغه په پوځ او «ای ،اس، آي» کی په لوړه سطحه دبدلونونو راوستلو پریکړه کړی وه هغه پریکړه کړی وه چی غلام مصطفی جتویي به یي صدر اعظم وی او هغه به دا ګست په ۲۶ مه د دغی منصب لوړه پورته کوی .

جنرال اختر په لومړی سرکی د افغانستان د مسئلی په لاس کی اخستلو په اړه دوه زړی ؤ خو د بهاولپور له تګ نه مخکی چی جمهور رئیس یو ځل بیا په دی خبره ټینګار وکړ نو ورته تیار شو ، په یوه پړاو کی د هغه ذهن ته ولویده چی جمهور رئیس د نظامی حکومت د قیام اراده هم کولی شی جمهور رئیس هغه ته دا ویلی نه وو ، اشاره یي هم نه وه کړی او په خپله جمهور رئیس په دی باب نشوای ویلی د هغه شخصی نظر هم داسی ؤ چی نظامی حکومت مناسب نه دی .

جنرال اختر د حالاتو په رابطه اندیښمن ؤ ، هغه په همدی اړه په فکر او چاره لټولو کی سر ګردان ؤ ، د اګست په ۱۵ مه هغه د شپی تر دوونیمو بجو پوری د« ای ،ایس، اي» له ډګرمن امتیاز سره په سلا او مشوره بوخت ؤ ، دا ډیره غیر معمولی خبره وه ځکه هغه به د شپی په ۱۲ بجو د خوب عادی ؤ او هغه په خپل ژوند کی ډیر لږ له خپل دی معمول نه خلاف کار کړی ؤ . هغه د بهاولپور تګ ته تیار نه ؤ ، د یوه ټانګ د ازموینی له ننداری سره یي څه دلچسپی نه وه ،هسی هم هغه د وخت ضایع کیدلو له مراسمو څخه ډډه کوله ، ډګروال امتیاز مشوره ورکړه چی د بهاولپور په تګ کی تذبذب مه کوه ځکه د پوځ ټول مشران هلته روان دی ، ډګرمن امتیاز له څه مودی را په دی خوا د هغه مرستیال و ، هغه د«آی ،ایس ،آي» د کراچی د څانګی مسول ؤ او ډ ګروالی رتبه یي له لاسه وتلی وه ، جنرال اختر دغه زحمتکش انسان اسلام اباد ته راوست او له جمهور رئیس څخه یي د هغه د رتبی د لوړولو غوښتنه وکړه چی جمهور رئیس د هغه د روغتیا د خرابی په وجه

ځنډولی وه ، هغه د هیواد دننه د اطلاعاتی شبکی مسؤل پاتی شوی ؤ چی د رئیس ارکان لپاره یې معلومات ډیر ګټور ثابتیدل د جنرال اختر او امتیاز تر منځ تر یوه وخته ډیری نږدی اړیکی وی ، کله چی د ۱۹۸۷ په مارچ کی جنرال اختر له «آي، ایس، آي» څخه لری او د پوځ رئیس ارکان وټاکل شو نو امتیاز وژړل او سربي د اختر په لاسونو ورکیښود ،نو د داسی سړی مشوری له پامه نشوای غورځیدلای د اګست په ۱۶ م ماښام جنرال اختر یو ځل بیا له امتیاز سره په دی اړه مشوره وکړه ، د هغه په نظر په پوځ کی بدلونونه راوستل کیدل ، او له دی خبرو اترو وروسته هغه وروستی پریکړه وکړه پخپله جمهور رئیس هم بهاولپور ته په تګ کی دوه زړی ؤ ، خو د برید جنرال محمود علی درانی د پرلپسی غوښتنی په سبب هغه تګ ته چمتو شو ، جنرال درانی د شهید جمهور رئیس د نظامی چارو منشی او باوری سړی ؤ . جنرال اختر څه شی ناکراره کړی ؤ ، هغه په امریکا کی له خپل زوی اکبر خان په کاناډا کی له غازی خان او په ډیر تاکید او اصرار پاکستان ته د خو شپو لپاره راغوښتلیوزامنو هارون خان او همایون اختر سره د تلیفونی تماسونو هڅه وکړه خو له یوه سره یې هم رابطه ټینګه نه کړای شوه ، دوی ورځی وړاندی د هغه میرمنی دوه کفن اغوستونکی له خپل کور نه آسمان ته په الوتلو لیدلی وو ، که څه هم ده دغه ذهن پر خپلو مغزو قبض ته پرینښود او خپلی میرمنی ته یې هم تسلی او ډاډ ورکړ خو په بشپړ ډول یې دغه خیال له ککری ورک نه کړای شو هلته د دیوال شاته د پوځی کور په انګړ کی هم دا کومه معمولی شپه نه وه ، که څه هم جمهور رئیس خپل کهول ته څه ونه ویل چی د څه پیښی اندیښنه ورسره ده خو له خپل مشر زوی اعجازالحق سره یې چی د کاناډا په تورنتو ښار کی ؤ د تلیفونی تماس هڅه وکړه چی کامیاب نه شو ، هغه خپله میرمن د شپی په دری بجو له خوبه راویښه کړه او تر ډیره وخته یې د تیرو وختونو هغه کیسی سره وکړی چی دواړه پکی خوښ وو او له یو بل نه یې څه شکایت درلود .

جنرال حمید ګل

سهار ته جنرال اختر له معمول سره سم له خوبه پاڅید ، له معمول سره سم یې د چایو یوه پیاله وڅښله ، اخبارونه یې وکتل ، غسل یې وکړ اودریشی یې واغوستله سبا ناری یې وکړ او بیا تګ ته تیار شو . تر ۱۹۸۲ کال پوری یې چی کله مور ژوندی وه نو پر زوی به یې له کوره تر رخصت د مخه آیت الکرسی چوف کوله او بیا به یې له کوره بهر ته وتلو ته اجازه ورکوله ، د مور له وفات نه وروسته یې د ژوند ملګری او میرمن دغه معمول ته دوام ورکړ ، نن هم باید همداسی شوی وای خو داسی ونه شول او کله چی جنرال اختر د کور له لویی دروازی نه وتلو نو هغی قرآن کریم راوړ او اختر.ته یې لاندی د تیریدو او له کوره د وتلو وویل ، دا د څه لپاره وو ؟ هغه هیڅلکه هم وهم پرسته نه وه نو دا بیا د څه لپاره وو او څه لوبه وه ؟ میرمن رشیدی هغه ته ونه ویل چی نن شپه یې بیا یو خوب لیدلی دی او د دی خوب په ویلو کی دومره بیړه څه په کار وه خوب هم ډیر سکلی ؤ هغی په خوب کی پر خپل ملګری قیمتی غمی لیدلی وو .

د پاکستان «سي- ۱۳۰» ډوله الوتکه د چکلاله هوایي ډګر نه په پاویاندی اته بجو د بهاولپور په لوری پورته شوه ، له هغه ځایه د هلیکوپتر په واسطه جمهور رئیس او ورسره ملګری د پنځلسو دقیقو په فاصله د خیر پور تامیوالی ته ولاړل تر څو د M1-A1 ډوله امریکایي ټانګ د فعالیت ننداره وکړی په الوتکه کی له جنرال ضیاء الحق سره زیات لوړ رتبه پوځی افسران وو په وار وار دا پوښتنه کیږی چی تر اوسه پوری بی ځوابه پاتی هم ده چی جمهور رئیس دومره زیات لوړ رتبه پوځی منصبداران له ځانه سره ولی بیول؟

د یوی باوری منبع په قول جمهور رئیس شکمن شوی ؤ نو ځکه یې لوړ رتبه پوځی افسران له ځانه سره ګرځول .

دخیر پور په تامیوالی کی د ایم ون ای ون امریکایي ټانګ د فعالیت ننداره په زړه پوری نه وه خو جهور رئیس ورباندی بی خونده نه ؤ او بیرته بهاولپور ته راوګرځید دلته یې د ماسپښین لمونځ ادا کړ اود غرمی ډوډی یې وخوړله ، له پخوا نه د ټاکل شوی پروګرام په خلاف د جماعت لمانځه ځای تغیر شواود ډوډی خوړلو په وخت کی د جمهور رئیس ډیر خوشحاله نه معلومیده .

دری بجی او ۴۶ دقیقی د جمهور رئیس الوتکه د بهاولپور له هوایي ډګر نه والوته د ده په بلنه د امریکا سفیر ارنلاد رافیل او په پاکستان کی د نظامی امورو

مشر هربرت واسم هم په همدې الوتکه کې سپاره شول خو جنرال اسلم بيګ د جمهور رئيس بلنه ونه منله ،هغه وويل چې په لاره کې يوې پوځي جلسې ته ښکته کيږي ،جمهور رئيس ورته وويل هو استا الوتکه هم درميلې ده ، د بهاولپور له هوايي ډګر نه د جمهور رئيس د الوتکې له الوتلو نه دوې نيمې دقيقې وروسته د الوتکې او د هوايي ډګر د کنترول برج ترمنځ رابطه وشليده ، څو شيبې وروسته د ساجد چودرې غږ واوريدل شو چې ويل يې «عاجله مرسته ! » او بيا چوپه چوپتيا خوره شوه د کنترول برج مسول د بيا رابطې هڅه وکړه بيا يې هم (دعاجلې مرستې) لړاوچت غوندې تکرار واوريد ، څو شيبې وروسته نور هم په کمزورې او ټيټ آواز د «مشهود مشهود» غږ واوريدل شو فکر کيږي چې دا د جمهور رئيس د خاص منشي نجيب احمد غږ ؤ آيا د الوتکې په کابين کې ناست کسان بې هوشه شوي وو ؟ په درې بجو او ٤٩ دقيقو الوتکه په فضا کې دتاوانو خوړلو په حال کې وليدل شوه او په دوو دقيقو کې نيغه د ځمکې په لور په رالويدو شوه ، دا د بهاولپور له هوايي ډګر څخه «۹»کيلومتره لرې د ستلج ددرياب په غاړه د لال کمال کلي سيمه وه او په کوم ځاى چې الوتکه را وغوځيده د څلورو خوا ؤ شنو فصلونو په منځ کې لړ غوندې شاړه ټوټه وه .

الوتکه اوس د اور يوه لمبه ګرځيدلې وه او هيڅوک هم نه پوهيږي چې د الوتکې د اور د وژلو تدبير ولې ونه نيول شو هلته چې د ژوند يو نا معلوم اميد هم ځلکو نه کول .

د ضياء د ميرمنې په قول هلته هغه قوماندانې او پوځي قطعه موجوده وه چې هغه يې د کتلو لپاره تللې ؤ خو هيڅوک د اور وژلو لپاره رانه غلل ، هغوى پړې واچول او سيمه يې کلابنده کړه ، خلك د اوبو له ډکو لوښو سره ورغلل خو چا ته د دې اجازه ور نکړاى شوه چې الوتکې ته نږدې شي .

د جنرل ا اسلم بيګ الوتکه تر دې وخته پورې د بها ولپور په هوايي ډګر وه ، او غالباً به د هغه جيټ الوتکې دسې ۱۳۰ الوتکې سګنال هم تر لاسه کړى وي ، هغه له هوايي ډګر نه پورته شوه په فضا کې يې دورې وخوړې او نيغه راولپندې ته ورسيده دلته يې د لوړ رتبه پوځي افسرانو غونډه راوبلله ، دسنا مشر ښاغلي غلام اسحق خان ته يې د جمهورې رياست د عهدې د اشغال بلنه ورکړه چې اسحق خان بيا سمدستي د پوځ اعلى

پيښنور اولاهوره پورې د جمهور رئيس د الوتکې د راغورځيدوخبر رسيدلى ؤ .

د اګست په ۱۹ مه د جنرال اختر عبدالرحمن لاش د هغه کورنى ته راوړل شو ، ورته وويل شول چې لاش ټول سکور ګرځيدلى او د هيچا څيره روغه نه ده پاتې نو ځکه ماتم ځپلې کورنى د هغه مړي له وروستي ديدن پرته د مزار په لورې رخصت کړ خو د يادونو او خاطر و په هنداره کې هر چا ته د هغه څيره همغسې خندا نه ، تازه او له سرو ره ډکه پاتې شوه . په زرګونو ماتم ځپلو په جنازه کې ګډون وکړ خوبوازې څوسوه تنه به په دې پوهيدل چې دا نن دوى په کوم چا خاورى اړولې څوك او څه وړ انسان ؤ ؟

د اګست په ۲۰ مه په اسلام آباد کې د جمهوري رياست له ماڼۍ نه د شهيد

د پاکستان «سي- ۱۳۰» دوله الوتکه د چکلاله هوايي ډګر نه په پاوياندې اته بجو د بهاولپور په لورې پورته شوه ، له هغه ځايه د هليکوپټر په واسطه جمهور رئيس او ورسره ملګرې د پنځلسو دقيقو په فاصله د خير پور تاميوالى ته ولاړل تر څو د MI-Al دوله امريکايي ټانګ د فعاليت ننداره وکړي په الوتکه کې له جنرال ضياء الحق سره زيات لوړ رتبه پوځي افسران وو په وار وار دا پوښتنه کيږي چې تر اوسه پورې بې ځوابه پاتې هم ده چې جمهور رئيس دومره زيات لوړ رتبه پوځي منصبداران له ځانه سره ولې بيول؟

قوماندان جنرال اسلم بيګ وټاکه ، له پيښنور نه په موټر کې جنرال فضل الحق غونډې ته ناوخته راورسيد ، د هغه غوښتنه او ټينګار دا ؤ چې د راولپندې د قول اردو قوماندان جنرال عمرالله خان بايد د پوځ اعلى قوماندان او جنرال اسلم بيګ د رئيس ارکان په منصب بايد وټاکل شي خو د هغه خبره چا وانه وريده ،هيواد او س په نويو لاسونو کې ليدلى ؤ ، وروسته يې بيا ژړل او ويل يې :« کاشکې اختر خوپاتې شوى واى ».

تر څلور نيمو بجو پورې تر کراچې ، ضياء الحق جنازه اوچته شوه ، د هغه پر نامقبوليت متفقو ژورنالستانو ، سياستمدارانو ، پوهانو او د سياسى ګوندونوليډرانو ته دا يوه حيرانوونکې ورځ وه ټول حيران او په تعجيب کې پاتې وو ، هغوى ليدل چې په ژړيدونکو خلکو کې معيوب ، فلج ، کمزورې او بې وزلې څومره زيات خلك جنازې ته حاضر شوي وو ،يتيمانو ، کونډو اوبې وزلو ژړلې او بيا د دوعا يو توپان را اوچت شو د نړۍ زياتوهسې پوهانو ،جنرالانو عاقلانو ، واکمنو ، اديبانو ، شاعرانو وربانډې ژړل

چې تر ۱۱ کلونو پورې یې کنټرولي ورته کولی .

یوازې زبیګنو برزنسکی نه ډیرو نورو له حالاتو نه خبرو پوهانو او سیاسیو نو هم دنیا ته ویل چې د تاریخ پر پاڼو به د دې شخصیت نوم ابدي وي .

د پاکستان ولس ته دا خبر بی بی سی ، نیوزویك او لندن ټایمز ورکړ چې د جنرال ضیاء الحق پر ځای راتلونکی واکمن جنرال اختر عبدالرحمن و، سل ملیونه خلك له دغه سړي نه ناخبره وو ، که یې نه وای وژلی نود دښمن پروګرام نه شوای کامیابیدای ، د بې خبرۍ له ګردونو څخه یو بې ساری او بې مثاله تصویر راووت ، ایا هغه د اسدالله غالب شاعرغوندی وو،خوّاسدالله غالب پر شخصیت خو یوشمیر خلکو اعتراف کاوه ، دا خو عجیب سړی را ووت ایا په تاریخ کی داسې هم پیښیږی چی د ډغرو ددګریوزوراتل دی له مرګ وروسته نړیوال وپیژنی ؟

د شهید جمهور رئیس پر قبر د ګلونو باران جاری شو ، جنرال اسلم بیګ اعلان وکړ چی پوځی کور د« ضیاء شهید کور »به د قومی یادګار په حیث ساتی د تلویزیون له لاری د جنازې مراسم ټول ملت ته وښودل شول ، شاعرانو شعرونه له سلګیو او اهونو سره غبرګ زمزمه کول ، د اوښکو بهیر په څیرو روان ؤ او بیا د ا پوښتنه را ولاړه شوه چی د اسلام او وطن د لاری ددغو نومیالیو سپاهیانو قاتل څوك دي ؟

لاشونه له طبی معاینی پرته خاورته وسپارل شول د امریکا د بهرنیو چارو په دفتر پورې مربوطو مامورینو ژو رنالستانو ته غلی غلی داویل چی دغه پیښه د تخریب کاری یوه دسیسه کیدای شی د پیښی د تحقیق او پلټنی لپاره تعین شوی هیئت پاکستان ته له راتګ څخه منعه کړای شو ، اود پاکستان د هوایی قواو قوماندان د پیښی د پلټنی لپاره یو هیئت وټاکه .

دوی اونی وروسته له رادیو اوتلویزیون څخه دجمهور رئیس نوم ورك شونوی جمهور رئیس اسحاق خان د صدر اعظم له ټاکلو نه انکار وکړ او پرګوندی بنسټ یې دبیا انتخاباتو اعلان وکړ ، د لاهور ایالتی محکمی(هایکورت) چی د اګست په اولسمه د مرکزی او ایالتی شوراګانو د منحل کیدو په باب چی کوم درخواست تر لاسه کړی ؤ د شوراګانو انحلال او د صدر اعظم برطرفی غیر قانونی وګڼل خو د صدر اعظم او شو راګانو د بیرته بر حال کیدو پریکړه یی ونه کړه . د پاکستان ستری محکمی هم دغه حکم تائید کړ د ځنو معلوماتو له مخی ویل کیږی چی جونیجو کوټ او واسکټ اوغوستی وو او هیله من ؤ چی له محکمی نه به نیغ د صدرارت مانۍ ته درومی ، د پوځ اعلی قوماندان اسلم بیګ له سیاسی مشرانو سره پټو ملاقاتونو ته دوام ورکړ، بی نظیر بوټو هم له پوځ سره د لیك لیږ لو رالیږلو لړی ته دوام ورکاوه اسلامی جمهوری اتحاد جوړ شو ، او جونیجو له کوچو څخه د وښتنه ُخیر په هوا شو ، کله چی انتخاباتی مبارزی او فعالیتونه پیل شول نصرت بوټو په یوه جلسه کی وویل چی د پاکستان اتومی تاسیسات به د نړیوالو د معاینی لپاره وړاندی کړی ، په دی خبره د مخالفت یو توپان راوالوت نو بی نظیری د سیاچین په لوړوکی د وژل شویو پوځیانو مسئلی ته زور ورکړ او له دی لاری یی د پخوانیو واکمنو پر خلاف د بهتان او تومتونو زور واچاوه خو د فیصل جومات په لمن کی په ابدی خوب ویده اتل یووکیل هم نه درلود چی دفاع یې وکړی په اسلامی جمهوری اتحاد کی د افغان جهاد د حمایی ډنډوری ډیری په زور وغږول شوی خوددغه جهاد د یوازینیو ملاتړ کوونکو یادونه چاونه کړه، کوم چی د غرونو په څیر د ستونزو له توپانونو سره یې یوازې ډ غری ووهلی .

د بی نظیر بوټو داقتدار تر لا سه کولو نه څو ورځی وړاندی تحقیقاتی ټیم خپل رپورټ وړاندی کړ چی په هغی کی ویل شوی وو چی دا کومه ناڅاپی حادثه نه بلکی د تخریب کاری دسیسه وه ، خو قاتل څوك دی ؟ دغه هیئت د قاتل موندلو پلټنی ته د ځانګړی بل هیئت د تشکیل غوښتنه وکړه ، چی بیا د جمهور رئیس غلام اسحق خان پر حکم د «آی، ایس، آی» او« ایف ، آر، ای» د افسرانو په ګډون یو هیئت وټاکل شو ، وروسته بیا نړیوالو مطبوعاتو په دی رابطه وویل چی دغه هیئت اصلاً هیڅ ډول تحقیقات تر سره نه کړل په دی مطبوعاتو کی په نړی کی تر ټولو ډیر لوستونکو لرونکی خپرونه «ریډرز ډایجست »هم وه «ریډرزډایجست» ته د دغه ټیم مشر د ۱۹۸۹ په جون کی په ښایسته انګریزی یولیك واستاوه چی د ده ټیم د پیښی ګړندی پلټنی ته دوام ورکوي، دیغه لیك

په پاکستانیو مطبوعاتو کی د « خورامهم خبر» په حیث چاپ شو سبا ته اعجاز الحق د دی لیك متن رد کړ او بیا حکومت بیرته چوپ پاتی شو دوه نیم کاله پوره شول خو تر اوسه چا ته دا نه ده معلو،مه چی دغه پلټنی په کومه څمکه او کوم آسمان کی تر سره کیږی ، معلومه نه ده چی د اطلاعاتی اداری « ایف آی ، ای » او « اي، ایس، اي» په دو سبوکی څه لیکل شویدی ، خو د دی لیکوالی د څو میاشتو نتیجه داد ه :

د هوایي قواوو تحقیقاتی ټیم دعادی پیښی د شواهدو نه موندلو په نتیجه کی دغه پیښه د تخریب کاری دسیسه بللی ده . د راپور الفاظ داډول دی : « د داسی تخنیکی علتونو نشتوالی چی د الوتکی دلویدو سبب شي هیئت په دی مطمئن کوی چی دغه پیښه یوه مجرمانه دسیسه وه» ، د یوی با خبره او باوری منبع وینا ده چی دغه د پلټنی هیئت د الوتکی پارچی په لابراتوار کی له دقیقی څیړنی وروسته دا نظر ورکر چی د الوتکی د راغور څولو لپاره زهر جن گاز استعمال شوی ؤ خو په راپور کی یي د دی خبری د برالاویلو پرځای یوازی تخریب کاری ته اشاره کړی وه او بس ، د همدغه باوری منبع په قول د دغه ټیم څنو غړو غوښتل چی پیښنه د تخنیکی خرابی په وجه وښیي ، خو څنو نورو دا خبره بلکل له حقیقت سره ملنډی وبللی دانظر یي ډیر احمقانه باله ، او ویل یي چی هیڅوك هم دا خبره نه شي منلی خو د فشار له امله بالاخره په راپور کی د گاز له برالاذکر څخه صرفنظر وشو ، ترڅو تحقیقات په اصلی لوری گړندی پر مخ ولاړ نه شي .

* کراچی کی دجمعیت العلمای پاکستان دمشر ظهور الحسن بهوپالی او په لاهور کی د مسلم لیگ ممتاز مشر چودری ظهور الهی قاتل تروریست تنظیم الذولفقار له ۲۵ تنو څخه زیات غړی د اگست له دوهمی نیټی څخه وروسته په بهاولپور کی اوسیدل ، په هغو کی څنی کسان د پنجاب د ایالتی شوری د یوه اوسنی غړی په کور کی اوسیدل او څنی نور یي په مختلفو هوټلونو کی اوسیدل د پنجاب د شوری د دغه غړی وورور د ویری اچونی او ترور په ډیرو پیښنو کی ککړ دی .

* د شورا د دغه غړی وورور چی اوس د یوه لوړ پست خاوندی د یوه رسمی افسر په کور کی ؤ چی هغه یي باجه کیږي.

*دا هغه افسر دی چی د الوتکی له راغورځیدو وروسته د هغی د ساتنی ماموریت ورسپارل شوی ؤ او د الوتکی ویجاړه تنه یي په کنترول کی وه ، ده شاوخوا کلا بند کړل او څوك یي د اور وژلو او له ا لوتکی نه دتصویرونو اخستلو ته نه پریښودل ، هغه په بهاولپور کی په روغتون کی هم د لاشونود لابراتواری معاینی د درولو امر ورکړی ؤ او بیا یي هغه جسد ونه د لرگیو په تابوتونو کی واچول او تختی یي ورپسی میخ کړی او خپلو خپلو ځایونو ته یي له دی حکم سره واستول چی هیڅوك هم تابوتونه نشی خلاصولی اومړی نشی لیدلای او د همدغه افسر څنی خپلوان د الذولفقار تنظیم غړي دی .

* د الذولفقار تنظیم دوه تنه غړی د اگست په ١٤ مه د بهاولپور د هند لوری په سرحد کی په داسی حال کی ونیول شول چی بهاولپور ته یي د ننوتلو زیار یوست کوماندو گزمی هغو ی یوی اطلاعاتی پټی شبکی ته په لاس ورکړل بیا دا معلومه نه شوه چی دغه دوه تنه چیرته ولاړل ، هغه منبع سل په سلو کی باوری او د اعتماد وړ ده چی د دغه دوو تنو د نیول کیدو او پټی شبکی ته د سپارلو اطلاع یي ورکړی .

* د دوو ځانگړو او باوری منابعو په قول د الذولفقار تنظیم مشر مرتضی بوټو د اگست په ۱۷ مه په ډیلی کی په مشهوڅ اشوکانو می هوټل کی ؤ ، د همدی منبع په قول هغه د۱۹۸۹کال د اپریل په میاشت کی د سند له سرحد څخه پاکستان ته ننوت او بهاولپور ته راغی له هغه سره یو هندی پاسپورت هم لیدل شویدی .

* که څه هم الوتکه د زهرجن گاز په واسطه له منځه ولاړه خو له الذولفقار سره دوی نوری متبادلی لاری هم وی چی ضرورت ورته محسوس نه شو یو دا چی پر الوتکه پر هوایي ډگر د کوزیدوپه وخت حمله وشی اوله منځه ولاړه شی او بله دا چی په شهید جمهور رئیس او ملگرو یي په جومات کی دلمانځه په وخت کی حمله وشی خو جمهور رئیس لمونځ د جومات پر ځای د پخوانی ټاکلی شوی پروگرام پر خلاف د پوځ د تعلیمی میدان په یوه گوښه کی ادا کړ.

* هغه وخت چي« سی ۱۳۰۰ » الوتکه په هوایي ډگر ولاړ ه وه په هغی کی د زهر جن گاز یو ډبلی ځای پر ځای شویدی ، دغه ډبی د کومی پرزی په سایز او کچه جوړ شویدی او بیا د پرزی پر ځای هلته ایښودل شویدی رنگ او شکل یي بشپړ د همغی پرزی په څیر دی ، دا کار د ټیټی رتبی یو صاحب منصب د یوه فنی سړی په مرسته کړیدی ، هغه تحقیقاتی ټیم چی په چوپه خوله د پیښی پلټنه کوی په دی باوردی چی دغه ډ بلی

چې په غالب گومان وروسته بیا د ریموټ کنټرول په واسطه سره چاودول شویدی د کومې ځواکمنې جاسوسي اداري لخوا تهیه شویدی دغه د بلي د الذولفقار په واسطه بهاولپور ته رسول شویدی او په الوتکه کې نصبوونکو ته په واك کې ورکړل شویدی .

* په دغه دسیسه کې دهند د جاسوسي شبکې راښکون سل په سلو کې باوري دی د یوې بلکل اعتمادی منبع په حواله له دې پیښي نه لږ موده وروسته د «را» څلور تنه اجنټان ونیول شول ، له دې څلور و تنو څخه دوه تنه د چکاله له هوایي ډگر سره او دوه تنه د بهاولپور د هوایي میدان په شاو خوا کې، د چکلا په شاو خوا کې نیول شویو کسانو د الوتکې له راغورځولو او د خپل ماموریت د ترسره کولو نه وروسته د مخابري له لاري نورو دوو تنو ته د خپل ماموریت دموفق ترسره کیدو اشاره هم ورکړې وه .

دغو څلورو تنوبیا په خپل جرم اعتراف هم کړی دی ، هغوی کوم نامعلوم ځای ته وړل شویدی ، د هغوی پرخلاف نه څه قانوني اقدامات شویدي او نه څه لازمه جزا ورکړه شوې ده ، څلور واړه د هند د یوه ښار اوسیدونکی دی د دغه کتاب د لیکلو په وخت کې دوه ځله خبر راغلی

د ضیاء د میرمنې په قول هلته هغه قوماندانی او پوځی قطعه موجوده وه چې هغه یې د کنټلو لپاره تللی ؤ خو هیڅوك د اور وژلو لپاره رانه غلل ، هغوی پرې واچول او سیمه یې کلابنده کړه ، خلك د اوبو له ډکو لوښو سره ورغلل خو چا ته د دی اجازه ور نکړای شوه چې الوتکې ته نږدې شي .

چې دغه کسان وژل شویدی خو وروسته بیا معلومه شویده چې تر اوسه پوری ژوندی دی .

که څه هم د پیښې په رابطه د سي آی ای د لاس درلود لو کوم برالاثبوت نه دی تر لاسه شوی خو وروسته بیا د الوتکې د ویجاړیدو په رابطه د امریکا حکومت تر ممکنه حده د حقایقو په پټولو کې لاس په کار دی . په دغه پیښه کې دوه تنه امریکیان وژل شوي دي چې د امریکا د قانون له مخې باید د پیښې تحقیقات پخپله د امریکا دحکومت له خواتر سره شوي واي خو د تحقیقاتو لپاره ټاکل شوی ټیم ته یي پاکستان ته د راتگ اجازه ورنکړه .

* د هوایي قواو او د اطلاعاتی اداری د متخصصینو پر ځای یې چې مجرمان یې پیژندلای شوای فنی ماهرین راواستول ، هغوی یوازې دا معلومه کړه چې پیښه کومه تصادفی او د فنی خرابی په وجه نه بلکې د تخریبکاری نتیجه وه ، په افغانستان کی له «سي، ای ،اي» سره د کار تجربه کارو خلکو وینا ده چې که سی ای ای غوښتي وای نو د اگست د ۱۷ می نیټې تر شپې پورې یې د ثبت شویو سگنالو نو په واسطه زیات شواهد او اسناد تر لاسه کولی شوای .

* د ځنو امریکایي اخبارونو او کانگرس د غږو د فشار په نتیجه کې له دغې حادثې نه لس میاشتې وروسته د «F.B.I» ټیم اسلام اباد ته راغی ، د دغه ټیم غړي د پاکستان میلمانه وو ، هغوی یوازې یو ځل له اسلام آباد څخه بهر ته ووتل کله چې هغوی له حکومتي مامورینو سره یو ځای د ټیکسلا موزیم او کنډوالو سیل ته ولاړل ، د جنرال اسلم بیگ د پیلوټ او نورو زیاتو عینی شاهدانو له قوله د شهید جمهور رئیس زوی اعجاز الحق له دغه تحقیقاتی ټیم سره د ملاقات پیشنهاد وکړ خو له هغوی سره په ملاقات بریالی نه شو .

* رابرت اوکلی چې د اگست په ۱۷ مه یي د دغه ټیم د پاکستان ته نه راتگ په لار کې مهم رول لوبولی ؤ سمدستي په پاکستان کې د امریکا سفیر مقرر شو . کله چې دکانگریس دجرایمو تحقیقاتو دکمیتی له خواله هغه څخه پوښتنه وشوه چې دF.B.Iټیم یې ولې پاکستان ته وانه استاوه ،هغه ځواب ورکړ« دی ته دچاپام هم نه وو» پداسې حال کې چې دکوم قانون له مخې چې بایددF.B.I تحقیقاتی ټیم پاکستان ته راغلی واي،دهغې دنافذولو لپاره ترټولوزیاتی هلې ځلې ښاغلی «اوکلي»کړي وي.یوبل وخت بیاهغه وویل:پاکستانی پوځ هغه یوازینی اداره وه چې . دغه اداره دی دبې ثباتی ښکارشي.

* د اگست په ۱۳ مه په بهاولپور کې یوه امریکا یي راهبه په مرموز ډول ووژل شوه قاتل د الذولفقار غړی ؤ چې نور کسان یې هم په دې ښار کې وو ، د وژنې په دغه درنده حادثه د امریکا حکومت

هیڅ ځان ونه خوځاوه او دا یې د لوټماری یوه فقره وبلله او معامله یې پټه کړه .

* د دې پوښتنې هیڅ ځواب نه موندلی کیږي چې د«را» الذولفقار او په بهاولپور کې د سر کاري افسرانو ترمنځ رابطه چا ټینگه کړې ده ،دا یوه ځواکمنه جاسوسي اداره کیدای شي .

* د ۱۹۸۹ په ستمبر کې د جنرال اختر زوی هارون اختر امریکا ته ولاړ ، هغه د کانگرس د جرایمو د تحقیقاتو کمیټې ته ترینځو ساعتونو پورې د پیښې په باب توضیحات ورکړل هغه د دغې دسیسې د ځنو برالا نښانو په باب د کانگرس غړو ته معلومات ورکړل هغوی ظاهراً له دې معاملې سره زیاته دلچسپي وښودله خو وروسته بیا هیڅ معلوم نه شول چې امریکا یانو د هغو معلوماتو په رڼا کې کوم گام پورته کړ .

* ظاهراً داسې ښکاري چې له دې وضعیت څخه تر ټولو زیاته گټه پورته کوونکې امریکا دپیښې له ټولو جزیاتو څخه با خبره وي کوم چې نیوز ویك «زوړ اوتیاره راز »نوم وربانډې ایښی ، هغوی نه غواړي دغه راز بهر ته راووزي چې په نتیجه کې به یې ښایي په سیمه کې د خپلې خوښې پالیسې ته دوام نه شي ورکولی .

* په شخصي ډول د دغه حادثې د یوه پلټونکي په نظر امریکا ته سمدستي د پیښې حقایق ټول معلوم شول او هر وخت یې چې غوښتلي وای د یوې اونۍ په اوږدو کې یې ټول راز بهرته راویستلی شوای ، خو د دوی د قومي گټو تقاضا دا ده چې په ... پیښه داسرار او رموز وبرده پرته پاتې وي ، ځکه خو یې هره اداره له خوگامه اخستلو وروسته دریدلې . د پورتنیو حقایقو په رڼا کې د کتاب د لیکوال پخه رایه داده چې په دې دسیسه کې لاندینی شبکې یقیني لاس لري :

۱- د هند جاسوسي شبکه «را»

۲- ویره اچوونکې تروریست تنظیم الذولفقار .

۳- څو تنه سر کاري افسران خامخا ورسره شامل دي .

٤- د پیښې د مجرمینو د ساتنې مسؤلیت د امریکا په غاړه دی ځکه چې هند او بل کوم هیواد په پاکستان کې د راز پټولو فضا نشي جوړولی .

۵- یو یادوه تنه افسران په غالب گومان شعوري په کار اچول شویدي .

دحادثې نه وروسته په ملتان کې د پوځی قرار گاه دقوماندان برید جنرال محمود علي دراني نوم هم اخستل کیږي، ځکه هغه د اگست د ۱۷ می نیټې د ټانگ د تطبیقاتو پروگرام تر تیب کړی ؤ او له جمهور رئیس څخه یې په وار وار په دغه محفل کې د گډون غوښتنه کوله ، دراني جمهور رئیس او جنرال اختر ته ډیرنږدې ؤ داسې سند په لاس کې نشته چې هغه دې کله له دوی څخه خفه شوی وي ، هغه ته له دې حادثې نه څه گټه هم تر لاسه نه شوه هغه تراوسه پورې په دې پیښه ډیر خفه دی ، د دې امکان هم شته چې ځنې کسانو دې هغه ته جمهور رئیس راوستلو ویلی وي او دې د هغوی په مقصد نه وي پوهیدلی .

ایا ډ گرمن امتیاز د دې پیښې د مسولانو په لست کې شامل دی ؟

پر دې سر بیره چې هغه جنرال اخترپه الوتکه کې سپور کړی دا لازمی نه بریښي چې له دسیسې څخه دې خبر وي ، د اگست په ۱۷ مه چې هغه له حادثې نه وروسته مخ پر ځېر و واهه او ژړل یې د دې گومان کیږي چې هغه دې بې خبره په دې دسیسه کې استعمال شوی وي بیا هم په دې اړه سم او ژوړ تحقیقات په دې باب اصلي حقیقت معلومو لی شي له پیښې نه وروسته د دې ذهنیت لپاره ډیر گرم کار روان ؤ چې د پیښې مسؤلیت پر شعیه گانو ورواچوي کوم چې یو ستر لیډر یې د ۸۸ کال په ورستیو کې شهید کړای شو په دې رابطه دوه شواهدوړاندې کیږي .

لومړی دا چې د الوتکې پیلوټ مشهود حسن شیعه ؤ ، له لندن څخه دالذولفقار یوه اعلامیه خپره شوه چې په هغې کې دغه حادثه د مشهود حسن کارنامه وگڼل شوه اوهرکال یې د کلیزې دمانځلو اعلان وکړ خو ډیر زر دا معلومه شوه چې د مشهود حسین تر اوو نسلونو پورې څوك شیعه ثابت نه شول ، او هغه د مشهور ژورنالست« الطاف حسین قریشي» خپلوان ؤ ، وروسته بیا یوه بله کیسه را منځ ته شوه . ځنو منابعو دعوه وکړه چې د هوایي قواوو یو بل پیلوټ د ټولي قوماندان رمیض له شیعه مذهب سره اړوند ؤ ځرنگه چې هغه د الوتکو له انجنیر ساجد سره نږدې اړیکې درلودې ورو ورو یې د هغه فکر ځانته واړاوه چې په نتیجه کې د پرواز په وخت کې ساجد* الوتکې د کنترول سیستم خراب کړ او الوتکه را وغورځیده ، د دې شك په وجه رمیض ونیول شو ، شپږ، اوه اونۍ تر تحقیق لاندې ؤ هغه ته په دې موده کې سختې شکنجې هم ورکړل شوې تر دې چې د هوایي قواوو لوړ رتبه افسران د ده مرستې ته ور ورسیدل د هغوی د لیل دا ؤ چې که چیرې پیلوټ غوښتل هم چې الوتکه را وغورځوي په دې نه شوای توانیدلی .

د شیعه گانو رول درلودلو په رابطه

په دغه پيښه کی حتی نوری کيسی هم شته او د پټو اسنادو په نامه د ځينو پاڼو فوتو کاپی هم په اخبارونو کی چاپ شوی . د دی تر شا د هند په شمول د ډيرو نورو اړخونو لاس امکان لری ، هند تر هر څه زيات له دی سره دلچسپی لری چی پاکستان په سند کی له ژبنی کشمکش سره د لاس او گريوان کيدو سر بيره د شيعه اوسنی تر مينځ د اخ او ډب او جنجال ډگر هم شی . پر قاديانيانو هم تورونه لگول کيږی او دا هم له اصلی مجرمينو څخه پر بل لوری د پام اړولو د هڅو يوه برخه ښکاری .

د ۱۹۸۹ په جولای کی د پنجاب پوليسود دغی پيښی په باب تحقيقات پيل کړل او په يوه پړاو کی داسی هم محسوسه شوه چی د پيښی عاملين به رسوا کړی ، خو يو مرموز لاس وخوځيد او بالاخره دغه تحقيقات هم نيمگړی پاتی شول . د مرحوم صديق سالك زوی سرمد سالك د امنيتی مسؤلينو پر خلاف دعوه دايره کړه اود سل مليونه روپو تاوان غوښتنه يې وکړه ، د ۱۹۸۹ په پای کی محکمی د سرمد سالك په حق کی يو طرفه پريکړه صادره کړه ، ځکه حکومت د خپل دريځ له اظهار نه ځان ساته ، وروسته بيا حکومت د دغی دعوی پر خلاف د پنجاب په محکمه کی د دی پريکړی پرخلاف وړانديز وکړ چی تراوسه پوری په جريان کی ده او اوس له يوه بل قاضی سره ده هغه قاضی چی لومړی دغه دعوه ورسره پرته وه لاهور ته تبديل شو .

د سرمد سالك د يوی بلی عرض پاڼی په رابطه د محکمی د دغی پريکړی نه وروسته چی د پيښی په رابطه يې د پنجاب پر پوليسو او د اطلاعاتی شبکو په بی کفايتی او مسوليت فيصله کړی ده څنو اروندو کورنيو له نواز شريف سره رابطه ونيوله او هغه ته يي ورياده کړه چی د محکمی له فيصلی وروسته د دغی پيښنی پوره تحقيقات د پنجاب د پوليسو مسوليت دی ځکه د دوی په ساحه کی حادثه را منځ ته شويده .

د ۱۹۸۹ په جولای کی د پنجاب وزيراعلی نواز شريف د ملتان د پوليسو قوماندان « ايس ،ايس، پی» احمد نواز خان نيازی وروغوښت او هغه ته يي هدايت ورکړ چی په بشپړه خپلواکی او صلاحيت د دغی پيښنی د مجرمانو لټو ن وکړی ، احمد خان نيازی دڅو اونيو هڅو په نتيجه کی دامعلومه کړه چی د ۱۹۸۸ کال د اگست په ۱۷ مه د بهاولپور په ښار کی د الذولفقار اوه تنه اجنټان موجود وو په دی کی څنی گواهان او اسناد هم را پيدا شول چی دا تری څرگنده شوه چی په پيښه کی د هند د جاسوسی شبکی «را» لاس ؤ .

هغه د پلټنی دجريان د پر مختگ لپاره د اطلاعاتی اداری مرستی ته اړتيا حس کړه چی بيا د پنجاب پوليسو رسماً «ايف ، اي، اي» ته وليکل چی د بهاولپور د بدمرغی پيښنی پر جريان کی په ۱۹۸۸ کال د هغه اداری له خوا تحقيق نتايج بايد د پنجاب پوليسو ته وسپاری د دغی اداری مرکز ی دفتر دغه پيشنهاد ته هيڅ ډول ځواب ورنه کړ ، او چی په وار وار دغه غوښتنه تری وشوه نو په ځواب کی يي يوازی دومره ليکلی وو چی له يوه کال وروسته د پنجاب پوليس د دغی پيښنی د پلټنی په باب ولی دلچسپی لری ؟ او بيا دا هم په ليک کی ليکل شوی وو چی د پنجاب پوليس د اسلامی ديموکراتيك اتحاد په خوله د سياسی هدفونو په خاطر د دغی پيښنی تحقيقات کوی .

د پوليسو ځوابی دليل دا ؤ چی د هيواد د جمهور رئيس او ۲۸ تنو لوړ رتبه پوځی افسرانو د وژلوتحقيقات يوازی په دی خيال نه درول کيږی چی نتيجی يي سياسی هم کيدای شی ، نيازی د گواهانو او اسنادو په دليل دا رايه ورکړه چی د اگست د ۱۷ می نيټی پيښه د« را » په واسطه تر سره شوه چی د پلی کولو لپاره د الذولفقار غړی له بهاولپور څخه ۱۱٤ کيلومتره لری د هند له سرحد څخه پاکستان ته راننه وتلی وه .

د حتمی نتيجو تر لاسه کولو لپاره هغه د اگست په ۱۷ مه د بهاورلپور د هوايي ډگر د امنيتی مسؤلينو څخه هم پوښتنی کول غوښتل هغه خپل ځينی کسان پوځی قطعاتو ته هم واستول ، خو چا څه اهميت ور نه کړ او معلومات ورکولوته حاضرنه شول ، نيازی ډير زر شکايت وکړ چی نه يوازی له تحقيقاتو څخه بيلی شوی اداری ای ايس آی بلکه د هغی خپله اداره اود پوليسو اداره د ده څارنه کوی نيازی ويريدلی ؤاو يوه مرستندوی ته يي ضرورت درلود خو چا مرسته ورسره ونه کړه .

د نومبر په پيل کی په ملتان کی ټاکل شوی د لاهور د يوه انگليسی اخبار يوه نماينده د دغی پيښنی څنی مهم راز ونه ومونډل هغه يي خپل اړوند اخبار ته د يوه رپوټ په شکل واستول خو په هغه اخبار کی نشر نه شول د همدغی مطبوعاتی اداری اردو اخبار د غه خبر د ۱۹۸۹ د نومبر په ۲۹ مه نيټه پخپل لومړی مخکی په غټو تورو تر شپږو کالمه عنوان لاندی خپور کړ په خبر کی ويل شوی وو چی د پنجاب پوليس د مجرمينو په مونډلو بريالی شوی دی پردی يوه لويه

هنگامه جوړه شوه او سباته د پنجاب د پولیسو مشر سلمان قریشي دغه خبر ډیر په سختی سره رد کړ .

هغه خبر یالانو ته په دی هکله وویل چی دپنجاب پولیس د مجرمینو پیدا کولو خو پرځای پریږده تر اوسه اصلاً د دی حادثي په باب تحقیق هم نه دی کړی .په همدی ورځ د مرکزی حکومت یوه ترجمان هم یوه اعلامیه خپره کړه چی په هغی کی د پیښی دمجرمینو د پیداکولو خبره د اسلامی دیموکراتیك اتحاد د خولی یوه پروپاگندی حربه وبلله نوموړی ترجمان وویل : موجوده حکومت د ۱۹۸۸ کال په اگست کی اقتدار نه درلود او نه یي په واك کی دومره وسایل او اختیارات وو چی د پیښی تحقیق یي کړی وای ، پر دی سر بیره که د مرحوم جمهور رئیس جنرال ضیاء الحق او جنرال اختر عبدالرحمن له زامنو سره داسی کوم اسناد او شواهد وی لکه په نوموړی راپور کی یي چی یادونه شوی ده نو بیا د اوسنی حکومت نه مخکی هغه وخت چی نواز شریف د پنجاب نگران اعلی وزیر وُ باید هغه ته ورکړل شوی وای دا دومره ځند پکی د څه په خاطر وُ ؟ که له چا سره څه شك وی چی د دی پیښی پر تحقیقاتو پرده اچول کیږی نو مسؤلیت یي د پنجاب حکومت ته متوجه دی او باید له هغوی نه پوښتنه وشی . د پنجاب د پولیسو دعمومی قوماندان او د مرکزی حکومت لخوا له د غه تر دیدی اعلان نه وروسته تر اوسه پوری د دی حادثي په باب هیڅ ډول تحقیقات نه دی شوی د نومبر په ۳۰ مه هغه خبریال ته چی نوموړی خبر یي نشر ته سپارلی ؤقانونی خبر ورکړل شو چی د دغه خبر د چاپ او صحت په باب قضایي محکمی ته قناعت ورکړی ، نوموړی خبر یال د معلوماتو ورکولو له اصلي منبع سره رابطه ونیوله د هغه ماموریت ترخطر لاندی راغلی ؤ .

په رالونکی ورځ په منډو منډو هغه هوایي ډگر ته ځان ورساوه هلته اعلی وزیر په کومو مراسمو کی د گډون لپاره مخکی موجود ؤ یوازی یوه شی د هغه ماموریت ته نجات ورکولی شواو هغه دا چی وزیر اعلی د راپور تصدیق وکړي، له دی نه پرته هغه باید له همدی ډگر نه نیغ د دفتر پر ځای خپل کور ته ستون شوی وای او هغه وخت د نوموړی خبریال ساه پر ځای شوه چی وزیر علی بر الا وویل چی د ۸۸ کال د اگست د ۱۷ می نیټی د پیښی تحقیقات دپنجاب د پولیسو لخواهمدا اوس هم روان دی او په دی رابطه څه پرمختگ هم شویدی ، د دی پیښی په رابطه د لاهور ایالتی محکمی هم د پنجاب له حکومت څخه را پور غوښتی دی چی موږ به یي محکمی ته وړاندی کړو ورروسته به ټول حقایق خلکو ته برالا شی .

کله چی له اعلی وزیر نواز شریف څخه پوښتنه وشوه چی د پولیسو قوماندان خوله تحقیق څخه ځان منکر کړی دی هغه په ځواب کی وویل چی د پنجاب پولیس د داسی پیښنی له پلټنی څخه غافل نه شي پاتي کیدای دا د پولیسو فرض دی چی دلته هر ډول پیښه منځ ته راځی که یي نوری شبکی تحقیق کوی که نه د دوی فرض دی چی تحقیق وکړي .

د نوموړی خبریال رنگ ته وینه راغله د هغه ماموریت له گواښ څخه خوندی شو ، خو پوښتنه دا وه چی د پولیسو قوماندان سلمان قریشی ولی انکار کاوه ؟ اخبارونو پر دی راز د پوهیدو هڅه ونه کړه البته په همدغه ورځ د پولیسو د قوماندان یو بیان په اخبارونو کی راغلی وُچی په پنجاب کی هم د سند په څیر بد امنی را روانه ده .

د ۱۹۸۹ د دسمبر په لومړی نیټه د پنجاب اعلی وزیر په ټوبه ټیك سنگ کی په یوه عامه غونډه کی خپل دغه اعلان بیا تکرار کړ چی د پنجاب حکومت د بهاولپور د پیښنی تحقیقات کوی او بشپړ راپور به دولس په وړاندی افشا کوی ، د اعلی وزیر الفاظ څه داسی وو :

د شهید جنرال محمد ضیا الحق د الوتکی پیښه یوه ستره تخریبکاری وه چی په هغی کی د هیواد جمهور رئیس او ځنی لوړرتبه جنرالان شهیدان شول اوسنی مرکزی حکومت په دی رابطه هیڅ تحقیقات ونه کړل ، اطلاعاتی اداره یي آرامه کینبنوله چی پلټنی ته یي ضرورت نشته د پنجاب حکومت له اطلاعاتی اداری څخه وغوښتل چی د دی پیښی په رابطه خپل راټول شوی معلومات د پنجاب حکومت ته وسپاری تر څو تحقیقات تکمیل کړی خو هغوی داسی ونه کړل ، آیا تر دی ستر جرم شته ؟.

د اعلی وزیر له وینا نه دری ورځی وروسته د پولیسو عمومی قوماندان سلمان قریشی د ملتان د پولیسو قوماندان ته امر وکړ چی د ۲۵۲ نمبر دوسیي بهاولپور د پیښنی تحقیقات تر هغه وخته پوری و دروی ترڅو د قانون د وزارت قانونی رایه تر لاسه نه شي .

د پولیسو عمومی قوماندان دغه امر هغه وخت صادر کړ چی اعلی وزیر دری ساعته وړاندی د عمری داداکولو لپاره سعودی عرب ته روان شوی وُ د تیلگرام په واسطه د دی پیغام خبر خبر یالانو ته په لاس ورغی او د دسمبر په ۶ مه

دکراچي او اسلام اباد دوو اخبارونو خپور کړ په خبر کې ویل شوي وو چې سلمان قریشي دا هر څه دمرکزي حکومت په اشاره کوي او د مرکزي حکومت څنو وزیرانو دهغه د ورور په واسطه چې فعلاً په امریکا کې اوسیږي له سلمان قریشي سره رابطه نیولي ده دا وعده هم ورکړل شوې ده چې که هغه د پنجاب د پولیسو له عمومي قوماندانۍ څخه برطرف کړای شي مرکزي حکومت به یې د اطلاعاتي اداری «ایف، آي، اي» مشر مقرروي .

۲٤ ساعته وروسته د پنجاب د پولیسو قوماندان یو وړوکی اخباري بیان جاري کړ چې د دسمبر په ۸ مه په اخبارونو کې چاپ شو ، بیان داسې ؤ :

« د پنجاب د پولیسو ستر افسر سلمان قریشي داخبره توضیح کړه چې د پنجاب پولیسو د بهاولپور د پیښې تحقیقات نه دي پرې ایښي ، هغه وویل چې یو لوړ رتبه ټیم د دغه پیښې تحقیقات کوي او د هیواد اطلاعاتي اداري ته یې د پیښې په باب دراغونډو کړو معلوماتو دوسیه بیرته ورسپارل کیږي . »

هغه دغه خبر رد کړ خو د دې وضاحت یې ونه کړ چې ایاده د پیښې د تحقیقاتو د درولو امر ورکړی ؤ که نه؟ هغه په داسې موقعیت کې نه ؤ چې په دې باب برالا څه وویلی شي ځکه له ژورنالستانو سره د هغه تلګرام کاپي موجوده ؤه چې ملتان ته یې مخابره کړی ؤ ، هغه په دې باب هم چوپه خوله وو چې له نن نه پوره ۹ ورځې مخکې یې د تحقیقاتو د تر سره کیدو څخه غوږ انکار کړی ؤ او اوس د تحقیقاتو د دوام خبره کوي .

د امنیتي د قوماندان په خبرو کې بنیاد ی خبره هغه وه چې د هیڅا هم هغه وخت ورپام نه شواو حقیقت یې په راتلونکو اونیو اومیاشتو کې څرګند شو چې :

«ایف، آي ،اي ،»دهیواد اطلاعاتي اداری ته به اړونده دوسیه بیرته ورسپارل کیږي «ایف، اي، اي» خو د ۱۹۸۸ د دسمبر په میاشت کې د تحقیق جریان درولی ؤ ، او په جولای کې یې د پنجاب حکومت ته دا رونډي دوسیې له ورکولو څخه انکار کړی ؤ ، د پنجاب د پولیسو افسر اوس په دسمبر کې په مربوطه دوسیه ولې حواله ورکوي ایا د دې مطلب په راتلونکې ورځو کې د دوسیې د تحقیق د پرمختګ د لارې خنډ کولو ته پلمه نه ده ؟ بدترینې اندیښنې ربښتیا شوې او د اتم د دسمبر د تردیدي بیان پر ځای د څلورم دسمبر په پیغام عمل وشو ،لږ موده وروسته احمد نواز خان نیازي له ملتان څخه لاهور ته تبدیل شو ، د ای ،اس، ای ، مشر جنرال حمید ګل چې له رسمي دندې سره سره په ربښتیا ویلو عادت ژاود بهرنیو دسیسو په وړاندې یې مقاومت کاوه په ۱۹۹۰ کې د بهاولپور د دردناکې پیښې په رابطه د تحقیقاتو یو هیئت ته کیدای اواوس خو د پنجاب د پولیسو په جبهه کې هم دسیسه کارانو میدان یوړ ځکه چې لاس یې ډیر زیات اوږدؤ .

احمد نواز نیازي اوس په لاهور کې دی ،او په دې باره کې د سلمان قریشي په څیر ډیرې کیسې اوریدلی کیږي پلټنه او تحقیق اوس یوه بل افسر ته حواله شوې دی هغه هم کار له سره پیل کړی دی ، آیا هغه به په کار پیل کړی وی او آیا پای ته به یې ورسوی ؟!

آیا د جنرال محمد ضیا الحق او جنرال اختر عبدالرحمن د قاتلانو پته به ولګیږي او که به د صدر اعظم لیاقت علي خان د شهادت په څیر داسرار و پردې وړاندې پر یوزي .

د ۱۹۵۱ پر خلاف د ۱۹۸۸ کال پیښې شاته ډیرې نخښې او پلونه پریښودل، قاتل ژوندی دی او د هغه پرخلاف ژوندي او قوي ثبوت هم موجود دی هغه اوس له منځه نشي وړل کیدای .

د یوه ممتاز شخصیت نظر دا دی چې که د وو تنو عادي تانه دارانو ته صلاحیت آزادي اووسایل په واك کې ورکړل شي نو جنایت کاران به د یوې هفتې په جریان کې د زندان د پنجرو شاته ودروی او د کتاب د لیکوال را به هم همداسې ده .

امریکا پر دې جنایت پردې غوړوي

وویل چې د هغه اداره یې د دغه پیښې له پلټنې څخه جلا کړه د هیواد د اطلاعاتي اداری ته خو څه تمه نشوای

کله چې هغه شیبه را ورسیده چې وړاندې نور د تاریخ ابدیت ؤ نو هغه دواړه ووژل شول ، له بشپړ شوي یوه خوب سره هغوی ډیر نور خوبونه هم لیدل له افغانستان څخه وروسته د کشمیر د آزادي خوب ، او له افغانستان څخه په ماته او رسوایي د تښتیدلیو له زنځیرونو څخه دمحکومو اسلامي ریاستونو د آزادولو خوب د آزاد افغانستان د پاکستان ، ترکیې اوایران د یوه اسلامي اتحاد د خوب چې د مسلمانانو آزادي تکمیل کړي او د نورو له ذلت او اسارت څخه یې وژغوري

دا پخپله د امریکا یي اخبارونو رایه ده ، د بی نظیر بوټو په وړاندی چی پلار یي د جمهور رئیس ضیا الحق د واکمنی په موده کی په دار وځړول شو ، دا یوالهی عدالت ؤ .

د الذولفقار مشر میر مرتضئ بوټو په سوریه کی پناه اخستی هلته یي چی په ۱۹۸۱ کال کی د پاکستان یوه «PIA» لوتکه تښتولی وه .

که په هیواد کی یوه ځواکمن گوند او یا ځواکمن د حکومت مخالف اتحاد په پوره اخلاص او زور دا پوښتنه راولاړه کړی وای نو حکومت ته ستونزی رامخی ته کیدی ، خو سیاسی گوندونو ولی داسی پوښتنه راپورته کړی وای؟ هغوی ته به له دی نه څه گټه په لاس ورشی ؟ په ایالتی شوراگانو ملی شوری اوسنا کی چی د هر چا پر شخصی پیشنهاد ونو هم بحث کیدای شی چا د دی پیښی پوښتنه ونه کړه او په دی باب یوه معقوله هڅه ونه شوه ، خبر یالان ، پوهان او سیاسی مشران د اگست په ۱۷ می نیټی دردناکه پیښه هیرول غواړی .. ځواکمنی اداری

د ۱۹۸۹ په نوامبر کی د چپ لاس گوندونو یوتن پاکستانی خبریال نیول شوی کشمیرته د تگ زمینه برابره شوه کله چی را وگرځیدلو یي لیکل د کشمیر په هر کورکی د آمر ضیا الحق تصویرونه دی چی سړی ته خاندی له افغانستان څخه راغلی کسان وایي چی د مجاهدینو تر زروزیاتو جبهو کی هر ځای د هغوی تصویرونه لیدل کیږی ، هغوی چی خپل ولس یي د هیرولو کوشش کوی

واکمن او دپردی شاته خوځیدلی مرموز لاسونه ټول لگیا دی چی دغه پیښه هیره شی خود هغوی کامیابی هم نیمگړی ده

ضیاء الحق شاته کوم گوند پری نښود خو په ډیرو زړونو کی هغه اوس هم ژوندی دی .

د ۱۹۸۹ د اگست په ۱۷ مه دومره زیات خلك به اسلام آباد کی راټول شوی وو چی دغه ښار په خپل عمر دومره ستره غونډه نه وه لیدلي، اعجاز الحق بنایي د دی هیواد یوازینی مشر وی چی له تیاری تبیلغ او د پیسو مصر فولو پرته په هر یو ښار کی په زرگونو تنه خلك ځان ته ورټولولی شي.

هغه یوه عجیبه جگړه وه چی په افغانستان کی وشوه د انسانی تاریخ تر ټولو ستره چریکی جگړه وه ، د تاریخ تر ټولو پټ جنگ ، دوو جنرالانو دغه جنگ له خپل ولس پرته وکړ او له خپلو پوځیانو پرته هم ، د یوی پټی شبکی لخوا د جگړو په تاریخ کی بل ځای کله هم داسی نه دی شوی او بنایي په راتلونکی کی هم هیڅکله بیا داسی تکرار نه شی .

کله چی هغه شیبه را ورسیده چی وړاندی نور د تاریخ ابدیت ؤ نو هغه دواړه ووژل شول ، له بشپړ شوی یوه خوب سره هغوی ډیر نور خوبونه هم لیدل له افغانستان څخه وروسته د کشمیر د آزادی خوب ، او له افغانستان څخه په ماته او رسوایي د تښتیدلیو له زنځیرونو څخه دمحکومو اسلامی ریاستونو د آزادولو خوب د آزاد افغانستان د پاکستان ، ترکیي اوایران د یوه اسلامی اتحاد خوب چی د مسلمانانو آزادی تکمیل کړی او د نورو له ذلت او اسارت څخه یي وژغوری .

د هغوی قوم خو د دوی د خوب په عظمت ونه پوهیده خو دښمن پیژندلی ؤ هندوانو هغوی پیژندلی وو چی له لاسونو څخه یي پنجاب او کشمیر تلونکی ؤ روسانو هغوی وپیژندل ، کوم چی دتاریخ ترټولو دردناکه ماته یي خوړلی وه ، او امریکا یانو خو هغه جنرالان ډیر ښه پیژندل چی له هر ډول هڅو سره یي بیا هم په اتومی پروگرام او افغان پالیسی له سازش څخه انکار وکړ .

آیا اوس به دغه خوب هیڅکله هم پوره نه شی ؟ او زموږ آزادی به نیمگړی پاتی شی د ۱۹۸۹ په نیمایي کی یو پاکستانی زلمی امریکا ته ولاړ هغه په نړی کی تر ټولو د زیاتو لوستونکی لرونکی جریدی له یوه خبریال سره خبری وکړی د هغه په کوټه کی د افغانی ټپیانو ماشومانو عکسونه وو ، د هغوی ترڅنگ د یوه پاکستانی جنرال ، د جنرال اختر عبدالرحمن تصویر ،هغه ویلی وو چی کله زه مایوس او خفه وم نودغه تصویر ونو ته گورم او ډاډ او خوښی پری حاصلوم د ۱۹۸۹ په نوامبر کی د چپ لاس گوندونو یوتن پاکستانی خبریال نیول شوی کشمیرته د تگ زمینه برابره شوه کله چی را وگرځیدو یي لیکل د کشمیر په هر کورکی د آمر ضیا الحق تصویرونه دی چی سړی ته خاندی له افغانستان څخه راغلی کسان وایي چی د مجاهدینو تر زروزیاتو جبهو کی هر ځای د هغوی تصویرونه لیدل کیږی ، هغوی چی خپل ولس یي د هیرولو کوشش کوی .

وخت اوس هم په حرکت کی دی ، دځمکی او آسمانونو واك اوس هم د هغه «ج» په واك کی دی چی انسان ته یي د اداری او عمل اختیار ورکړی او د خوب لیدل یي ور زده کړی دی څوك چی شهیدان شول هغوی شهیدان شول اوس خبره هغه چا ته تکیه ده چی ژوندی دی او هیلی لری ایا دوی به هیلی وروزی که د تاریخ په څلور لاری کی به اوږده وغځیږی او ویده به شی ؟!

دوي غازيان ، دوي ننگياليان دي

وروور معلم تاج محمد د حضرت ابوبکر صديق «رض» د قرار گاه آمر دي نو موړي د گرديز دعالي دارالمعلمين څخه فارغ شوي ، په ۱۳۵۲ کال کي د اسلامي

غورځنگ په ليکو کي په ميړانه او همت ودريد ، په ډير شهامت يي د مبارزي او جهاد په دي اتلوالۍ صف کي هلي ځلي وکړي په ۱۳۵۷ کال يي پاکستان ته هجرت وکړ اود پکتيا د اتلو مجاهدينو په وسله واله ډله کي ورگډ شو-

معلم تاج محمد د پوره حوصلي او متنانت څښتن دي«

او په پوره صداقت خپل ورسپارل شوي مسؤليت په مخ بيا يي .

وروور محمد جميل «ځدران» د هيواد د اسلامي تحريك له خورا پخوانيو غړيو څخه شميرل کيږي .نوموړي د پکتيا د زيروک په ولسوالي کي زيږيدلي ، اوهجرت او جهاد له لومړنيو شيبو څخه

يي د کفر او طاغوت پر ضد خپله مبارزه پيل کړي . په ۱۳۵٤ کال کي پاکستان ته را مهاجر شوي او د اسلامي جهاد په ترځ کي يي د کورني څخه دوه ورونه په شهادت رسيدلي .د «جميل » مخالفين او بد خواهان هم د دي خبري له منلو انکار نه کوي چي هغه يو شجاع اوننگيالي مسلمان دي،وفا او شهامت د جميل د شخصيت بارزي برخي دي .

محمد جميل ځدران فعلاً په ميرانشاه کي د حزب دنمايندگي مسؤليت په غاړه لري او د حزب اسلامي د مرکزي شوري د پنځمي دوري په انتخاباتو کي يي د مرکزي شورا غړيتوب تر لاسه کړي .

دي ځوان ، بيدار او جهاد او انقلاب ته د متعد و اووفادارو مجاهدينوڅخه شميرل کيږي

محمد غني مجاهديار يو شجاع او زړور مبارز دي . د زرمت ولسوالي د کوتي خيلو په کلي کي زيږيدلي دي. د کابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي د دوهم صنف محصل و چي کمونيستانو کودتا وکړه تر کودتا دري ورځي وروسته يي تحصيل پريښود او د خپلي

کلي ته ولاړ، له هغه ځايه يي سملاسي پاکستان ته هجرت وکړ. په پاکستان کي د څه مودي تر تيرولو وروسته بيرته د اسلامي انقلاب له يو شمير سرغندويو شخصيتونو سره يوځاي د وسلوالواو نورو بيلا بيلو جهادي فعاليتونو لپاره زرمت ته ولاړ . په زرمته کي يي د خپلو نورو ورونو په ملتيا په فوق العاده اخلاص مومنانه شجاعت او بي ساري قرباني د کمونيستانو پر ضد فعاليت وکړ ، له خوفناکو خطرونو سره لاس گريوان شو خو په متانت او هوښياري يي خپل جهادي ماموريت تر سره کاوه د ٥٧ کال په قوس کي بيرته پاکستان ته راغي دلته د څو مياشتو ترتيرولو وروسته د حوت په مياشت کي بيرته د وسلوال فعاليت لپاره اورگون ته ولاړ او پدي توگه په پکتيکا کي د لومړني جهادي جبهي له موسسينو څخه گڼل کيږي. مجاهد يار اوس په زرمت کي د حزب اسلامي د قرار گاه قوماندان دي او ... په پوره جديت او شجاعت خپل مسؤليت تر سره کوي .

«لینین» و «ستالین» دو دزد حرفه ای !!

ترجمه از احمد نور نفیر

هنگامیکه حزب کمونست روسیه به پول احتیاج پیداکرد ،آنگاه برخلاف راه های معمول همه احزاب سیاسی جهان ، گروهی از دزدان را منظم ساخت ،که در سراسرکشور طوفانی از وحشت ودهشت را برپانمودند ، وحزب کمونست توسط آنهاازتاجران ودوکانداران پول بدست می آورد .

این عمل بعد ازناکامی کودتای نظامی« ۱۹۰۵ »آغازگردیدکه قبل ازآن حزب کمونیست ازجمله ثروتمند ترین احزاب روسیه به شمار می آمد ، مامورین دولتی از آن حمایت می کردند ، و حکومت آن وقت هم این حزب را نسبت به مسلمانها ترجیح می داد ، سرمایه داران یهودی به آن پول میدادند . تجار مسلمانان از جمهوریت های ترکستان بخارا وخیوه به این فکر بودند که بلشویك ها (کمونیست ها) آنها را در نجات از ظلم و جبر تزار ها یاری خواهند داد . در بین جامعه روسیه طبقه روشنفکری وجود داشت که از سیاست و طریق کار تزار ها سخت شکایت داشتند ، افراد شامل این گروه را سرمایه داران ، افراد خاندان شاهی و مردم خواهان بیروکراسی تشکیل می داد که همه انها متواتراً به حزب کمونیست سرمایه فراهم می کردند . چنانچه مارکسیم گورکی نویسنده معروف و دانشمند مشهور کمونیستی می نویسد : " من نمی دانم که سرمایه دار ها چرا برای خاتمه دادن به نظام سرمایه داری با ما کمك می کنند ، و برای ما پول فراوان فراهم می آورند . »

اگر از یك سو با کمونست ها این همه کمك داخلی صورت می گرفت از جانب دیگر لینن و رفقایش کمك پولی از جاپان

نیز بدست می آوردند .

در فبروری ۱۹۰٤ بین روسیه و جاپان جنگ در گرفت ، جاپانی ها بخاطر ضعیف ساختن ، و پریشان نمودن حکومت روسیه پلان اجیر ساختن لینن را روی دست گرفتند ، اتشهء نظامی سفارت جاپان در روسیه تورن «اکاشی »با کمونیست ها رابطه گرفت ، پلی خانوف رهبر گر وه منشویك از آله کار گردیدن جاپان انکار نمود ولی لینن با آن موافقه کرد .

تورن اکاشی در راپوری که برای دفتر خود تهیه نموده بود در جایي که تفصیلات ملاقات های خود با لینن را بیان می دارد می نویسد :

" سوسیالیست ها دیگر لینن را بد معاش می دانند ، که بخاطر رسیدن به هدف خود ، از استعمال هر گونه حربهء ای دریغ نمی ورزد ، ولی بر عکس آن حقیقت این است که لینن یك شخص مخلص و بی غرض است ، وی به خاطر نظر یه سیاسی خود برا ی انجام دادن هرگونه کاری آماده است ، لینن تنها شخصی است که می تواند درروسیه انقلاب بیاورد .

جاپانی ها سرمایه فراوانی برای لینن فراهم نمودند ، به اساس خواهش و موافقه جاپان بود که لینن پلان کودتا علیه حکومت تزاری ها در سال ۱۹۰۵ را ساخت ولی با ناکامی مواجه گردید . بعد از ناکامی پلان کودتا وقتی حکومت تزاری از شدت کار گرفت ، و هزاران تن از انقلابیون را گرفتار نموده و به سزا های مختلف محکوم کرد ، کمك مالی از جانب مامورین حکومتی ، تجاران و سرمایه داران بکلی قطع گردید ، جاپان نیز از کمك باحزب کمونیست دست برداشت ، در چنین موقعی حزب کمونیست تحت رهبری لینن فیصله بعمل آورد که جهت کسب سرمایه از استعمال هیچ گونه خدعه و نیرنگی دریغ نورزند . در ابتدا این پلان تحت غور قرار گرفت که اعضای مقبول چهره و نوجوانان حزب بابیوه های سالخورده ولی سرمایه دار ازدواج نمایند و به این تر تیب

بعد از ازدواج سرمایه و دارایی آنها را به حزب بسپارند ، این طرح بزودی به اجراء در آمد، ازدواج ها صورت گرفت ، ولی جوانان کمونیست در دام زلف این بیوه ها اسیر و حزب را بباد فراموشی سپردند ،

حزب آنها را به مرگ تهدید نمود . ولی این تهدید اثری بجا نگذاشت . بعد از ناکامی این پلان ، پلان دیگری آنها ساختن بانك نوت های جعلی در برلن بود، این پروگرام را هم تحت اجراء قرار دادند ، ولی بعد از یك حمله پولیس بر مرکز بانك نوت های جعلی ، این پلان هم خنثی گردید . بعد از ناکامی پروگرام دوم ، تصمیم گرفته شد تا بر دوکان ها فابریکه جات بانك ها و پوسته خانه حمله صورت گرفته سرمایه آنها سرقت شود .

هنگامیکه در مجلس شو رایی حزب کمونیست روی این پلان بحث صورت گرفت ،هیچ کسی بطور فکری آماده این کارنبود چنین یك اقدام وحشیانه از جانب یك حزب سیاسی و فکری کاری آسانی نبود ولی با وجودان هم ستالین مسؤلیت انجام چنین حملاتی را بدوش گرفت ، به همین دلیل ستالین رامسؤل شعبه جرایم و سرقت در حزب کمونیست تعین نمودند ، و نام مستعار"باکور" را برای وی بر گزیدند .

ستالین برای انجام عملایات رهزنانه گروپی را آماده ساخت و افرادی را شامل این گروپ ساخت که اکثراً بی سواد و مجرم بودند و هیچ گونه علاقه با سوسیالیزم و کمونیزم نداشتند .

مهمترین و بزرگترین عملیات از این گونه قتل خزانه دار بانك دولتی و سرقت سرمایه دولتی بود . که این عملیات در شهر تفلیسی صورت گرفت .

در جون ۱۹۰۷ لینن از طریق یك دوست خویش اطلاع حاصل کرد که مبلغ هنگفتی از شهر سنت پیتربرگ به بانك دولتی تفلیسی منتقل می گردد ، لینن به استالین اطلاع داد ، که بعداً ستالین پلان سرقت آن راتهیه نمود .

صبح روز۱۳ جون ستالین و دوستش کامو داخل شراب خانه گردیده و نوشیدن شراب

را آغاز کردند . آنها در حال نوشیدن شراب بودند که خانمی داخل شراب خانه گردیده و با دستمال اشاره‌ء مخصوصی را به ستالین رسانید که هدفش این بود که پول به خزانه دار تحویل داده شده،آنها روی سرك بر آمدند ، در حالیکه در جیب هایشان بم های دستی وجود داشت .

اندکی بعد تر موتر خزانه دار وارد محله شد ، دفعتاً بم دستی این در نزدیك موتر منفجر گردید ، و بعداً انفجاراتی از اطرافی مختلف صورت گرفت عمله‌ء امنیتی هنوز ازواقعیت حادثه ندانسته بودند که افسری سوار بر اسپ داخل محل حادثه شد ، و صندوق پول را با خود برداشته به حرکت خود ادامه داد . این همه فعالیت در ظرف چند دقیقه صورت گرفت . و روز بعد ان روز نامه ها با عناوین بزرگ نوشتند که ۳۵۰ هزار ربل از پول خزانه دولتی سرقت گردید .

بانك نوت های بدست آمد از جریان این سرقت را با تدبیر و زرنگی کامل در بین بستر یك پروفیسرر در اطاقش جابجا نمودند ، و بستر را دوباره دوختند ، مشکل بزرگ این بود که نبمر بانك نوت های مذکور نزد دولت محفوظ بود ، به نقاط مختلف اطلاع داده شد که اگر به چنین نمبر بانك نوتی نزد شخصی دیده شود فوراً به پولیس اطلاع داده شود ، ولی لینن برای حل این مشکل یك زن رسام را مؤظف ساخت که بامهارت فراوان نمبر بانك نوت ها را چنان تبدیل نمود که به مشکل از نمبر های اصلی آن تمیز شده می توانست .

بر علاوه سرقت یك راه دیگربدست آوردن پول برای کمونیستان این بود که ستالین نزد تجار بزرگ و ثروتمند می رفت و آنها راتهدید می کرد که اگر ماهانه مبلغ

در فبروری ۱۹۰٤ بین روسیه و جاپان جنگ در گرفت ، جاپانی ها بخاطر ضعیف ساختن ، و پریشان نمودن حکومت روسیه پلان اجیر ساختن لینن را روی دست گرفتند ، اتشه‌ء نظامی سفارت جاپان در روسیه تورن «آکاشی »با کمونیست ها رابطه گرفت ، پلی خانوف رهبر کر وه منشویك از آله کار گردیدن جاپان انکار نمود ولی لینن با آن موافقه کرد

معینه را بوی ندهند افراد وی آنها را خواهند کشت .
وبه این ترتیب آنها ماهانه صد ها هزار ریل بدست می آوردند .

رهزنانه براه می اندازیم ، و مردم آنچه جمع نموده اند، آنرا می ربایم ». حزب کمونیست بخاطر فراهم نمودن پول برای حزب و انقلاب حملات رهزنانه را منظم

بدون کمك همسایه گان لینن دو سال دیگر هم نمی توانست زمام اقتدار روسیه را دردست گیرد ، و ملاقات لینن با همسایگان تنها حادثه اتفاقی نبود ، بلکه در عقب این همه دست ارت زمرمن وزیر خارجه آلمان کار می کرد حکومت آلمان پلان وسیع تخریب کاری را در روسیه روی دست داشت ، و صد ها هزار مارك را بخاطر این کار اختصاص داده بود

حملات رهزنانه آنقدر افزایش یافت که تنها در دو برج اول سال ۱۹۰۶ دو صد حمله بر بانك ها ستیشن های ریل ، و موتر ها انجام گرفت . هر مقدار پولی که در طی این عملیات بدست می آمد . مقداری معین (فیصدي) آنرا به طور کمیشن یا اجرت به دزدان وقطاع الطریقان می پرداختند .

رهبر گروه منشویك پلیخانوف در سال ۱۹۱۱ اسناد ودستاویزات این گونه عملیات ها را به نشر سپرد که به این ترتیب چهره های لینن و همراهانش بی نقاب گردید . یك مصنف روس ولیری شانر در کتاب خود می نویسد :

رهبران کمونیست از همه اولتر طرفدار غارتگری وتشدد بودند ، چنانچه بخاطر بدست آوردن پول آنها از بد معاش های حزب خویش استفاده نمودند تا هنگامیکه انقلاب به پیروزی نرسیده بود لینن با افتخار در مقابل همه مردم اظهار میداشت که : بلی ! ما دزدی می کنیم ، و حملات

ساخته و به پیمانه وسیع سرمایه مردم را غارت کردند ، رهبر این کروه دزدان شخصی بنام «سمعون ترپتروسیاه »بود که اصلاً مسکونه امریکا بوده و با نام مستعار کامو به هدایت مستقیم ستالین سرقت های بزرگی را انجام داد . از مهمترین حملات آن حمله بر موتر پوسته خانه درشهر تفلیسی در سال ۱۹۰۲ بود . گرچه از این حمله ها حزب هیچ گونه مفادی بدست نیاورد .

کامو طی این حمله پول زیادی بدست آورد ، ولی در نصیب حزب یك روبل آن هم نبود . ماکسیم لوتینوف ونکولای سیماشکو دو تن از اعضای حزب که بعد از انقلاب کمونیستی به عهده وزارت هم رسیدند ، هنگامیکه روبل های دزدی شده را می خواستند به پول خارجی تبدیل نمایند ، بالفعل توسط پولیس گرفتار شدند .

هنگامیکه حزب کمونیست به قدرت رسید احساس کرد که واقعات رهزنی

حیثیت داغ ننگینی بر پرستیژ بین المللی آنها را دارد ، لهذا تصمیم گرفتند تا این واقعات را از اذهان عامه مردم دور سازند و به همین اساس امر نمودند تا در آثار و کتب شوروی هیچ گونه ذکری از آن واقعات در آن بعمل نه آید . ستالین بطور خاص تلاش نمود تا ذکری از نام وی در این سلسله بعمل نه اید . یك نویسنده دیگری روسی هیرسن می نویسد « گروپ دزدان لینن بر بانك ها حمله ور می شدند ، هر چه آنها می دزدیدند به خزانه مخفی انتقال می یافت ، و لینن پول مذکور را برای منافع کمونیست ها به مصرف می رسانید .

یکتن از رفقای زمان طفلی ستالین کامو سر پرست گروه دزدان بود ، هنگامیکه این گروه دزدان بانك دولتی شهر تفلیسی را دزدیدند گر وه منشویکها در داخل حزب کمونیست عکس العمل جدی در مقابل آن نشان داد ، که یکبار دیگر باعث بروز اختلاف میان گروه بلشویك ها و منشویك ها در داخل حزب کمونیست گردید . »

«سوسو» برادر ستالین نیز در این حملات راهزنی شامل بود ،یك تن از نویسندگان در مورد سوسو می نویسد : ستالین و سوسو باری پروگرام سرقت بانك دو چت را ساختند ، یکی از روز ها در روز روشن گروهی از دزدان تحت رهبری سوسو و ستالین بر بانك مذکور حمله نمودند ، رفقای ستالین بانك را تحت محاصره قرار دادند و سوسو داخل تعمیر بانك گردید ، و تقریبا پول و طلایي به ارزش یك صد هزار روبل را بدست آورد ، وبعداً فرار نموده ، صحیح و سالم به پناه گاه مخفی خویش رسید ، گرچه ستالین هدایت نموده بود که همه طلا و پول موجود در بانك

باید ربوده شود ولی سوسو به اساس هدایت فرماندهی عالی تنها یك صد هزار روبل را با خود برداشت .

روز بعد تر آن ستالین خزانه شاهی را دزدید . تفصیل این واقعه طوریست که بعد از طلوع آفتاب ستالین با ده تن از افراد مسلح خود بسوی خزانه شاهی حرکت کرد و افراد خود را در چهار اطراف عمارت درنقاط مختلف جابجا نمود .

بعد از ساعت ۸ صبح عراده، که توسط اسپ انتقال داده می شد از داخل عمارت خارج گردید ، که دو صندوق در آن گذاشته شده بود . عراده چهار تن محافظ مسلح نیز داشت . ستالین به رفقای خود اشاره نموده از همه اولتر بسوی عراده در حرکت افتاد ، بایك مشت محکم عراده بان رابه پائین انداخت و زمام عراده را بدست گرفت . در طول این مدت رفقای وی محافظین مسلح را تحت کنترول خویش در آورده بودند . ستالین به رفقای خود هدایت داد تا کیسه های خود را از پول پر کنند ، و اگر کسی مزاحمت کرد ، با مرمی بالایش فیر کنند . و بدین ترتیب بآنها بدون کوچکترین مزاحمتی پول را در کیسه ها خود جابجا نموده به پناه گاه مخفی خویش رسیدند .

ستالین به طرف سوسو نگاه نموده بالهجه فخریه می گفت : من اینبار پنج صد هزار روبل بدست آورده ام نگاه کن ! اینرا می گویند کار نامه !!

بعد از این حمله بزرگ حکومت تزاری فرمان داد تامجرمین این حادثه را زنده یا مرده حاضر نمایند ! در آن روز ها رئیس پولیس تفلیسی جنرال ریلیف بود که باکمك وهمکای تورن شیول سکی بخاطر یافتن رد پای کمونیستان و دهشت افگنان به شدت کار کرد . عده ء زیادی ازکمونیستان را گرفتار نموده و بخاطر حاصل نمودن معلومات آنها را چنان تحت شکنجه قرار داد تا همه جان دادند .

بلاخره بلشویك ها فیصله نمودند تا جنرال ریلیف را از راه بردارند ، و به این ترتیب جنرال مذکور را با انفجار بمی پرخچه پرخچه ساختند .

هدف ما از بیان این واقعات دزدی ، رهزنی و دهشت افگنی لینن ، ستالین و رفقای ایشان این است تا بدانیم که دعوی داران معرفی یك نظام جدید مثالی و انسانیت نوازبه جهان ، چه کار نامه های در کشور خویش انجام دادند ، وسالها سال مردم کشور خویش را چگونه در ترس هراس و دهشت مبتلا نگه داشتند .

اینکه لینن و رفقایش مالك چه شخصیت و اخلاقی بودند از این نکته می تواند هویدا گردد که در جنگ اول جهانی هنگامیکه روس در مقابل آلمان صف گرفته بود ، و از سال ۱۹۱۶ تا ۱۹۱۷ عساکر و افسران بی شمار روسیه در جبهات مختلف جنگ از طرف آلمانیها به قتل رسیده بود ، درست در همان هنگام لینن و رفقایش نقش حامیان آلمان را بازی می کردند ، و در اوایل ۱۹۱۷ هنگامیکه نقلاب علیه تزار ها به پیروزی رسید و منشویك ها برای دوره موقتی زمام حکومت را بدست گرفتند ، لینن در آلمان بسر می برد ، و بعداً به کمك حکومت آلمان همراه با رفقای خویش توسط یك ترین سر بسته وارد روسیه گردید دست به شورش علیه حکومت منشویك ها زد .

حکومت آلمان به این شرط با لینن همکاری نمود که به مجرد باز گشت به روسیه انقلابی بر پا نموده و خاتمه جنگ را اعلان می نماید .

. درین رابطه ما حواله از کتاب نویسنده مشهور پیرسن را می آوریم که گفته است "بدون کمك همسایه گان لینن در سال دیگر هم نمی توانست زمام اقتدار روسیه را دردست گیرد ، و ملاقات لینن با همسایگان تنها حادثه اتفاقی نبود ، بلکه در عقب این همه دست ارت زمرمن وزیر خارجه آلمان کار می کرد حکومت آلمان پلان وسیع تخریب کاری را در روسیه روی دست داشت ، و صد ها هزار مارك را بخاطر این کار اختصاص داده بود .

و این رقم خطیر را تنها به حزبی داده می توانستند که خیلی منظم باشد از تپ وتلاش آن نتیجه، متصور باشد ، حزب کمونیست ورهبر آن لینن مطابق این معیار بودند، ونظر انتخاب حکومت آلمان بر آنها فتیده بود ."

والسلام .

بعد از ساعت ۸ صبح عراده، که توسط اسپ انتقال داده می شد از داخل عمارت خارج گردید ، که دو صندوق در آن گذاشته شده بود . عراده چهار تن محافظ مسلح نیز داشت . ستالین به رفقای خود اشاره نموده از همه اولتر بسوی عراده در حرکت افتاد ، بایك مشت محکم عراده بان رابه پائین انداخت و زمام عراده را بدست گرفت . در طول این مدت رفقای وی محافظین مسلح را تحت کنترول خویش در آورده بودند . ستالین به رفقای خود هدایت داد تا کیسه های خود را از پول پر کنند ، و اگر کسی مزاحمت کرد ، با مرمی بالایش فیر کنند

زاړه ګړنګونه چې حادثو ته انتظار وو

دوهمه برخه

په دغه زیړو ځیرو کی ځومره ستری تجربی پټی وی چی وخت برالا کړی ، ځومره درنی سټی وی ، مونږ به د عصر له نزاکتونواو سیاستونو نه ناخبره ګڼل خو اوس می هم بنه یاد شی چی په همغو لومړیو شپو ورځو کی یې د ننی کامیابی او ننیو فتحو زیری ورکول .

هغه وخت چی زه سم ورسره ر وان یم ، د دوی خبرو ته مې غوږ نیولی ؤ ، دوی په خبرو هسی ځانته کاذب ډاډ ورکوم ، خو نن وینم چی هر څه ربنتیا دی . خدای «ج» خبر دی چی نن به «مکړ» او «خیال مدین» ژوندی وی که نه ؟ خو مونږ دا دی لله الحمد د روسی امپراتوری د دړی وړی کیدو شاهدان یو ، په هیواد کی د الحاد او فساد د وروستیو ځالو د ړنګیدو انتظار باسو .

هغه وخت چی «مکړ» به خپل دځنګ ملګری ته مخ وراړاوه او ډ ډغر به یې اوچت شو .

خیال مدینه ! که سهار نشی لروختی ورسیږو نو که خدای کړی وو په «شهرنو »ورخیژو .

یې ! په شرنو «شهرنو» کی څه نشته ! شرنو « شهرنو » د یوی منډی کار دی .

په شهرنو «ځمکنیو » کی یو تقویه شوی غونډ پروت دی خو دوی وایي هلته څه نشته د یوی منډی کار یې ګڼی ، هغه وخت خو ما د دوی په خبرو پټ پټ خندل خو زمانی ثابته کړه چی هغوی ربنتیا ویل ، ما ته اوس معلومه شوه چی هغوی ربنتیا هم ډیر تجربه کاراو د لوړ و حوصلو او ارادو خاوندان سپین ږیری وو ، همداسی پخی ککری وی چی هم مو مرکی او جرګی بنی وریاندی بنکاریدی او هم مو مور چلونه او د ننګونو او دغرو ډګرونه .... یو وخت یو نوی احساس را سره پیدا شی ، فضا بدله وه ډیره بدله وه چی پام می شی د کنډو سر ته ختلی یو ، زه یې پیژنم نه چی داکوم ځای دی ، اوس مو سترګی له تیارو سره څه ناڅه آشنا شویدی ، د ګټوونو په منځ کی واوری سپینی بنکاری ، د شمال سړی څپی هلوکو ته رسیږی ،او مونږ بیرته مخ په ځوړ روان یو ، زما د پوستنی په ځواب کی د جهاد د امیر مرستیال محمد حکیم وایي چی دا زمونږ د هیواد خاوره ده .

نور مونږ په خپل وطن کی یو خو داسی نه لکه پخوا به چی وو ، پخوا به وطن د کور په معنی ؤ ، او کور د امن او سلامتی تعبیر ، خو اوس خبره معکوسه وه ، مونږ په خپله خاوره کی وو ، په خپل وطن کی وو ، دا راته د خطر اعلان ؤ ، نو ر مو دلته دم او قدم دواړه باید په حساب وی ، له لږ مزله وروسته د دمی اوساه نیولو غزوشو ټولو ډډی واچولی ، خواره واره یو بل ته لنډ ټول و اوبنتل .

د ګټوونو په منځ کی ځمکه سپینو واورو پوبنلی وه ، لږ وخت وروسته به دغه واوری ویلیدلی ، خو د لمر په تودوخه نه ، د پسرلی په ملایمه هوا نه ، د تودوونو ځاځکو به اوبولی ، په دغه واورو به د وینو ګلان غوړ یدل ، او دغه شاو خوا ولاړی ونی او هسك لوړ لوړ ګړنګونه ټول همدی ته انتظار وو او د توپان راتګ ته سترګی په لار وو او دلته به د پسرلی له غاټولونه ړومبی د وینو ګلان غوړیدل ، دغه شاوخوا چوپ چوپ ګړنګونه ، دا په شنوونوپټ غرونه او غونډی به دیوی تاریخی معرکی ډګر وی ، د تیارو پردی پرتی دی ، شپه پخیږی او لاپسی درنیږی ، په درنه شپه کی زمونږ د کاروان د ګټو پلونو ترپ تروپ د شپې سکوت په حریم ورو ورو وارونه کوی ، احسان الله ،

محمد حکیم او ضابط سلیمان کله یو یو او کله دری واړه غبرگ غبرگ له سره تروږستی کسه دکاروان دخلکوجاج اخلی موږ روان یو چیرته ؟ د حادثو مخی ته ، د هنگامو مخی ته او د مرگ غیږی ته ، له هر چا سره بنایي همداسی تصور وی له ما سره خو همداسی تصور ملگری وی ، زه کله کله له خپل چاپیریال نه لری تللی وم ، هلته د شهرنو په نالیدلی چونی کی ځانته له خیال او تصور سره مشغول شم ، د توپونو ډنډو کاراو د ماشینگنو کرسهار اورم ، د اور لمبې-پورته د تیارو په سینه کی لاره باسی د تکبیر چیغی اورم او کله کله هم زگیروی او سلگی ژړا او فریاد ، او بیا یو ځل بیا د چا احسان الله او یا ظابط سلیمان په غږ را په خود شم ، خدای «ج» خبر دی چی هغه لوری او ژوری ، هغه په ونوپټی غونډی به په کوم نامه یا دیدلی ، خو موږ پکی روان وو او له همدغسی تصور سره زموږ منزل د شهرنو غونډۇ همدا نن شپه باید ور ورسیږو او چی د سهار لمر څرک کوی باید خبره خلاصه شوی وی . د لمر ږومبنی وړانگی باید پر سیمه د غازیانو د بری اعلان وکړی . کاروان روان دی ، د ځمکی تنابونه راکش شوی دی ، هر گام د حادثو لوری ته ور نږدی کیږو ، کله کله د کوم چا پښه له ډبری سره بنده شی او تیندك وخوری لاره له ډبرو ډکه ده ، له تشوکانونه ، خو دغه دنگ غرونه ، کمرونه ، لاری او غونډی به په راتلونکی کی د دوو بیلو بیلو ننداړو شاهدان وی ، دلته به یو وخت دبښمنان د دی هیواد د بچیانو په ککر یو گرځی او بیا یو بل وخت به د دی هیواد بچیان د غاصب دښمن ککری تر خپلو قدمونو لاندی کړی دلته به د دی کانو نه د توپونو او بمونو

ټوټې ډېرې وې او د زیاترو په مخ په زمور د هیوادوالو د شهادت داغ وی ، او همدلته به یو وخت څرخانگونه او برگی هلیکوپتری هم ویجاړی پرتی وی او د دی ولس ماشومان به ساعت وریاندی تیروی . ... هو ! موږ له کانو په ډکه لاره روان وو ، په غه لاره چی سباته به ککړی ــ

> د لمر ږومبنی وړانگی باید پر سیمه د غازیانو د بری اعلان وکړی . کاروان روان دي ، د ځمکی تنابونه راکش شوی دی ، هر گام د حادثو لاری ته ور نږدی کیږو ، کله کله د کوم چا پښه له ډبری سره بنده شی او تیندك وخوری لاره له ډبرو ډکه ده ، له تشوکانونه ، خو دغه دنگ غرونه ، کمرونه ، لاری او غونډی به په راتلونکی کی د دوو بیلو بیلو ننداړو شاهدان وی ، دلته به یو وخت دبښمنان د دی هیواد د بچیانو په ککر یو گرځی او بیا یو بل وخت به د دی هیواد بچیان د غاصب دبښمن ککری تر خپلو قدمونو لاندی کړی . . .

وریاندی فرش کیدلی د وینو گلان به وریاندی غوړیدل او د عصر د یوی دردوونکی فاجعی او یوی اتلواله مقابلی ننداری به یي په سینه جوړیدلی .

د سپیو غپا د لرې کلیو خبر راوړ ، د هغه کلیو چی د تیارو تر پردو لاندی پټ وو ، هلته بنیاد مان اوسیدل ، هغه بنیادمان چی نن یي خپل تشخص له لاسه ورکړی ؤ ، هغه څوك چی نن ډیر بد نوم وړپوری ؤ ، ډیر مظلوم وو ، خو سبا ته به د دوی د غیرت شملی بیا لوړیدلی ، د سپیو غپا ورو ورو رانږدی کیږی ، موږ له هسکو ټیټو غونډیو نه ورو ورو یوه نسبتاً هوار خوږ ته ورلوږیو ، او بیا تر ډیره ځایه پر سرك مزل کوو ، هغه سرك چی شهر نو ته تللی دی ، موږ ټول په دی تصور کی یو چی اوس به د خپل ژوند یوه تاریخی شیبه پیلوو ، اوس به د خپل ژوند تر ټولو قدرمنی او درنی مرحلیته داخلیږو اوس به عملاً د کفارو پرسینه

زموږ د ټوپکو گولی وریږی او د دوی گولی به پر خپل ټټر او تندی استقبالوو ، ټول به بنایي په همدی تصورکی وو ، هر چا د جگړی توده صحنه په خپله څو قدمی کی لیدله ، ځکه نور موږ د اباديو په منځ کی وو ، وړاندی د تیارو سینه د چراغونو وړانگو څیرله همغه زموږ هدف

ۇ ، همغه د شهر نو غونډۇ ، خو ناڅاپه زموږ کاروان د خوږ د اوبو پر غاړه ودرید ، د سبا سترگه راختلی وه ، نور نو لمر څرك ته ډیر وخت نه ۇ پاته نو ځکه پر خوږ د پوری وتلو قومانده راکړل شوه ، او نن زموږ د تصور او اټکل پر خلاف پر غونډۇ د برید پلان وځنډول شو .

××

د خدای «ج» کاینات په خپل دایمی نظم او همیشنی مزله د وروستی منزل په لوری روان وو ، نو همدغسی لکه پخوا یو ځل بیا د شپی کمپله ټوله شوه ، ورځ شوه د ختیځ افق پر څنډو د لمر نورانی ټیکلی راپورته شو ه، خو موږ ته نن دغه ورځ او د لمر راختل ډیر بدل ښکاریدل نن پر موږ د لمر زرینی وړانگی دځمکنیو جنوب لوری ته دیوه دنگ او په ونوپټ غره په منځ کی لگیدلی ،وایي د ژوندیو لاری سوری دی رښتیا هم همداسی وه زموږ د نن او پرون تر منځ ډیرو اتن ۇ ، د ظاهر

بينو سترګو په وړاندی هم او د هغه چا په
نظر هم چی تر ظاهر او ښکاره حقيقتونو
پر معنوی ارځښتونو زيات باور لری ،
موږ پرون ښيل خلك وو ، ښيل نوم را باندی
ايښودل شوی ؤ . او نن ښيا ښيل کسان وو
، پرونی خلك نه وو، نور څوك وو ، د
نورو القابو او نومونو خاوندان. پرون موږ
مهاجرين وو ، د يوه ګاونډی هيواد په
غيږ کی پراته مظلومان چی له وطن نه
هجرت ته مجبور شوی وو . چی د دين
دښمنانو د کور او کلی پريښودو ته
اړويستی وو ، خو نن موږ مجاهدين ياد
يدو هغه څوك چی د انسانی تاريخ
ترټولو ستر وياړونه او ارځښتونه ورته

موږ پرون ښيل خلك وو ، ښيل نوم را باندی ايښودل شوی ؤ . او نن ښيا
ښيل کسان وو ، پرونی خلك نه وو، نور څوك وو ، د نورو القابو او
نومونو خاوندان. پرون موږ مهاجرين وو ، د يوه ګاونډی هيواد په غيږ
کی پراته مظلومان چی له وطن نه هجرت ته مجبور شوی وو . چی د
دين دښمنانو د کور او کلی پريښودو ته اړويستی وو ، خو نن موږ
مجاهدين ياد يدو هغه څوك چی د انسانی تاريخ ترټولو ستر وياړونه او
ارځښتونه ورته منسوب دی .

منسوب دی ، دژ وند يو لاري رښتيا هم
سوری وی ، موږ په يوه شپه کی بل څوك
شوی وو څومره ستر واټن مو وهلی ؤ ،
اټکل يی په مادی وسايلو امکان نه لری .
پرون موږ هغه څوك وو چی د نړی
ضميرونه به موږ درد او غم څوريدل او
ويښيدل ، پرون د مظلوميت سمبول وو
پرون به پر موږد ظلم او ستم کيسی د
تاريخ پاڼو خوندی کولی خوښ !!!
نن به د تاريخ په پاڼو کی زموږد اتلوليو
داستانانونه خوندی کيږی . نن به موږ
خـــلك مـــظلومان نه د مظلومانو د
حـــاميانو په نوم پيژنی .
دا زموږ ديوی شپی مزل ؤ کله کله لوی
الله «ج» په ملتونو داسی ورځی شپی هم
راولی چی به هغو کی د يوی شپی او يا
ورځی مزل دکلونو کلونو ارځښت لری ،
همدغسی د يوی شپی سکوت خاموشی
او لتی هم د کلونوکلونو د ماتی پښيمانی
او ذلت سبب شی ، خدای «ج» زموږ پر
ملت داسی وخت راوستلی ؤ چی ملت موږ ،
په يوه شپه کی د مظلوم نه پورته شو او
بالاخره د نړيوالو د قيام او پاڅون سالار
شو . همدا سی وه که نه ؟
لکه د څمکنيو په ونو پټ غرونه چی هم
په دی حقيقت پوه شوی وو نن يی پر
ګرنګونو توندی سيلی نه را الوتلی ،
غيږه يی په مينه خلاصه کړی وه ، وطن
سپينو واروروپوسنبلی ؤ خو د يخنی اثر
پکی نه ؤ ، واوری خپل هميشنی خاصيت
له لاسه ورکړی ؤ .. د لمر تودو وړانګو ته
ويليدلی لکه چی ژړل يی ، د کوم لوی
ماتم په ويرکی ، لکه چی ابراهيم يی
ليدلی ؤ ، ظابط عارف يی ليدلی ؤ
حاجی رحيمی او حاجی غالب يی ليدل او
په دی راز هم پوهيدلی وه چی دغه
نورانی بشری ، دغه چپه ځوانی ا و دغه
د غيرت او ايمان په څپو کی مستی تنی
به سبا ته تر خاورو لاندی کيږی لاندي،
دوه نيم دری کيلومتره وړاندی يوه ستره
خره کلاوه د همدی ستری کلا نه شا وخوا
نوری ډيری آبادی وی ستره کلا د څمکنيو
«شهر نو غونډ» مرکزی قرار ګاه وه هغه
پوځی مرکز ؤ چی تيره شپه موږ بايد
وړاندی ختلی وای کلا تر ډير ه حده له
رعبه ډکه ښکاری ، تاريخی کلا ده ، د
ډيرو پيښو او حادثو شاهده ، نن يي په
برجونو کی داسی څوك پراته دی چی د
کلا له برم او تاريخی حيثيت سره اړخ نه
لګوی ، اوس هلته يوه بله تاريخی معرکه
هم پيښيږی هلته اوس داسی څوك اوسی
چی ددی ولس اوددی هيواد دکلچر ،
فرهنګ او دين پر خلاف يي قيام کړی ،له
خدای «ج» نه باغيان پکی اوسی نو څکه
به اوس د دغه کلا ساتونکی او اصلی
وارثان له مجبوريته دغه ستره تاريخی
کلا د خپلو وسلو نخښه ګرځوی .

xxx

د غره په ډډه او دګيوونو په منځ کی هلته
دلته څلور پنځه تنه سره ناست دی ، په
خولو يي د موسکا څپی خوری دی . ته
به وايي په ورا راغلی او دلته د کوم
خواږه چای په انتظار ناست دی .
ته به وايي اوس به له دی ځايه سره ډ
ولی پورته کيږی او د ډولونو او ا تن په
بدرګه به خوشحاله کاروان خوځيږی ، خو
په څيروکی ښيا بل ډول نخښنی او
احساسات موجونه وهی ، ټول خوښ دی
خو خوښی يي کومی وراته نه پاته کيږی
د هر چا په خوله يو مرموز تبسم خور دی
خو د لاابالی اوبی پروايي په وجه نه په
همدغه تبسم کی يو ډول تقدس ښکاری ،
يو ډول معنويت ښکاری ، دلته ناست
خلك ټول ځانونه د مادی ژوندانه له
خوښيونه بی نيازه ګڼی اصلاً ځانونه د دی
دنيا د څو لحظو او څو شپو ميلمانه بولی
او بس نو څکه په دغو موسکا ګانو کی د
بی پروايي او مادی خوښی څه احساس او
څرك نشته .

دلته د دې سيمې بلد خلك هم شته او ما غونډې نا بلد هم ،څوك خپل كلي اوالوس په لاسو نورو ته وربښيي او څوك هم د شهر نو غونډو او بازار په باب تشريحات وركوي يو ببر سري بنكلي زلمي د څو تنو په منځ كې ناست دى ، په خوږه لهجه د شاوخوا سيمې بازار او پوځي قرار گاه په باب خپلو شاو خوا ناستواندیوالانو ته معلومات وركوي . هغه د همدغې سيمې اوسيدونكى دى ، نه پوهيږم كلي او كور به يې د لاندې سيمې په كوم گوټ كې وي ، خو هغه دلته بلد دى د همدغې سيمې دی څه كه نن دلته په غره كې ناست دى كلي او كور ته نشي تلاى ، خو هغه تكل كړى چې خپل كلى ، سيمه او وطن به ازادوي ، هغه خو د همدې لپاره روزل شويدى كه نه ! ظابط عارف دى او دادى اوس د اسلام او هيواد د ساتونكو د يوې ډلې گروپ مشر هلته لږوراندې بله دله وه چې محب الله ، ابراهيم او ... پكې دي ، هلته هم خولې په خندا وې غوړيدلې خو كيسې بيا د مرگونو دي او له مرگونو سره د ستر گو جنگولو .

لمر د آسمان تندي ته رارسيدلى . د واورې په اوبو اودسونه كيږي او هر څوك خپل رب ته په عجز په لمانځه ودريږي څوك د لمانځه پر ځاى د قرآن تلاوت كوي فضا هلكل هل ډول ده ، تقوىٰ او خلوص دى ، معنويت پر چاپيريال وزر غوړولی دى ، شيطان له خپل ټول مكر او چل سره دلته مات بنكاري د قرآن د تلاوت زړه وړونكى انگازې زمزمه كيږي ، او په ځيروكي د معنويت اوتقدس نخښې نوري هم ځليږي .

د اسمان پرسينه خپرې وريځې را الوتلې دي د لمر زرينو وړانگو ته يې غرونه درولي دي ، د ماسپښين له لمانځه نه وروسته يو يو ټوك ډوډۍ په ټولو وويشل شوه ، د ډوډۍ د وړيم په خوريدوټول وپوهيږې چې بنه وږي دي ، يو ځل بيا ټول خپلې دنيا ته راشي ، د واورې په اوبو ډوډۍ وخوړل شوه او بيا ټول ددې په انتظار شول چې څه وړ قومانده به وركول كيږي ، قومانده څه ، څه وخت به د عملياتو د تگ زيرى ورباندې كيږي ، په هره خيره كې همدغه پوښتنې تر سترگو كيږي په هر تندي كې بس د همدې يوې تلوسې او هيلې څركونه احساسيږي .

احسان الله ظابط سليمان او محمد حكيم په دې هيڅوك نه پوهيدل ، چاددې پوښتنه هم نه شواى كولى ، ځكه دا مو زده كړي وو چې راز بايد له قوماندان سره وي او تر وروستي لحظې پورې برالا نه شي . كله كله به ددنگ غره په سينه په خړه او بې لمره ورځ كې د انتظار شيبې ډيرې ستومانوونكې شوې ، خو د هر كار له پاره وخت او ځاى خداى «ج» له ازله ټاكلې چې هيڅوك بې نشي بدلولى زموږ برخه نن همدغه په ونو پټ غرور چې بايد پكې ناست واى كه نه موږ خو په خيال

> واورې خپل هميشنى خاصيت له لاسه وركړى ؤ .. د لمر تودو وړانگو ته ويليدلې لكه چې ژړل يې ، د كوم لوى ماتم په وبركې ، لكه چې ابراهيم يې ليدلى ؤ ، ظابط عارف يې ليدلى ؤ حاجي رحيمي او حاجي غالب يې ليدل او په دې راز هم پوهيدلې وه چې دغه نوراني بشرې ، دغه چپه ځواني ا و دغه د غيرت او ايمان په څپو كې مستې تنې به سبا ته تر خاورو لاندې كيږي

كله كومې خواته بې دركه شي او كله بيرته رابنكاره شي خو د تگ او له غره نه د بنكته كيدو زيرى نه راوړي ، بيا هم د صبر او زغم خبرې دي ، رښتيا هم د صبر د امتحان او آزموينې ډگر دى ، يوازې له مرگ سره د ټكر او سترگو جنگولو ازموينت نه له لوږو ، تندو ستومانيو او بې خوبيو سره د مقاومت ازموينت دى ، د جنگ كيسې خوږې او ساعت تريخ وي خو موږ دغه تر خه ساعت ته بې صبره وو ، كله به د انتظار شيبې پاى ته رسيږي؟

كې د ځمكنيو يو ځې قرار گاه ترخپلو قدمونو لاندې گڼله خو هغه قرار گاه او هغه ستره خړه كلا لا پر ځاى ولاړه وه او زموږ په زړونو كې د هغې د لاندې كولو ارمان هم نيشونه راكول ... دوام لرى .

چاقی چیست وبرصحت ما چه اثراتی دارد؟

دکتورفیض الله کاکړ

لله الحمد شیوع امراض ناشی از چاقی بدن ، نسبت به غربیها در مردم ما کم است ، اما مثلیکه بیدل میگفت «صنعت بالین و بستر خلق را بیمار کرد » آمدن وسایل غربی چون موتر که پیاده گردی ما را کم ساخته و فابریکه های تولید شکر و روغن که این دو ماده را فراوان و ارزان به بازار عرضه مینمایند ، زندگی مردمان شهری ما را نیز آهسته آهسته همانند شیوه زندگی در جوامع غربی میسازد .

سکنه جوامع غربی که نمیدانستند این نوع راحت چه بلاهای صحی را برای آنها بیار خواهد آورد ، اکنون علما و تجربتاً دریافته اند که امراض سرطانی ، قلبی ، شکر و ... ارتباط نزدیکی به نوع زندگی آنها دارند . دول غربی بودجه های سر شاری جهت وارد آوردن تغییراتی در بعضی از عادتهای مردم خود اختصاص داده اند که درین زمینه تا حال موفقیتهای چندان زیادی بدست نیاورده اند .

با آگاهی از هدایات وقایوی اسلام نباید اجازه داد که جامعه ما خطوط حرکت جوامع غربی راتعقیب کند . اینك که مشاهده و درك میکنیم راه و روش زندگی آنها در بعضی موارد باعث پدید آمدن مشکلات عدیده صحی گردیده نباید غلط روی آنها را پیشه خود ساخته و به سر نوشت آنها دچار گردیم .

ما مخالف مصرف و داشتن فابریکه تولید شکر و روغن نیستیم . ولی لازم به تذکر است که زیاده روی در مصرف انها باعث چاقی گشته و چاقی ارتباط نزدیکی با تعداد بیشتر امراض دارد . برای مثال شیوع مرض شکردرین اشخاص چاق نسبت اشخاص لاغر۲۸۲ فیصد بلند میرود . همچنان مرض جگر ۲۴۹ مرض سنگ کیسهء صفراء ۲۰۹ امراض گرده ۱۹۱ خونریزی مغزی ۱۵۹ مرض کیسه مثانه ۱۵۲ امراض قلبی ۱۴۲ و خود کشی ۱۱۱ فیصد بلند میرود .

بر علاوه چاقی مشکلات عمده ای برای جهاز تنفسی نیز بوجود آورده باعث اخلال در رسیدن اکسیجن به عضلات و دیگر اعضای بدن میگردد ، کمبود اکسیجن در خون باعث احساس خستگی دوامدار و دیگر امراض خونی میگردد .

چاقی اکثراً باعث بالا رفتن فشار خون گشته ، بلندی این فشار به نوبه خود مشکلات متعدد صحی را بار میآورد .

چاقی میتواند کولسترول خون را بالا ببرد که این افزایش باعث امراض شریانها و ورید های خون و امراض قلبی میگردد .

اکنون باید سوالی نزد شما خواننده محترم مطرح شده باشد و ان اینکه چاقی چیست ؟

باید دانست که چاقی درجات مختلفی دارد که تعیین درجه دقیق آن توسط لابراتوار های خاصی صورت میگیرد . ولی خود شما نیز میتوانید با یك اندازه گیری خیلی آسان و ساده بدن خود یا کسی دیگری ، سوال خود را جواب دهید : ریسمانی برداشته ومثل خیاط دور کمر و سپس دور سینه خود را اندازه کنید . اگر اندازه دور سینه شما بیشتر از دور کمر تان باشد در اینصورت شکر خدا ج را بجا آورید که چاق نیستید .

نباید غلط تعبیر کرد که چاقی عبارت از بزرگی جسامت بدن است . درست است که اشخاص چاق بزرگ و جسیم میگردند ولی هر فرد جسیم و عظیم الجثه چاق محسوب نمیگردد . بلکه چاقی عبارت از زیادی شحم در بدن است ، پس اگر کسی در اثر سپورت عضلات خود را بزرگ و جسیم ساخته باشد ، چاق محسوب نمیشود . زیرا در بدن او عضله زیاد و شحم کم بوده و نسبت به اشخاص چاق صحتمند است .

برای اینکه امتحان کنید که مثلاً بزرگی بازوی کسی از درك شحم است یا عضله ، لطفاً جلد او را که عضله پیش روی بازو را میپوشاند در بین دو کلك خود بگیرید . اگر شحم زیاد باشد پوست خیلی ضخیم میباشد . و اگر عضله باشد پوست مذکور نازك و باریك احساس خواهد شد .

چگونه میتوان از چاقی جلوگیری کرد ؟

در قدم اول باید غذاهای مصرف گردد که قیمت کالوری آنها کم است واز غذا هائیکه قیمت کالوری (کالوری عبارتست از واحد مقیاس حرارت و انرژی ناشی از تغییرات متابولیك « سوخت و ساز » مواد غذایی در بدن)آنها بلند است کم خورده شود . غذاهائیکه کالوری زیاد دارند عبارت از آن غذا هایست که مقدار شحم در آنها زیاد است . یك گرام شحم ۹ کالوری دارد . در حالیکه یك گرام شکر و یا گوشت بکلی خالی از چربی ، هر یك دارای ٤ کالوری اند .

مردم ما بخوردن برنج عادت و تمایل زیادی دارند . البته برنج غذای خوبی است ولی ما در پختن برنج مقدار زیادی روغن مصرف میکنیم و هم آنهارا چندین بار میشوییم . غافل از ینکه شستن باعث از بین رفتن مواد خیلی مفید برنج میگردد .

مردم ما شکایت درند که برنج چاق کننده است . باید گفت که برنج خود ، چاق کننده نبوده بلکه نحوه طبخ و مصرف از برنج است که خاصیت چاق کنندگی بآن میدهد . دانه های برنج بر روی جلد خود مواد مفیدی بصورت گرد دارد که برای سوزاندن شحم در بدن یعنی جلوگیری از ذخیره شدن شحم ، تحریك اشتهاء و صحت اعصاب فوق العاده مهم است . این مواد را« ویتامین بی» میگویند .

ولی مردم ما برنج را چندین بار با اب و بعضاً با اب گرم میشویند که این شستن ، مواد خیلی مهم و مفید برنج را از بین میبرد . بهتر است که خاك و سنگ برنج را پاك

کنیم ولی نباید برنج را زیاد بشوییم . ما اولاً برنج رامیشوییم و آنگاه مقدار زیادی روغن بآن علاوه میکنیم که درینصورت غذایی بوجود آورده ایم که از یکطرف روغن زیادی دارد و از جانب دیگر موادی را که خداوند «ج» برای صحت ما در برنج قرار داده است ، دور کرده ایم . لذا چنین غذائیکه از برنج تهیه نموده ایم حتماً چاق کننده است .

غذای باصطلاح مکلف باید در روز خورده شود که بعد از آن کار و فعالیت صورت میگیرد و کالوری غذا بمصرف میرسد ، غذاییکه شب خورده میشود و بعد از آن میخوابیم قسمت زیاد آنرا بدن ماجبراً بشکل چربی ذخیره نموده و بر چاقی ما میافزاید . کسانیکه غذا های مکلف صرف میکنند لازم است بهمان اندازه فعالیت جسمی نیز داشته باشند . فعالیت های بدنی وسیله خوبی برای جلوگیری از چاقی اند . یعنی هم شخص از خوردن غذا های مناسب بهره برده و چاق هم نگردد. ولی بدبختانه وجود وسایل تقلیه امر وزی باعث گردیده که از فعالیت جسمی ما کاسته شود . امروزه ما خود را از پیاده کردی که از فعالیتهای عمده جسمی بشمار میرود ، نیز محروم ساخته ایم چون اگر بخواهیم از جایی بجای دیگری برویم توسط موتر و آنهم در حالت نشسته ، میرویم . ما اگر نمیتوانیم فعالیت جسمی کافی داشته باشیم و غذا های ما هم پر کالوری اند در آنصورت کم خوردن وسیله موثر دیگر جلو گیری از چاقی است .

البته کم خوردن سنت پیامبر بزرگوار اسلام «ص» نیز بوده ست . آنحضرت «ص» درهمین رابطه میفرماید :

« نحن قوم لا تاکل و اذا اکلنا لا نشبع »ما مسلمانان تا گرسنه نشده ایم غذا میخوریم ، و قبل از آنکه سیر شویم از خوردن دست میکشیم .

یکی از ارکان دین مبین اسلام روزه است . روزه بر علاوه منفعتهای متعدد معنوی ایکه دارد یکی از بهترین طرق جلوگیری از چاقی است . حدیث مبارک پیامبر «ص» است که میفرماید :

«صو مو تصحوا ». روزه بگیرید تا صحت شما خوب باشد . ولی مردم ما در ماههای رمضان بیشتر ازمهای دیگر جهت تهیه غذا های متنوع پول مصرف میکنند و شب که هنگام فعالیت هم نیست خیلی پر میخورند و از روزه گیری خویش آن استفاده لازم صحی را نمیتوانند ببرند .

در مورد پر خوری حدیثی از پیامبر گر انقدر اسلام نقل شده که میفرماید: قبل از پر شدن شکم باید خوردن غذا را متوقف کرد.

«اترك الطعام و انت تشتهیه »

فوقا تذکر داده شد که چاقی میتواند مقدار نوعی شحم مضر در خون را که کولسترول نامیده میشود ، بلند ببرد ، این شحم مضر در قشر داخلی شریانها و ورید های خون رسوب کرده و باعث تنگی و بالاخره بستن آنها میگردد که در نتیجه امراض خیلی خطر ناکی را بوجود میآورد .

برای اینکه بدانیم ایا کولسترول خون بدن ما بالا رفته یا خیر ، میتوان به یك لابراتوار معاینه خون مراجعه کرده و کولسترول خون را معاینه کرد اگر کولسترول شما کمتر از ۲۰۰ ملیگرام فی دیسی لیتر خون باشد قابل تشویش نیست ولی اگراز ۲۰۰ ملیگرام بالاتر باشد لازم است بکوشید آنرا کم سازید . برای کم ساختن کولسترول فعالیتهای جسمی و مصرف غذا هائیکه کولسترول کم دارند و همچنان غذا هائیکه کولسترول راکم میسازند مفید هستند . گوشت مرغ و ماهی نسبت به گوشت گوسفند و گاو دارای مقدار کمی کولسترول اند . حبوبات و مغز های مختلف نباتی کولسترول ندارند ، میوه جات بر علاوه اینکه کولسترول ندارند آنرا کم نیز میسازند . روغن ماهی و روغنهای نباتی مخصوصاً روغن زیتون کولسترول راکم میسازند ولی طوریکه قبلاً ذکر شد در مصرف روغنیات باید جانب احتیاط را درپیش گرفت زیرا روغن مقدار زیادی کالوری داشته و باعث چاقی میگردد .

مصرف زیاد شکر نیز خیلیها مضر است . مصرف زیاد شکر بر علاوه آنکه دندانها را فاسد میسازد . باعث کمبودی ویتامین، ماده ایکه برای صحت اعصاب اهمیت حیاتی دارد ، میگردد . مصرف زیاد شکر باعث چاقی نیز میگردد . باساس یك سلسله تحقیقات مصرف زیاد شکر در یك جامعه در صورتیکه باغذا های مفید دیگر همراه نباشد باعث بلند رفتن آمار و گراف جرایم نیز میگردد . به کسانیکه مایل به کسب معلومات بیشتر در مورد شکر باشند مطالعه جزوه إسراف در نوشیدن چای و تاثیر آن برصحت جسمی و روحی فرد واجتماع ، از نشریات انجمن تحقیقات علمی ومشورتی توصیه میگردد .

> سکته جوامع غربی که نمیدانستند این نوع راحت چه بلاهای صحی را برای آنها ببار خواهد آورد ، اکنون علما و تجربتاً دریافته اند که امراض سرطانی ، قلبی ، شکر و ... ارتباط نزدیکی به نوع زندگی آنها دارند . دول غربی بودجه های سر شاری جهت وارد آوردن تغییراتی در بعضی از عادتهای مردم خود اختصاص داده اند که درین زمینه تا حال موفقیتهای چندان زیادی بدست نیاورده اند .

در چاقی ، تناسب شحم بدن در مقایسه با عضلات زیاد میگردد و بصورت طبیعی هر قدر عمر بلند برود این تناسب بیشتر میگردد . در اطفال و جوانان باز هم مقدار شحم بدن نسبت به عضلات بصورت عموم کم است . سالهاست که علماء طب مصروف تحقیقات در زمینه اسرار پیری اند که چرا با گذشت عمرمقدار شحم بدن روبه ازدیاد میرود و کشفیات خیلی مهمی نیز درین ساحه صورت گرفته است . یکی ازین کشفیات درین اواخر سرو صدای عجیبی را دربین مردم ایجاد نموده و این تصور را بوجود آورد که گویا معماء پیری حل شده است . ولی بهر حال اهمیت کشف اخری در آنست که

پرده را تا اندازه ای از اسرار پیری برداشته که چه تعاملاتی باعث تغییر نسبت شحم با عضله به بدن میگردد ماده ایکه شحم را در بدن سوزانیده و در اعمار عضلات کمك میکند بنام هورمون رشد یاد میگردد .اکنون تاثیر دیگر این هورمون نیز واضح گردیده است . در یك تجربه ایکه این هورمون روی انسانهای پیر تطبیق گردیده ثابت شد که این هورمون باعث یك سلسله تغییرات دیگری چون چستی و چالاکی نیز میگردد ، از آنست که این هورمون را اکنون بحیث یك هورمون جوان کننده تحت تحقیقات بیشتر گرفته اند .

هورمون رشد همچنان غده تایمس را که در سینه انسان واقع بوده و سلولهای خیلی مهم دفاعی خون را میسازد ، جوان نگهمیدارد . این سلولها در سیستم دفاعی بدن ما در مقابل امراض ، مصروف فعالیت اند .

چندی قبل یکی از برادران مجاهد و گرانقدر که موضوع هورمون جوانی را شنیده بود از من سوال کرد که چه چیز های میتوانند این هورمون را در بدن کلانسالان تحریک برای ترشح بیشتر کنند؟ درینجا ازینکه هورمون رشد ارتباطی به موضوع چاقی دارد و برای آنکه جواب سوال خیلی خوب مجاهد عزیز ما را تهیه دیده باشیم ، نیجه مطالعه و تحقیق انجمن تحقیقات را در دسترس خوانندگان گرانقدر میگذاریم .

هورمون رشد توسط یك غده فوق العاده مهم بنام PITUITORY که در بین مغز واقع است ترشح میگردد . در اطفالیکه ترشح این هورمون کم وغیر طبیعی باشد قد آنها خیلی کوتاه بار میآید و از آنست که اکنون برای اطفالی که نمو نمیکنند این هورمون تزریق میگردد ، مثلیکه گفته شد ترشح این هورمون بعد از بلوغ بصورت طبیعی رویه کمی میباشد .

اکنون که تاثیر هورمون رشد برای جوان نگهداشتن عضلات بدن و خود کلانسالان مطرح گردید ، بجاست بپرسیم فکتور هاییکه میتوانند ترشح این هورمون را در بدن افزایش بخشند کدامها اند ؟

در مواد غذایی ماده ای وجود دارد بنام ارجنین که مصرف آن بعد از یك سلسله تعاملات کیمیاوی در بدن ، باعث ترشح بیشتر هورمون رشد میگردد ، این ماده در انواع کثیری از غنا ها وجود دارد خوراکیهای غنی ازین ماده ، ارجنین ، به ترتیب غنایشان قرار ذیل اند :

نباتات :

۱- یك پیاله مغز تخم کدو دارای ۵.۵۷ گرام ارجنین است .
۲- « « کنجد « ۴.۹۹ « «
۳- « « « بادام « ۴.۵۴ « «
۴- « « « چهارمغز « ۴.۵۲ « «
۵- یك پیاله تخم روز گردان دارای ۲.۴۹ « «
۶- « « آرد گندم « ۰..۸ « «

گوشت :

۱- یك پاو گوشت کبك دری دارای ۲۴ ، ۵ گرام ارجنین است .
۲- « « کبك « ۵.۱۹ « «
۳- فیل مرغ « ۲.۷۴ « «
۴- « مرغ خانگی « ۱.۸۶ « «

در حالیکه ارجنین باعث ترشح بیشتر هورمون رشد میگردد ، بر عکس خوردن زیاد شکر و دیگر شیر ینیجات باعث تخفیف ترشح این هورمون میگردند . بر علاوه ارجنین ، فعالیت جسمی یعنی سپورت که سود های متعددی برای بدن انسان دارد ، نیز ترشح هورمون رشد را بلند میبردو بالاخره روزه یکی از ارکان پنجگانه اسلام نیز باعث ازدیاد ترشح این هورمون مهم بدن میگردد . سالها قبل فهمیده شده بود که روزه در جمله سود های متعدد معنوی و صحی ، سلولهای خاصی از خون مار را که برای دفاع از بدندر مقابل حملات امراض افریده شده تقویه نموده و بیدار نگهمیدارد . اکنون که ین راز واضح گردیده که هورمون رشد باعث تقویه سلولهای دفاعی خون میگردد وروزه نیز باعث ترشح این هورمون میگردد ، گوشه ای از ارتباط بین روزه و تقویت دفاعی بدن واضح تر گردیده است ، بدون شك ذات خبیر یکه «ج» سلولهای مارا خود آفریده ، خوب آگاهست که برای این سلولها وصحت روحی و جسمی بشر چه چیزی مضر و چه چیزی خوب و مفید است .

یکی از ارکان دین مبین اسلام روزه است . روزه بر علاوه منفعتهای متعدد معنوی ایکه دارد یکی از بهترین طرق جلوگیری از چاقی است . حدیث مبارك پیامبر «ص» است که میفرماید :
«صو مو تصحوا ». روزه بگیرید تا صحت شما خوب باشد

سور سهار — توره شپه

د افغانستان د جهاد په اړه په اردو ژبه د لیکل شوی یوی کیسی ژباړه

«پاکستان» ورځپاڼی د ۱۹۹۲ کال د فبروری په ۱٤ نیټی د جمعی ورځی په رنګه مجله کی د افغانستان د جهاد په اړه د سور سهار توره شپه تر سرلیک لاندی یوه لنډه کیسه خپره کړی وه ، موږ د یوی خوا د کیسی د جالبیت او د بلی خوا د افغانستان د جهاد په اړه د پاکستان لیکوالو د تاثر د بیانولو په خاطر هغه راژباړلی چی سره لولویې . «اداره»

د شباب ښخه مالامال گل ، د جذباتو له سپوږمی ښخه ځلیدونکی تندی ، د بریالیتوبونو له ورانگو ښخه ډکی سترگی د بی قراره شونډو یو ځای کیدل او بیا په رپا ، رپا بیرته سره جلا کیدل ، د شمال او شمال لویدیځ ښخه د شباب را پورته شوی بوږ بوکی ، جوش او خروش په سر اخیستی ځوان لکه د گوټی په میرو کی گرځیدونکی یاغی او قوی آس ، هغه هم د دی انقلابی توپان یو یاغی ملگری ؤ چی د په خپل لاس جوړ شو بوتانو پادشاهی بی غوښته ، هغه په منډه خپل کور ته ننوت ، دجذباتو په شفق کی لمبیده ، مور ته یې غږ کړ : .... موری ! .... بیا یې د خوښۍ ډک غږ سره وویل : ... موری ! نن د ظلم توره ماته شوه ، اوس د بیکال له جهیل ښخه را نیولی د سایبریا تر واورو ډ کو ډگرونو پوری ، له «یو کراین» ښخه را نیولی تر سخالین پوری ، د تزار یانو د جبر او استبداد ټولی نښنی له مینځه ولاړی ، نن د ظلم او استعمار د قلمونو غږ د یوه خیرات ټولونکی د مات او گوډو قلمونو په شان اوریدل کیږی ..... موري! واوره . د ظالمانو د زگیرو غږ ، د هغو ماتو پښو ته وگوره .... د شمال پر یخی هوا باندی قسم ! چی د بوراژواطبقی د غوښو ټوټی به والوزوم ، د سټك او لور هر وار به د انصاف روزی لاس ته راوړی د بزگرانو اومزدورانو د هڅو وړه برخه به هم ضایع نشی اوس د لوږی ښخه د وچوشوو بدنونو د ضرورتونو عادلانه سودا به د سټك او لور د وارونو په غاړه وی ..... بس موری ! نن به د ظلم او زیاتی پر تابوت وروستی میخ ټکوهل شی ، ولادیمیر ایلیچ جبر او ظلم ختم کړ ....»

«... زویه ! د زمانی ټولی تیښتی جگی می په ستر گو کی اوری راوړی ، زما سترگی د کر یملین شا او خوا ته یو بل د یوال هم گوری چی د ترزاریانو د تخت ساتونکی دی ، دا یونوی او قوی تزاردی چی د ظلم ، زیاتی او استعماربرښنډه توره ده ، نن بیا د میرو درمی ساتونکی لیوه دی ... دا خلك د انقلابی نظریاتو او د خلکو دحکومت په نقاب اغوستلو سره دانسان تر ټولو زیات په مریتوب او جبر کی نښلوی »

«موری ! ته مرتجع خوښونکی یې ستا خبری او فکر داسی دی لکه د شپی ښخه پاتی شوی دوړی .... کبر ده د ځان سره د دی زړو افکارو کمیس ...» د دی خبرو په ویلو سره هغه ووت تر څو د انقلابیونو په لیکو کی گډون وکړی .... هغه د سره توپان سره یو ځای شو او مور ! خلاصی دروازی خواته گوری ، د هغی له سترگو ښخه د اوښکو کرښی راروانی دی ، پرشونډویي د خپگان گردونه ناست دی یوه ځوانه میرمن د یوه بی وزلی زلمی سره د غاړه غړی کیدلو په فکر کی ده چی د هغی پر سر دا د برسات د واورو په شان سیوری به کله جنوب لویدیځو سیمو باندی وورېږی او د غضبه ډك حالات هغه په ټکنده غرمه کی یواځی پریږدی . تر دی پیښی څو کاله ور وسته د پا خوموف په پلارنی هدیره کی د یوه نوی قبر تر څنگ غم ځپلی ښځی او یوه ماشوم د خاورو نوی ښلی لیده د خاورو ښلی چی خاورو یې اوس د چا د خوږ زوی او د چا زړه ته نږدی خاوند بدن د ځان سره خاوری کاوه . د سپین سری ښځی پر مټ ناڅاپی چا لاس کیښود ، هغه د سیمی گوندی مشرؤ . هغه وویل :

« ... ستا زوی د جنوب غربی اسلامی ریاستونو د ځپلو په خاطر د سره پوځ په لومړیو لیکوکی شامل ؤ ، هغه د انقلاب فرض ادا کړ او ځان یې قربان کړ د انقلاب په خوړولو کی د هغه وینه شریکه شوه ... با عظمته ښځی ! ستا د زړور زوی مړینه د پا خموف کورنی ته د فخر باعث ده ...»

د سپین سری لاسونو هغه له گریوان ښخه ونیوه ښځی چیغی کړی :

« ..... د کوم انقلاب په بریالیتوب کی چی له تاسو سره د جنوب غربی سیمو زړورو خلکو مرسته کړی پر هغوی ظلم ولی کوی ؟..... هغه د دوستی او ملگرتیا دوران څه شو ؟! هغه د آزادی او جمهوریت وعدی څه شوی چی تاسو زموږ ځوانانو ته ورکولی؟!
.... تاسو نن د پا خوموف د کورنی هیلی د سپوږمی په شان په تندر ونیولی ، په تیر وخت کی د پاخوموف

کورنی ځوارلس ځوانان د زړورتیا او غیرت په پېښو کی ووژلی شول'د فخره ډکه مېړنه د هغوی په برخه شوه خو دا قبر زموږ لپاره یو لعنت او شرم دی ... دا دظلم انجام دی !!......» هغی ژړل او په کمزورو لاسونو یې رېا غالبه شوه ، هغه له مرقوع استفاده وکړه خپل گریوان یې خلاص کړ او وتښتېد ، له نزدی سیمو د گیډرو چیغی او د سپیو د غپا غږونه راتلل د قبرونو ترڅنگ د سپورمی تتی رڼا د خزان بادرنو وهلی زېړی پاڼی او یخه هواکی دوه ښځۍ او یو ماشوم ناست ؤ !!

******

وخت د ژوند د کتاب پاڼه واړوله هغه د ۱۹۸۰ کال په یوی ورځی کی د کابل سیند تر غاړه دخاورو پر یو ځلی ناست ؤ او فکر یې کاوه خو اونی مخکی یې هغه دلته راوړی ؤ ، تراورو لاندی شوی د الوتکو د ړنوی کربنه ، پل په پل الوتکی ، او د الوتکو څخه د راوتونکو پو ځیانو لیکی چی دی هم د هغوی له جملی څخنی ؤ ، د راتگ په وخت ورته ویل شوی ؤ چی د نویو جنگی تاکتیکونو د زده کړی په خاطر لېږل کیږی خو دا یواځی جنگی تمرینات نه ؤ دا هر څه ؤ ، جیټ الوتکو به هره ورځ پر وازو نه کول خو دراتگ په وخت به یې بیا شمیر کم و او اکثره به د گولیو ښکارشوی وی او هره ورځ په سلگونو تابوتونه الوتکو کی دشمال خواته سفر کاوه ، ورو ، ورو هر څه معلوم شول د انقلاب وحشت او د تش په نوم جمهوریت وینی توېول په دی وخت کی هم ده پرهمدی مسایلو فکر کاوه ، ضد او نقیضو پېښو هغه لیونی کړ ، په همدی وخت کی ناڅاپه ټوك پری راغلل ، داسی ورته ښکاره شوه چی لکه د کوم غره د زړمری خولی ته ولوید چی مخ یې واړاوه یو حمگه کوونکی ولید ، د توری لنگی څخه لږ لاندی دوړانگو په ځیر سترگی ، توره او سپینه ږیره او خړ کالی د ا د انتقام د اور یوه گولی وه چی پرده راولویده وارخطا شو

خوځان یې سنبال کړ او د ځان د خلاصولو کوښښ یې پیل کړ دهغه ښه کراته زده وه ، ورو ، ورو د سپین ږیری افغان په رویې کی نرمی ښکاره شوه او د ستړی خرگوش په ډول یې اسویلی پیل کړل ، حمله کوونکی افغان د خاورو ځلی ته ډېره وهلی او اسویلی یې کول خو په سترگو کی یې د نفرت اور له مخکی څخه زیات ؤ ، هغه ته داسی ښکاریده چی له منگولو یې نشی خلاصیدی .

«روسی سپیه ! ختزیره !» کنځلی یې پر غوږو ولگیدی ، خو د هغه په شونډو د دوستی او ملگرتیا خندا خوره شوه د هغه تحمل حمله کوونکی افغان حیران کړ او هغه ورو ورو خپله رویه نرموله . بیا یې وپوښتل : له انقلاب څخه د مخه دی څه کار کاوه ؟

« ... مزدور وم ... »

« ... له تاسره نور خلك ؟؟..... »

«زیاتره مزدوران او بزگران ..... »

«دا انقلاب خو د مزدور او بزگرو ملگری دی ...... »

هغه په زړه کی وویل« د نړی تر ټولو غټ دروغ » دا خبره یې ژبی ته رانوړه ، بیا یې ځان سنبال کړ او وی ویل :

« ... دی انقلاب خو تاسو ته زیاتی گټی دروروسولی »

افغان په کرکه او غصه ورته وویل :

« .... بس کړه » هغه له افغان څخه وپوښتل :

« ... څه وپوهیدی ؟ »

« ... دا دی ته ورته دی چی یو نفر خپل سپی ته ویل زما گرانه سپیه دلته راشه ته وږی یې ، دلته راشه چی زه درباندی گرمه غوښه وخورم او بیا هغه د سپی لکی غوڅه کړی او د سپی په خوله کی یې ورکړی او ورته ووایې واخله زما گرانه سپیه ! گرمه ، گرمه غوښه وخوره ، ته وږی یې کنه ..... »

تردی ځایه یې چی وویل افغان د یوی دقیقی لپاره چوپ شو او بیا یې وویل : « .... د تاسو د انقلاب ظلم او ستم تر دی بد دی ... »

چی خبره ختمه شوه په کرکه یې لا ړی ورتو کړی ، د هغه د سینی په توره کوټه کی د پلارنی وراثت کلنو رڼا یې دا زغو په شان رگونو باندی چوسیدله یو څو دقیقی ودرید فکر یې وکړ او بیا یې وویل : «..... ته تللی شی ... » د هغه غږ تت ؤ داسی لکه چی دشپی یوه کمزوره کشتی د سیند له توپان سره مخامخ شی ټوټه شی او سهار وختی یې ټوټی له ساحل سره ټکری خوری او ځگیروی کوی .

افغان پورته شو لنگی یې واخیسته او د غرونو شاته ورك شو .

د افغان ترتیښتی وروسته هغه داسی محسوسه کړه چی له ولویې یو غت بار را کوز شوی وی حیران دریان دریدلی وخو د فکر او سوچونو حملی هغه نیمه مړاندی کړ .

قوماندان انالی تاف ورته غږ کړ :

«ډ گرمن جوزف ! ....پر بدخشان باندی حملی ته ځان چمتو کړه پوځیان دی ستا انتظار کوی ..... »

په ستړیو گامونو د ټولی خواته روان شو ...په دوهمه ورځ د کابل په هوایی ډگر کی ترانسپورتی الوتکو کی د راورو مرو پر یوه تابوت لیکل شوی ؤ « ... ډ گرمن جوزف با خوموف د ٤٣ تعرض غونډ صاحب منصب چی دملی فرض پوره کولو به ترځ کی ووژل شو »

****

د خزان وهلو ونو پاڼی د یوی عمر خوړلی ونی په شان په سلگو ، سلگو ځمکی ته رالویدی ، د پاخوموف د پلارنی هدیری د یوه نوی قبر تر څنگ یوی سپین سری ښځۍ د خاورو نوی ځلی خوا ته لیدل ، چی د دی ځوان او ښایسته زوی یې تر لاندی پروت ؤ ، د ښځی سترگی په اوښکو لمدی وی ، د سر سپین وېښته به یې

په مخ دا وښکو سره غاړه غړی شول اودی به بیرته شاته وغورځول ، په ماتو او گوډوگامونو د هدیری بلې خوا ته یوه زاړه خو د ویاړ من قبر تر څنگ راغله ، د روسیې د دیارلسمی پیړی دی قبر کی چی په پخوانی بڼه جوړ شوی ؤ د پا خوموف کورنی بنسټگر الیگزندر سارتر پاخوموف خښ ؤ دا ورته په گړیدو شوه : ای د پاخوموف کورنی نیکه ! ... د سپین سری ښځی غږ داسی چوړ لیده لکه په کوم پرنگی بنگی سیمی کی کومه چوندبنه ساه ورکوی ، په هدیره کی د ځنگل په شان د گڼورنو سیوری د ژمی یخ او په سلگو ماښام پر دردناک حالت ؤ !

سار تره ! ما د پا خوموف کورنی حالت سینه په سینه را نقل کړی ،

نیکه ! کله چی تا بو الهوس حاکم رواړه اودلته راغلی هیله دی درلوده چی ستا راتلونکی نسل ستا اعلی اقدار د امانت په توگه وساتی او د پر مختللی زمانی سره گام په گام پر مخ لاړ شی ، لکه چی ما د خپل میړه څخه چی د پاخوموف کورنی نه څلوینښتم کس ؤ اوریدلی ؤ چی کله ته دلته راغلی ستا سره یوه د تورو سترگو او تورو وینښتو ځښتنه یوه موږ چی د یوه پوځی لور وه چی ستا د زوروتیا له وجی د بوالهوس حاکم له ښکار څخه بچ شوی وه تا دلته شاړه ځمکه واخیسته او د خپل د راتلونکی نسل بنسټ دی کیښود ، ستاسو دراړو نسلونو تر څلویښتم پشته ستاسو د غوښتنو سره سم ژوند وکړ ، ستا زور او ظلم څخه کرکه کوونکی زوی ستا د غوښتنو ساتونکی و هغه د تزاریانو ظلم پر ځان ومانه ، د قفقاز په جنگ کی د امام شامل «رح» پر خلاف دنه جنگیدلو له وجی پنځه څلوینښتم پاخوموف باندی د اعدام امر وشو خو آخر ده هم ستا هیلی تر خاورو لاندی کړی چی د هغوی دا بد عملونه به ستا روح وځوروی ، د پنځه حلوینښتم قبر څخه تر پنځوهسم قبر پوری پنځه پاخوموفه د کرملین د نویو تزاریانو د نظر یو او فکر ښکار شول او ستا هیلی او غوښتنی د سپوږمی په شان په تندر ونیولی پنځه څلوینښتم پاخوموف د بلشویکیانو د انقلابی لیونتیا ښکار شو شپږ څلوینښتم هم د ستالین د لاس اله وگرځید او خپل انجام ته ورسید هغه د والگا د سیند په غاړه یو ښکاری دکمان په غیښی وویشته هغه دگونددنوروغږیوسره ددی ښکاری زوی تښتاوه او دا جزا په دی خاطر ورکول کیده چی هغه د گوند غږیتوب ته نه حاضریده ، دا دامن ډنهور چیان پر دی مزدور وروليدل په ښتیک یی د هغه غاښونه مات کړل او په لوړ یی سر تری پری کړ خو بلا خره ښکاری هم د دی ظلم بدل واخیست !!

نیکه !! زه تاته څه ووایم ؟ د والگاه د سیند غاړی کله چی د امن د ډندوړ چیانو او مزدورانو د دوستانو داعمل ولید اوبه تکی سری شوی او ځگیروی یی پیل کړل اوس هم کله چی مسافرین د والگا په دی غاړه سفر کوی وېرېږی ...

اوه څلوینښتم «پاخوموف » د سره پوځ سره یو ځای «فنلیند » ته لاړ اوهمالته ووژل شو ، اته څلوینښتم او نه څلوینښتم پاخوموف په پولیند او هنگری کی خپل ژوند له لاسه ورکړ او اوس نیکه !! ستا پنځوسم زوی جوزف پاخوموف د وحشیانو او د افغانانو د مری کولو د قاتلی د لارویانو ملگری شوی ؤ خو څه هم په ازاد و او شنو غرنو کی ژوند له لاسه ورکړ

نیکه !! زه کله فکر کوم ښه شول چی زما په غولی کی کوم نارینه پاتی نشوکه خدای مکړه کوم بل پاخوموف وی بنایی د افغانستان له غرونو څخه وړاندی د کومو آزادو سیمو د خلکو د مریتوب په خاطر به له کوره وتلی وی او لا به ستا هیله د سپوږمی په شان تندر نیولی وی او ستا پر روح به فشار ؤ ، حتمی به هم داسی و خو ... خو نیکه !! کله نا کله می دا فکر په مخه کړی چی کاشکی خپل جوزوف ته می څو کاله وړاندی واده کړی وی که دا کار شوی وی بنایی زما پر غولی به یو بل پا خوموف وی او دا نوی پاخوموف به هغه وخت ځوان شوی وی چی زموږ په خاوره کی د نویو تزاریانو قبرونه د خاورو سره خاوری شوی وی په واقعی توگه د امن هوا په چلیدو شوی وی په رښتنی توگه امن مساوات او خوشحالی ټمینگه شوی وی ، گرانه نیکه !! دا ټول شیان پر تا گران ؤ !!

موږ هر څه د مجاز له میرو غولږو او هغه به بیا د یوکراین څخه تر سخالینه له سایبریا څخه تر تاتاره د امن پیغام ډنهوری غږولی وی او په خپل عمل به یی دا ثابته کړی وی چی واقعاً دامن پیامبر دی .

نیکه !! بیا به ستا پر هیواد دخوشحالی وږمی چلیدلی وی د انسانیت سپوږمی به له تندر څخه خلاصه شوی وی او ستا پر روح به تازه وږمی لگیدلی وی خو سارتره !! بنایی اوس به دا ممکن نه وی ، اوس زه کوم پا خوموف نلرم پر نو یو تزاریانو زما غیر خالی کړی د راتلونکی ژوند لپاره زه کوم امید نلرم .

نیکه !! ما ته ووایه د رښتیا سپوږمی په تر کومی تندر نیولی وی ؟ تر کومه ؟ سپین سری میرمنی د الیگزندر سارتر پا خوموف له قبر څخه سر پورته کړ او په ژړا شوه ، شپه وروو وروو تیریدله ، د قبرونو وحشتناک سوری ، تت سپوږمی د ونو خزان وهلی پاڼی سړه هوا ستړی ژوند او د ځراغ و روستی لمبی په رپا ، رپا وروو ، وروو مړه کیده .

تاکتیک و ستراتیژی در مذاکرات دیپلوماتیک

فصل پنجم

ایجاد اعتمادوفراهم ساختن موجبات توافق

برگزیدن استراتژی ها وتاکتیکهایي که در مذاکره دیپلماتیک به کار می روند ، به درجه ناسازگاری میان اهداف و منافع دو یا چند ملت و میزان پایبندی آن ملل به منافع مزبورو میزان تمایل طرفها برای رسیدن به توافق بستگی دارد . مذاکرات میان دوستان و متحدان بندرت همان ویژگی هایي را دارد که مذاکرات میان حکومتهای متخاصم . در موردی که از قبل در باره اصول یك مسئله توافق قابل ملاحظه ای وجود دارد ، مذاکره ممکن است تنها مشخص کردن جزییات ، یا نتیجه گیری از آن اصول راشامل شود ،

هنگامی که در مارچ ۱۹۷۵ بین شاه سابق ایران وصدام حسین ،معاون آن وقت رئیس جمهور عراق ، تفاهم الجزیره با وساطت حواری بومدین ، رئیس کشورالجزایر ، به امضارسید ، مذاکرات بعدی بین وزرای خارجه دو کشور ظرف مدت کوتاهی که از چند ماه تجاوز نکرده به نتیجه رسید و در جون همان سال سه معاهد به صورت یك مجموعه به هم پیوسته در بغداد امضا شد و ظرف ماهای باقی مانده سال ۱۹۷۵ ، پنج توافق نامه در مورد مسایل مختلف مرزی و مسایل مطروحه فی مابین منتهی به موافقت نامه ۲۶ دسامبر ۱۹۷۵ در خصوص اداره ر ود خانه مرزی مشترک بین دو کشور به امضا رسید . ولی در حالتی که مقاصد به طور اساسی با یکدیگرناسازگار بوده و هر دو طرف بشدت نسبت به موضع گیری های خود پایبند هستند ، مسئله تاثیر بر رفتار، اعمال واهداف از راه چانه زنی بسیار پیچیده می شود . در چنین شرایطی رسیدن به توافق دو مرحله دارد : نخست آنکه یك طرف باید در طرف دیگر احساس نیاز به نوعی توافق رابه وجود آورد وی باید به طرف دیگر بقوولاند که هرتوافق یا راه حلی بر موضع گیری های ناسازگار و یا عدم توافق موجود مرجح است یا برعکس ، عواقب عدم توفق برای او نامطلوبتر از نتایج توافق می باشد . مرحله دوم آنکه به محض آنکه دوطرف در آستانه توافق برای رسیدن به موافقت نامه قرار بگیرند ، باید در مورد شرایط مشخص موافقت نهایي چانه بزنند .

از دو مرحله مزبور ، در حالتی که پایبندی به هدفهای ناسازکار شدید باشد ، طی مرحله نخست احتمالاً مشکلتر خواهد بود. تا زمانی که یك طرف و یا هر دو طرف باور دارند که می توانند از راههایي غیر از مذاکره به هدفهای خود دست یابند ، مذاکرات دیپلماتیك نمی توانند به راه حل بینجامد . درمذاکرات پس از جنگ جهانی دوم راجع به وضعیت اتریش ، پیش از آنکه موافقت حاصل شود ، مذاکره کنندگان غربی و شوروی ۴۰۰ بار با یکدیگر ملاقات کردندو روشن بود که جز در چند ملاقات آخر ، حکومت شوروی مایل نبود به توافق برسد یااهدافش رانسبت به اتریش تغییر دهد بلکه تمایل داشت ان کشوررا در وضعیت اشغال نگاه دارد . در حقیقت مذاکرات برای چانه زدن و معامله نبود ، بلکه جنبه دفع الوقت را داشت . بحث در مورد موضوعات دیگر، تبلیغ و ایجاد این تاثیر بود که مذاکرات جدی در جریان است . تنها پس از آنکه تحولات دیگری در حکومت شوروی و در سرتاسراروپا رخ داد ، حکومت شوروی با وجود اعتراضهای مولوتف وزیرامورخارجه این کشورتصمیم گرفت که برای مسئله اتریش به راه حل دایم دست یابد . به محض آنکه تصمیم مزبور اتخاذ گردید ، مذاکرات در عرض چند هفته به اتمام رسید .

ایجاد اعتماد

ایجاد اعتماد یکی از عواملی موثر در یك مذاکره موفقیت آمیز است .

کنت راش معاون وزیر خارجه و نماینده امریکا در مورد مذاکره مربوط به معاهده چهار جانبه مربوط به برلن می گوید . ،

ادامه دارد

«خالص» صاحب ولي د شعر په ژبه غږيږي ...!

پدي وروستيو کي مولوي محمد يونس «خالص» صاحب د «پوچ کارتوس» تر عنوان لاندي يو شعر ويلي چي د لومړي ځل لپاره په پاکستانيږ پښتو ورځپاڼه «وحدت» کي خپور شو.بيا بيلا بيلو نوروجهادي خپرونو هم خپور کړ.

نومړي شعر ډير ژر په پيښور کي مشهور شو او ډيري پوښتني يي را پيدا کړي. خالص صاحب يو ځل په ۱۳۶۳ کال هم د « نبي خيل » په نامه د « وهي په بړه » تر سر ليک لاندي يو جنجالي شعر ويلي و. دا داسي وخت و چي د محترم مولوي خالص اړيکي له اوه- ګوني اتحاد په تيره د اتحاد له رئيس « سياف » صاحب سره خرابي شوي وي ، د ده هماغه شعر تر اوسني هم ډير زيات او ژر مشهور شو.د دي علت دا و چي يو خو په هغه وخت کي اعتراضي مسايل په مطبوعاتو کي کم راتلل ، نو د مولوي صاحب له انتقادي شعر سره ډيره دلچسپي پيدا شوه.بل دا چي هغه وخت د تنظيمونو د رهبرانو خبري تر نن اهميت ډير درلود - د خالص صاحب د هغه شعر په اقتفا ډير شعرونه وويل شول چي بالاخره د يوي شعري مجموعي په بڼه چاپ شول .

د نومړي د هغه شعر هدف تقريباً اتفاقاً «سياف » صاحب بلل کيده.د« وهي په بړه» وروستي فرد داسي و :

پام کړه « نبي خيله » چي تا هم په بړه نکړي

رهبر چي شي بيلاري رهبران وهي په بړه !

د خالص صاحب د پوچ کارتوس شعر چي لاندي به يي بشپړ ولولي د پخواني په شان ډير واضح نه دي ځوک وايي چي هغه په دي اواخرو کي خپلي «مدرسي» او «صحي» څانګي په دي خبره لهٔ انتقالي حکومت ته څخه بيلي کړي چي په «نومړي حکومت »! کي د امريکا- يانو لاس وهني او نفوذ ډير زيات شوي دي . له دي اقدام سره د شعردويلو د وخت نزديوالي دا نظر را پيدا کوي چي د خالص صاحب هدف صبغت الله مجددي صاحب دي .

ځوک وايي چي نه . خپل (البته فقط په نامه , خپل نور هيڅ راز اداري او تشکيلاتي اړيکي ورسره نلري) يو قوماندان يي مقصد دي چي بيل دفتر، امکانات،خپروني اوارتباطات لري .

خو زموږ په نظر «خالص » صاحب چي يو ځوک دومره بد او خطر ناک ګڼي بايد په څرګند و الفاظو يي واضح کړي او دا په ده باندي دولس حق دي چي هغه بايد خلک په اشتباه کي وانه چوي بلکي واقعيتونه ورته په صريحه ژبه او ګو يا لهجه بيان کړي.د شعر او استعاري ژبي کارول هغه وخت تر يوه حده موجه وي چي د حاکمو طاقتونو د اختناق وحشتناکي منګولي قلمونه او ستوني په مرګ تهديدوي . موږ فکر کوو چي دا ستونزه په پيښور کي کمه ده او د خالص صاحب لپاره چي په خپله د حاکمه قوت يوه برخه ده،د دي ګواښ اصلاً پوښتنه نه پيدا کيږي نو دي ولي د شعر او استعاري په ژبه خبري کوي ؟

دا دي د خالص صاحب شعر:

پوچ کارتوس

ما وي چه باز دي خو ټپوس وختو

سري تري جوړ نه شو خروس وختو

د زړه په وينه مي روزنه ورکړه

چه زړه تري جوړ کړم خوټپوس وختو

ډير مي تولنه کښبي دروند وتللو

اخر کښبي سپک انډي د بوس وختو

په جهادي هڅه يي لوبي وکړي

خدايګو دروس څخه چړوس وختو

د امريکني په ډالر ونخښيده

د خداي د مرستي نه مايوس وختو

مونږ وي د ده له بخته مخکښبي به ځو

خو دي په خپله کښبي منحوس وختو

'' خالص'' د بل چا نه ګيله نه لري

پوچ يي د خپل جيبه کارتوس وختو

نبوي لارښوونې

له حضرت ابو هريره «رض» څخه روايت دی چې
رسول الله «ص» وفرمایل : د بني آدم د هر
عمل اجر څوچنده زیاتیدای شي او د نیکی بیا
له لس چنده څخه تر اوه سوه چنده پورې زيات
اجر دی پرته له روژې چې الله «ج»
فرمايي بيشکه چې روژه يوازې زما له پاره ده
او زه به يې بدله ورکوم ځکه چې زما بنده
زما د رضا لپاره خوراک او څښاک او نفسي
غوښتنې پريږدي . د روژه ماتي لپاره دوې
خوښي دي يوه د روژه ماتي په وخت او بله له
خپل پروردګار سره د ملاقات په وخت او بې
شکه چې د روژه ماتي د خولې بوی د لوی
الله «ج» په وړاندې د موشکو له بوی څخه
هم سپيڅلې اوغوره دی .

« متفق عليه »



HEZB ISLAMI
fghanistan